# د اقليمي بدلون څخه زيان مننه او ورسره جوړښت



د تخنيکي ارزونې رپوټ

# د اقلیمي بدلون څخه زیان مننه او ورسره جوړښت

## د تخنیکي ارزونې رپوټ

لیکوال: ډېرک سنېمن
بیا کتنه او تصحیح: محمد منیب نوري

اداره ملی حفاظت محیط زیست - د چاپېریال ساتنې ملي اداره
NATIONAL ENVIRONMENTAL PROTECTION AGENCY
UN environment programme
gef

# منځپانګه


| | |
|---|---|
| لنډيزونه | ۱ |
| د مطالبو لنډيز | ۲ |
| ۱. سريزه | ۸ |
| ۲. شاليد | ۹ |
| ۲.۱ چاپېريالي وضعيت | ۹ |
| ۲.۲ ډيموګرافيکي وضعيت | ۹ |
| ۲.۳ اقتصادي وضعيت | ۱۰ |
| ۳. د اقليم بدلون وړاندوينې | ۱۱ |
| ۳.۱ د اقليم وروستي ميلانونه | ۱۱ |
| ۳.۲ د اقليم بدلون راتلونکې وړاندوينې | ۱۱ |
| ۳.۳ د اقليم بدلون څخه راولاړ ګواښونه | ۱۳ |
| ۴. د اقليم بدلون سکټوري اغېزې | ۱۷ |
| ۴.۱ اوبه | ۱۸ |
| ۴.۲ کرنه | ۱۹ |
| ۴.۳ طبيعي زېرمې | ۲۰ |
| ۴.۴ جوړ شوی چاپېريال | ۲۱ |
| ۴.۵ روغتيا | ۲۲ |
| ۵. د جوړښت پلانونه او ستراتېژۍ | ۲۳ |
| ۵.۱ د جوړښت د عمل ملي پروګرام | ۲۳ |
| ۵.۲ د اقليم بدلون ستراتيژي او د عمل پلان/د جوړښت ملي پلان | ۲۴ |
| ۵.۳ ملي ټاکل شوې موخې | ۲۵ |
| ۵.۴ د ټکنالوژۍ اړتياوو ارزونه | ۲۶ |
| ۶. د مالي مرستو سرچينې | ۲۷ |
| ۶.۱ نړيوالې چاپېريالي آسانتياوې | ۲۷ |
| ۶.۲ د اقليم بدلون سره د جوړښت بسپنه | ۲۹ |
| ۶.۳ د زرغون اقليم صندوق | ۲۹ |
| ۶.۴ د لږو کرنيزو څمکو لرونکو بزګرانو لپاره د جوړښت پروګرام | ۳۰ |
| ۶.۵ د اقليم نړيواله پنځونه | ۳۰ |
| ۶.۶ دولتي لګښتونه | ۳۱ |
| ۶.۷ دوه اړخيز بسپنه ورکوونکي | ۳۱ |
| ۶.۸ څو اړخيز پراختيايي بانکونه | ۳۱ |
| ۷. د جوړښت وړانديز شوې کړنې | ۳۲ |
| ۷.۱ د اقليم بدلون پر وړاندې د اوبو انعطاف منونکو سرچينو هر اړخيز مديريت | ۳۲ |
| ۷.۲ د پېښو د ګواښونو راکمول | ۳۶ |
| ۷.۳ د اقليم بدلون پر وړاندې مقاومه کرنه | ۳۹ |
| ۷.۴ د اقليم بدلون پر وړاندې د طبيعي سرچينو د انعطاف منونکې مديريت لپاره د ايکوسيستمونو پر بنسټ جوړښت | ۴۳ |
| ۷.۵ په ښارونو کې له اقليم بدلون سره جوړښت او انساني روغتيا | ۴۵ |
| ۸. د حل لاره | ۴۹ |
| ۸.۱ له لومړيتوبونو سره د مالي مرسته کوونکو ميکانېزمونو سمون | ۴۹ |
| ۸.۲ د ملي پلي کوونکو بنسټونو لپاره د اعتبارليکونو ترلاسه کول | ۵۰ |
| ۸.۳ د ملي بنسټونو وړتياوو لوړول | ۵۰ |

# لنډیزونه

| | |
|---|---|
| ACCSAP | د افغانستان د اقلیم بدلون ستراتیژي او د عمل پلان |
| ANDMA | د اقلیم بدلون سره د جوړښت بسپنه |
| ASAP | د افغانستان د پېښو سره د مبارزې د چمتو والي اداره |
| ASDRR | د پېښو ګواښونو د راکمولو لپاره د افغانستان ستراتیژي |
| CSA | د اقلیم سره سازګاره کرنه |
| DRR | د پېښو د ګواښونو راکمول |
| EbA | د ایکوسیستمونو پر بنسټ جوړښت |
| EWS | له وړاندې خبراوي سیستمونه |
| GCF | د زرغون اقلیم صندوق |
| GEF | نړیوالې چاپېریالي آسانتیاوې |
| IFAD | د کرنې ودې لپاره نړیوال صندوق |
| IKI | د اقلیم نړیواله پنځونه (ابتکار) |
| IWRM | د اوبو زېرمو هراړخیز مدیریت |
| LDCF | د تر ټولو لږ وده کوونکو هېوادونو صندوق |
| MAIL | د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت |
| MDBs | څو اړخیز پراختیايي بانکونه |
| MRRD | د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت |
| NAP | د جوړښت ملي پلان |
| NAPA | د جوړښت د عمل ملي پروګرام |
| NDC | ملي ټاکل شوې موخې |
| NEPA | د چاپېریال ساتنې ملي اداره |
| RCP | د بېلګه ایز تمرکز مسیر |
| SCCF | د اقلیم بدلون ځانګړی صندوق |
| TNA | د ټکنالوژۍ اړتیاوو ارزوونه |
| UNEP | د ملګرو ملتونو د چاپېریال پروګرام |
| UNFCCC | د اقلیم بدلون په هکله د ملګرو ملتونو چوکاټ کنوانسیون |

## د مطالبو لنډیز

په کرنې باندې د خلکو زیاته اتکاء، لړزانده چاپېریال، کمزورې ټولنیزه-اقتصادي وده، د طبیعي پېښو د تکرارېږو لوړه فریکونسي او له څلورو لسیزو څخه زیاتو جګړو، افغانستان د اقلیم بدلون په وړاندې زیان منونکی کړی دی. په پراخه کچه د جوړښت (سازګارۍ) کړنو ته اړتیا لیدل کېږي ترڅو د اقلیم بدلون منفي اغېزې لکه د ژوندانه او کورنیو له لاسه ورکول، او همدا رنګه د بېخ بنسټونو او نورو اقتصادي پانګو پر وړاندې ګواښونه راټیټ کړي. د دې راپور د چمتو کولو موخه د لاندې موضوعاتو څېړل ده:

- په مهمو سکټورونو باندې د اقلیم بدلون عمده اغېزې
- د اقلیم بدلون سره د جوړښت لپاره د مالي مرستو برابرولو احتمالي سرچینې؛ او
- د ملي ستراتېژیو او پلانونو پر بنسټ د جوړښت کړنو لپاره وړاندیز شوي لومړیتوبونه.

د اقلیم بدلون خوشبینانه او بدبینانه سناریو ګانو ښیلګې تر ۲۱۰۰ کال پورې د سانتي ګرېډ د ۲.۶ څخه تر ۶.۳ درجو پورې د تودوخې لوړېدو وړاندوینه کوي. دا د ورته مودې لپاره د نړیوالې تودوخې متوقعه زیاتوالي څخه پورته ده. د تودوخې په وړاندوینه شوې لوړېدنه کې ډېر سیمه ایز توپیرونه شتون لري، په دې معنا چې په لوړو او مرتفعو سیمو کې به د تودوخه درجه ډېره لوړه شي. د ورته مودې لپاره د اورښت وړاندوینې، د اورښت په کلني اوسط کې د هېواد لپاره کوم د پام وړ بدلون نه ښیي. که څه هم، په هېواد کې سیمه ایز توپیرونه زیات دي، او همدا رنګه په موسمي اورښتونو کې د بدلونونو ټمه هم کېږي.

افغانستان له مکررو ګواښونو سره مخامخ دی چې د مرګ ژوبلو، ویجاړیو، معیشت او د پانګې له منځه تللو سبب کیږي. ټمه ده چې اقلیم بدلون به د داسې ګواښونو تکرار او شدت زیات کړي. همدا رنګه په مهمو سکټورونو لکه اوبو، کرنې، طبیعي زېرمو، جوړ شوي/غیر طبیعي چاپېریال او انساني روغتیا باندې هم اغېزې ولري.

په داسې حال کې چې په افغانستان کې د کس پرسر کافي اوبه شتون لري، خو له ۱۹۶۰ لسیزې را په دېخوا دا اوبه مخ په کمېدو دي. برسېره پردې، د اوبو دغه زېرمې په ټول هېواد کې په یو شکل نه دي ویشل شوي چې ځینې سیمې د اوبو له کموالي سره مخامخ دي. د اقلیم بدلون به د اوبو دا کموالی د لاندې لاملونو په پام کې نیولو سره لا پسې ډېر کړي:

۱) د تودوخې درجې لوړېدو په پایله کې پر اوبو فشار

۲) د کنګلونو او له واورو ډکو غرونو چټک ویلې کېدل

۳) د کنګلونو او واورو پوښښ له منځه تلل. همدا رنګه د واورو چټک ویلې/اوبه کیدل به د پسرلي او دوبي په موسمونو کې د سېلاب ګواښ زیات کړي.

پر کرنه باندې د ډېر شمېر افغانانو تکیه او پر کرنیزو پیداوارو د اقلیم بدلون اغېزې به د خوړو په خوندیتوب او بیوزلۍ باندې هم سیورې وغورځوي. پرله پسې وچکالۍ میلیونونه افغانان اغېزمن کوي او ټمه کیږي چې تر ۳ میلیارده امریکایي ډالرو مالي زیانونه را منځته کړي. د پسرلي په موسم کې د اورښت اټکل شوی کمی به د للمي کرکیلې د ودې مهمه مرحله اغېزمنه کړي. د تودوخې درجې زیاتوالي له امله به د کرنیزو ناروغیو خپرېدل زیات او کرنیز پیداوار لا کم شي، په داسې حال کې چې پر کرنیزو ځمکو سېلابونه به د حاصلاتو د له منځه تللو سبب شي.

د افغانستان ایکوسیستمونه خلکو ته داسې توکي او خدمتونه برابروي چې د کلیوالي ژوندانه بنسټ بلل کېږي. په دې کې د څارویو خواړه، د سون توکي، طبي بوټي، ودانیز مواد او زړي شامل دي. څرنګه چې د افغانستان ډېری ایکوسیستمونه خورا زیات تخریب شوي دي، د اقلیم بدلون به یې لا پسې خراب کړي. د تودوخې د درجې لوړوالی او د اورښتونو د بڼې بدلون به د څړځایونو حاصلخیزي کمه او نباتي پوښښ به د تل لپاره بدل کړي. همدا رنګه تخریب شوي ایکو سیستمونه د توږېدنې، سېلابونو، ایمالونو (برفکوچونو) او ځمکې ښویېدنو له ګواښونو سره مخامخ دي. د ایکوسیستمونو دغه ګواښونه د هغو ټولنو ژوند له ګواښ سره مخامخ کوي چې پر طبیعي زېرمو باندې تکیه لري.

په افغانستان کې زېربناوې (بېخ بنسټونه) او جوړشوی (غیرطبیعي) چاپېریال د څو لسیزو پرله پسې جګړو له امله ډېر زیانمن شوی دی. د انرژۍ کورنی تولید، د اوبیزې برېښنا تولیدولو د اوچتې وړتیا سره سره ډېر کم دی. د هېواد ډېری سړکونه په بد حالت کې دي کوم چې خدمتونو او مارکېټونو ته د لاسرسي مخه نیسي. په ښارونو کې د هستوګنې چټک بهیر یو لړ ستونزې لکه په خدمتونو کې ځنډ او خنډ، د وګړو ګڼه ګوڼه، ښاري بیوزلي او د اوسېدلو کمزورې وضعیت، را منځته کړې دي. د اقلیم بدلون به د جوړ

شوي چاپېریال په ټولو اړخونو باندې منفي اغېزې وکړي. د اوبو بې اعتباره شتون او د سېلابونو بیا بیا راتلل به د اوبیزې برېښنا تولیدول اغېزمن کړي. همدارنګه سېلابونه کولای شي چې سړکونه، پلونه او د ټرانسپورټ نور برخ بنسټونه (زېربناوې) ویجاړ کړي چې خدمتونو او مارکیټونو ته لاسرسی به نور هم له خنډ سره مخ کړي. د ځکمې لاندې مخ په کمېدو اوبه به ښاري اوبو رسول اغېزمن کړي، په داسې حال کې چې سېلابونه به ودانۍ (په ځانګړې توګه رسمي هستوګنځایونه) او نور برخ بنسټونه لکه صنعتي او تولیدي آسانتیاوې ویجاړ کړي. دا به بیکاري زیاته او د بیوزلۍ وضعیت لا پسې خراب کړي.

د افغانستان خلک روغتیایي خدمتونو ته کمزوری لاسرسی او همدا رنګه د اوبو سرچینو او د روغتیا ساتنې آسانتیاوو ته محدود لاسرس لري. دغه حقیقتونه د وګړو د ژوند د اوسط راټیټېدلو، خوارځواکۍ او د ناروغیو د خپریدلولامل کیدای شي. د اقلیم بدلون به د تودوخې درجې لوړوالي او د اورښت په بڼه کې د بدلون له لارې روغتیایي لاسته راوړنې اغېزمنې کړي چې کیدای شي د ساري ناروغیو لکه کولرا، لوېې تبې، ملاریا او د ګوزڼ خپریدل، زیات شي. د خوړو پر خوندیتوب د اقلیم بدلون اغېزې کیدای شې مزمنه خوارځواکي رامنځ ته کړي. سربېره پردې، د تودوخې درجې لوړوالی به د تودوخې څپو را منځته کېدو سبب وګرځي چې ماشومان، د پاخه عمر او کمزوري خلک له ګواښ سره مخامخ کوي. دا به د اوبو لږ شتون په سبب پر اوبو باندې فشار زیات کړي.

د اقلیم بدلون اغېزو ته د رسیدنې په موخه، افغانستان د اقلیم بدلون یو شمېر ستراتیژۍ او پلانونه جوړ کړي دي. د دې پلانونو له ډلې د جوړښت د عمل ملي پروګرام، د افغانستان د اقلیم بدلون ستراتیژي او د عمل پلان، د سازګارۍ ملي پلان، ملي ټاکل شوې موخې او د ټکنالوژۍ اړتیاوو ارزوونه شامل دي. نوموړي پلانونه او اسناد د اقلیم بدلون متوقعه اغېزې او ورته د رسېدنې لپاره لومړیتوبونه په نښه کوي. د جوړښت یو شمېر وړاندیز شوې کړنې چې د دغو پلانونو ترمنځ ګډې دي په لاندې ډول دي:

- د آبرېزو او د اوبو زېرمو غوره مدیریت
- د اقلیم بدلون پروړاندې انعطاف پذیر/مقاوم کرنیز تخنیکونه، لکه کرنیزه ځنګلداري، پرمختللې اوبه لګونه، د اوبو لګولو د دوديزو سیستمونو بیا رغول او د اقلیم په وړاندی مقاوم محصولات
- د ځنګلونو، څړځایونو او د نورو طبیعي ایکوسیستمونو سالم مدیریت
- د ګواښونو راکمول، تیاری او ځواب ویل
- اقلیمي معلومات او له وړاندې خبراوي سیستمونه
- اصلاح شوې روغتیا پالنه او په اقلیم پورې د اړوندو ناروغیو مدیریت کول
- د اقلیم بدلون په وړاندې مقاوم کلیوالي او ښاري برخ بنسټونه
- د اقلیم بدلون په هکله روزنه او د وړتیاوو جوړول

د افغانستان دولت د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۵ کلونو ترمنځ د اقلیم بدلون په برخه کې نیږدې ۱۰۰ میلیونه امریکایي ډالره پانګونه کړې ده، خو د اقلیم بدلون سره د مبارزې لپاره د کلنۍ اړتیا (۱۰۷۸.۵ میلیونو امریکایي ډالرو) په پرتله دا پیسې کافي نه دي. څرنګه چې عامه لګښتونه په ټولیز ډول د بسپنه ورکوونکو په مرستو باندې ولاړ دي، افغانستان به د اقلیمي کړنو لپاره د پیسو دغه کسر له څو اړخیزو مالي مرسته کوونکو او د مرستو نورو میکانېزمونو څخه ترلاسه کولو ته اړتیا ولري.

نړیوالې چاپېریالي آسانتیاوې (GEF) ۳ صندوقونه اداره کوي چې کیدای شي د اقلیم بدلون سره د جوړښت په موخه د مرستې لپاره وکارول شي. د تر ټولو لږ وده کوونکو هېوادونو صندوق (LDCF) په تر ټولو لږه وده کوونکو هېوادونو کې د اقلیم بدلون سره د جوړښت لپاره ځانګړی شوی دی. د اقلیم بدلون ځانګړی صندوق (SCCF) هم د اقلیم په بدلون باندې تمرکز کوي خو د ټولو مخ پر وده هېوادونو لپاره پرانیستی دی. د GEF وجهي صندوق چاپېریالي پروژې لکه د ژوند بنو ساتنه، د ځمکې تلپاتې مدیریت او د اقلیم بدلون راکمول او هغه پروژې چې له سازګارۍ سره ګډ-منفعت لرونکې وي، تمویلوي. افغانستان د GEF مالي مرستو ته په بریالي ډول لاسرسی پیدا کړی دی او د کرنې او طبیعي زېرمو په سکټورونو کې سازګارۍ لپاره باید دې کار ته دوام ورکړي.

د جوړښت بسپنه (AF) هم په مخ پر وده هېوادونو کې د جوړښت له پروژو سره مالي مرستې کوي. افغانستان د جوړښت بسپنې لپاره یو اړوند ملي بنسټ راجستر کړی دی او د دې راپور د چمتو کولو تر مودې پورې یې یوه پروژه د ۹.۴ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت ترلاسه کړې ده. نوموړې بسپنه باید د اقلیم بدلون پر وړاندې د انعطاف منونکې کرنې، د ټولنې پر کچه د جوړښت او د ایکوسیستمونو پر بنسټ د جوړښت پروژو د لاسته راوړلو لپاره باید د یوه اوچت لومړیتوب به سترګه وکتل شي.

د زرغون اقلیم صندوق هم د جوړښت او هم د شین کوریزو ګازونو د خپرېدو راکمولو لپاره لویې پروژې تمویلوي. افغانستان تر اوسه له نوموړي صندوق څخه د راکمولو د یوې پروژې منظوري ترلاسه کړې ده خو تر اوسه پورې د جوړښت کومه پروژه نه ده منظور شوې. زرغون اقلیم صندوق ته لاسرسی باید د یوه اوچت لومړیتوب په توګه په پام کې ونیول شي خو د پروپوزلونو د چمتو کولو لپاره د کافي/پوره وړتیاوو په نشتون کې به له نوموړي صندوق څخه د پروژو ترلاسه کول یو څه ستونزمن وي. دغه وړتیا جوړونه باید د یوې مهمې اړتیا په توګه په پام کې ونیول شي.

د لږو کرنیزو څمکو خاوندانو لپاره د جوړښت پروګرام (ASAP) د لږو کرنیزو ځمکو لرونکو بزګرانو ته د اقلیم مالي مرسته ورکوي او دا بسپنه د کرنیزې ودې لپاره د نړیوال صندوق د جاري پانګونې تکمیل کوونکې ده. په افغانستان کې د لږو کرنیزو ځمکو لرونکو بزګرانو لوی شمېر له نوموړې بسپنې څخه د اقلیم بدلون سره د جوړښت لپاره د پانګې زیاتول توجیه کوي او دا چاره باید د کرنیزې ودې لپاره نړیوال صندوق سره د دولت ښکېلتیا له لارې تر سره شي ترڅو راتلونکې پروژې تنظیم کړي.

د نړیواله پنځونه (IKI) په مختلفو چاپېریالي مسئلو لکه د اقلیم بدلون او د جوړښت ملي لومړیتوبونو د پلي کولو له پروژو سره مالي مرسته کوي. د نړیوالې پنځونې ته د پروپوزلونو په تیارولو کې باید یو شمېر موضوعاتو ته لکه د ایکوسیستمونو او ټولنو په کچه جوړښت او همدا رنګه د اقلیم بدلون پالیسیو، ستراتیژیو او پلانونو چمتو کولو ته لومړیتوب ورکړل شي.

د افغانستان دولت د بېلابېلو وزارتونو او ادارو له لارې د اقلیم بدلون په برخه کې د زرګونو پروژو په پلي کولو سره په کلنۍ توګه په میلیونونو ډالر پانګونه کړې ده. دولتي پانګونه به په نیږدې راتلونکې کې د اقلیم بدلون لپاره د مالي سرچینو تر ټولو مهمه سرچینه وي ځکه چې له نړیوالو سرچینو څخه د لویو پروژو ترلاسه کول ډېر وخت نیسي. د جوړښت په برخه کې د دولت د پانګونې مرتب کول به څو اړخیزو سرچینو ته په راتلونکي کې لاسرسی آسان کړي او د اغېزمنتیا په زیاتولو سره د دغسې پروژو لپاره ګډه پانګه برابر کړي. په پایله کې، د اقلیم بدلون سره د جوړښت لپاره غوره پلان جوړونه باید د دولت په لومړیتوبونو کې راوستل شي.

افغانستان تر ډېره پر بهرنیو مرستو باندې ولاړ دی، چې بېلابېل بسپنه ورکوونکي د دولت، ملګرو ملتونو ادارو او نورو بنسټونو له لارې د اقلیم بدلون سره د جوړښت، خوړو خوندیتوب، کرنې، د انعطاف پذیرۍ رامنځته کولو او د پېښو د ګواښونو راکمولو لپاره مرستې ورکوي. دغه مرستې د جوړښت په برخه کې د پانګونې زیاتولو لپاره مهم فرصتونه دي خو د مرسته ورکوونکو سره په ښکېلتیا او د هغوی هڅولو او قانع کولو پورې اړه لري.

څو اړخیز پراختیایي بانکونه (MDBS) د هغو سکټورونو لپاره چې د اقلیم بدلون له ګواښ سره مخامخ وي، د پام وړ مالي مرستې برابروي. دغه بانکونه کولای شي چې د اقلیم بدلون ستراتیژیو د چمتو کولو لپاره د آسانتیاوو برابرولو تر څنګ د ملي لومړیتوبونو پر بنسټ له تحولي پروژو سره ټولنیزې-اقتصادي ګټې ولري، مرسته وکړي. که چیرې افغانستان وکولای شي چې اقلیمي پانګو ته د لاسرسي ټیټو وړتیاوو، د ټیټې کچې ګډې پانګونې او د اقتصادي ګټو په هکله د جوړښت له محدود لید څخه بریالې و وزی، و به کولای شي چې د څو اړخیزو پراختیایي بانکونو څخه د جوړښت لپاره د پام وړ پروژو ته لاسرسی پیدا کړي.

په افغانستان کې د اقلیم بدلون عمده ګواښونه له سېلابونو او وچکالیو څخه عبارت دي. پر همدې بنسټ، د خلکو او کورنیو ژوندانه ته د ګواښونو د راکمولو په موخه، د اقلیم بدلون پر وړاندې انعطاف منونکې د اوبو سرچینو هر اړخیز مدیریت تر ټولو اوچت لومړیتوب دی. په دې برخه کې د اوبو سرچینو د مدیریت لپاره باید دواړه ملموس (بېخ بنسټیز) او غیرملموس (پالیسي او اداري) غوراوي شامل وي. لویې پروژې به د زرغون اقلیم صندوق او د څو اړخیزو پراختیایي بانکونو له خوا د پانګې برابرولو لپاره مناسبې وي، د دولت له خوا به د پروژې له بشپړېدو وروسته لګښتونه لکه د عملیاتو او ساتنې پلانونو لپاره اضافي پانګه برابره شي. د اقلیم بدلون پر وړاندې انعطاف منونکې د اوبو زېرمو په هر اړخیز مدیریت کې لاندیني موارد شامل دي:

- د راتلونکي اقلیمي حالاتو سره سم د اوبو کچې د اټکل لپاره هایدرولوژیکي څېړنې
- د اقلیم بدلون پر وړاندې انعطاف منونکي اوبو زېرمو د هر اړخیز مدیریت لپاره د بنسټیزو او پلان جوړونې میکانېزمونه
- د اوبو ذخیره کولو او وېشلو لپاره د اقلیم بدلون پر وړاندې مقاوم بېخ بنسټونه

له تاریخي اړخه، په افغانستان کې د ګواښونو اغېزو ته رسېدنه پر ځواب ویلو او بیا رغولو باندې متمرکزه ده. دا په داسې حال کې ده چې د جوړښت کرنې باید له اقلیم څخه د راولاړو ګواښونو، په ځانګړې توګه په کلیوالي ټولنو کې د پېښو ګواښونو د راکمولو لپاره احتیاطي او د مخنیوي تدابیر راونغاړي. په اغېزمن ډول د اقلیم بدلون څخه د راولاړو ګواښونو او له هغوی څخه د زیان منتې

د راکمولو لپاره باید دواړه ملموسې او غیر ملموسې کړنې ترسره شي. نوموړې پروژې کیدای شي چې د لویو او کوچنیو پروژو یو ترکیب وي چې د بېلابېلو بسپنو له خوا د مالي مرستو لپاره مناسبې دي. د کرنې، اوبو او هوا پېژندنې شبکې د پراختیا او له وړاندې خبراوي سیستمونو لپاره پراخه پانګونې ته اړتیا شته. د ټولنو په کچه کړنو لپاره پانګه کیدای شي له کوچنیو څو اړخیزو او دوه اړخیزو بسپنه ورکوونکو او همدا رنګه د دولت له عادي لګښتونو څخه تر لاسه کړل شي. په داسې حال کې چې روانې پراختیایي او بشردوستانه کړنې هم کیدای شي د پېښو د ګواښونو راکمولو په فعالیتونو کې ورګډې کړل شي. د پېښو ګواښونو راکمولو په برخه کې لومړیتوبونه عبارت دي له:

- د پېښو د ګواښونو ارزونه او پلان جوړونه
- د اقلیم څارنه او له وړاندې خبراوي سیستمونه
- د ګواښونو د مخنیوي او راکمولو کړنې

په کرنه باندې د ډېر شمېر افغان کورنیو د اتکاء پر سبب، د اقلیم بدلون پر وړاندې مقاومه کرنه باید په سیمه ایزه کچه د انعطاف منتې لوړولو لپاره د یو لومړیتوب په توګه په پام کې ونیول شي. د اقلیم بدلون پر وړاندې په مقاومه کرنه کې د تولید زیاتولو او د اوبو په لګښت کې د سپما په موخه ملموسې، او همدا رنګه غیر ملموسې کړنې لکه د اقلیم په وړاندې د مقاومو محصولاتو ترویج په موخه د کرنې ترویجي خدمتونو او څېړنو شه کول شامل دي. د اقلیم پر وړاندې مقاومې کرنې لپاره ډېر شمېر د مالي مرستو فرصتونه شتون لري. کوچنۍ مالي مرستې د ټولنو په سطحه د اقلیم په وړاندې د مقاومې کرنې لپاره د روښونو حمایت کوي په داسې حال کې چې ښخ بنسټیزې پروژې د پراختیایي بانکونو او لویو څو اړخیزو صندوقونو مالي مرستو لپاره مناسبې دي. د اقلیم بدلون پر وړاندې مقاومې کرنې لپاره لومړیتوبونه عبارت دي له:

- د مالدارۍ غوره مدیریت
- د کرنې لپاره د اوبو په کارونه کې سپما
- د اقلیم بدلون سره د سازګارو کرنیزو توکو کښت
- څېړنې، ترویج او نور کرنیز خدمتونه

د ایکوسیستمونو پر کچه جوړښت، د ژوند بنو بدلون ساتنه او د ایکوسیستمونو مدیریت د اقلیم بدلون له جوړښت سره مدغم کوي. دا ډول جوړښت د اقلیم بدلونو د اغېزو په راکمولو کې ډېر اقتصادي دی او په ورته وخت کې دوه ګټې لري لکه د ژوند بنو ساتنه او د اقلیم بدلون د منفي اغېزو را کمول. د دودیزو طریقو په پرتله، د ایکوسیستم پر بنسټ جوړښت یوه «زرغونه» طریقه ده چې د انجیرۍ طریقو په پرتله دوه چنده اقتصادي (د لږ لګښت) لرونکې ده او په هېواد کې د چاپېریال ویجاړۍ کچې ته په پام، د افغانستان لپاره په ځانګړې توګه د پلي کېدو وړ ده. په افغانستان کې د څو اړخیزو بسپنه ورکوونکو له لارې د دې ډول جوړښت لپاره د مالي مرستو ورکولو په برخه کې شه ملاتړ شوی دی. د ایکوسیستم پر بنسټ جوړښت لږ لګښت، کیدای شي په دودیزو پراختیایي پروژو کې هم مدغم شي، په ځانګړې توګه که چېرې یې یو څو بېلګې و آزمایل شي او بریالیتوب یې په کوچنیو پروژو کې ثابت شي. د ایکوسیستم پربنسټ جوړښت لپاره لومړیتوبونه له لاندینیو مواردو څخه عبارت دي:

- د اقلیم بدلون پر وړاندې د آبرېزو د انعطاف منونکي مدیریت لپاره د پلانونو چمتو کول
- د ساتل شوو سیمو په پراخوولو سره د ځنګلونو او څرځایونو د مدیریت شه کول
- د ایکوسیستم پربنسټ د پېښو د ګواښونو راکمولوطریقو پلي کول
- د بدیلو او بېلا بېلو معیشتونو او د انرژۍ بدیلو سرچینو پیاوړي کول

سره له دې چې له تاریخي اړخه په افغانستان کې په ښارونو کې د اقلیم بدلون سره جوړښت ته ډېره لږه پاملرنه شوې ده دا به په راتلونکې کې ډېر ارزښت ولري. د افغانستان په ښاري سیمو کې د اقلیم بدلون اصلي اغېزې به د اوبو کموالی او د طبیعي پېښو بیا بیا تکرارېدنه وي. په ښاري سیمو کې د جوړښت وړتیا پیاوړي کولو په موخه د کړنو لپاره مالي مرستې پخوا هم د یو شمېر څو اړخیزو مالي میکانېزمونو له خوا وړاندې شوې دي او په راتلونکې کې د دغسې کړنو لپاره له دوه اړخیزه مالي میکانېزمونو څخه د مرستې ترلاسه کول ستونزمن نه وي. د انرژۍ او ټرانسپورټ د ښخ بنسټونو د لویو پروژو لپاره به د اقلیم لپاره د شته مالي بسپنو څخه مرسته ترلاسه شي. د اقلیم بدلون پر وړاندې ښاري زیان منتې ته رسېدنه به د جوړښت د مختلطو پروژو او په یاد سکټور کې د اقلیم بدلون شاملولو له لارې په شه ډول ترلاسه شي. د ښاري انعطاف منتې لپاره لومړیتوبونه عبارت دي له:

- په ښاري او د ځمکې کارونې پلانونو کې د اقلیم بدلون سره د جوړښت موضوع ته ځای ورکول
- د اوبو شتون زیاتولو او په اغېزمن ډول کارولو لپاره د کړنو پلي کول
- د اقلیم بدلون پر وړاندې د مقاومو ودانیو لپاره د سټنډرډ کوډونو نافذول
- د اقلیم بدلون پر وړاندې د شته او نوو عامه بېخ بنسټونو جوړول

په افغانستان کې، له تاریخي اړخه، په روغتیا باندې د اقلیم بدلون پر اغېزو ډېره لږه پاملرنه شوې ده خو په راتلونکې کې به دا موضوع ډېر ارزښت پیدا کړي. د اقلیم بدلون به د ناروغیو خپرېدلو، زیاتېدلو او د تودوخې څپو د شدت او پر اوبو د فشار سبب وګرځي، له دې ډول ستونزو سره د مبارزې لپاره باید د څواب وړتیا لوړه شي ترڅو د روغتیا لپاره شته ګواښونه کنټرول شي. څرنګه چې په اوس وخت کې یوازې د ګوتو په شمېر پروژې شتون لري چې پر انساني روغتیا باندې تمرکز کوي، داسې انګېرل کېږي چې په نیږدې راتلونکې کې به هم د روغتیا په سکټور کې ځانګړې اقلیمي پروژې په لاره وا نه چول شي. د بسپنه ورکوونکو هڅولو ته به اړتیا وي او د اقلیم بدلون باید د عامې روغتیا په روانو فعالیتوو کې ورګډ کړل شي. د روغتیا په سکټور کې د انعطاف منئې وړتیا لوړولو لپاره لومړیتوبونه په لاندې ډول دي:

- د وګړو پر روغتیا باندې د اقلیم بدلون د اغېزو په اړه د عامه پوهاوي لوړول
- د اوبو او خوړو ناروغیو او د اقلیم بدلون سره د نورو حساسو لېږدوونکو په اړه د له وړاندې خبراوي سیسټونو جوړول
- د اوبو ککړېدو او د ناروغیو کنټرولولو لپاره د اوبو په مدیریت کې غوره والی
- د اقلیم بدلون سره حساسو ناروغیو په اړه د روغتیا پالانو روزنه
- د حشراتو کنټرولولو او د له منځه وړلو کمپاینونو په لاره اچول
- د اقلیم بدلون سره حساسو ناروغیو په اړه د عامه پوهاوي لوړول

د اقلیم بدلون سره د جوړښت لپاره د افغانستان لومړیتوبونو ته د رسیدنې په موخه باید یو لړ کړنې ترسره شې. د زرغون اقلیم صندوق ته په لاسرسي کې د ستونزو ښکېلتیا په دې معنا ده چې په راتلونکې کې نوموړي صندوق ته باید د اقلیم بدلون سره د جوړښت د یوازینۍ مالي بسپنې په سترګه و نه کتل شي. که چیرې د مالي مرسته ورکوونکو بېلابېلې سرچینې د لویو پروژو د لومړنیو کارونو او د مالي مرستو د بسیج کولو لپاره وکارول شي، د اقلیم مالي مرستو ترلاسه کول به آسانه شي. برسېره پر دې، د زرغون اقلیم صندوق لپاره د لارې نقشې چمتو کولو له لارې د جوړښت پروژې په ګوته کړې دي چې کیدای شي د مالي مرسته ورکوونکو نورو سرچینو په پروپوزلونو کې د مالي مرستو ارتباطي/نښلوونکو په ډول شامل کړل شي ترڅو د آزمایښتي پروژو د ودې په موخه د معیار اوچتولو یا د تکمیل کوونکي او یا ګډ مالي مرسته کوونکې په توګه عمل وکړي تر هغې چې افغانستان وکولای شي د زرغون اقلیم صندوق مرستې ترلاسه کړي. د لویو میکانېزمونو څخه ترلاسه شوې مالي مرستې د بېخ بنسټیزو او هغو ملي پروژو لپاره چې د پام وړ اقتصادي ګټو لرونکې وي، مناسبې دي. د کوچنیو، ځایی کچې او غیر بېخ بنسټیزو پروژو لپاره د مالي مرسته ورکوونکو کوچنې میکانېزمونه او ځانګړې بسپنه ورکوونکي مناسب دي.

د زرغون اقلیم صندوق د لارې نقشې برسېره، د جوړښت پروژو ملي سندونو یوه ټولګه د جوړښت د فوري او راتلونکو فرصتونو څخه د پانګې د ترلاسه کولو لپاره باید چمتو کړل شي. دا ټولګه باید په ټول هېواد کې د یوې ارزونې او سکټوري پلانونو په ځانګړې ډول د افغانستان د ملي ټاکل شوې د اړتیاوو سره سمه چمتو شي. د یوې همغږې شوې او واضح طریقې درلودل احتمال لري چې د اقلیم مالي مرستو په ترلاسه کولو کې لویو بریالیتوبونو ته په رسېدو کې مرسته وکړي. همدا رنګه یو هېوادنی پروګرام به وکولای شي چې د اقلیم بدلون ته د رسېدنې لپاره له بېلا بېلو سرچینو څخه د مالي مرستو راټولو زمینه برابره کړي.

د څو اخیزو صندوقونو اعتبار ورکولو غوښتنې ډېرې سختې دي او له داسې سرچینو څخه اکثره پانګه د نړیوالو پلي کوونکو بنسټونو له لارې ترلاسه کېږي. دغه پروسه ډېرې وخت له ملي پلي کوونکو بنسټونو سره د کارکولو په پرتله ډېره څنډنۍ ده. نو افغانستان ته ښایي چې د ملي پلي کوونکو بنسټونو لپاره د اعتبارلیکونو په اخیستلو کې هڅې وکړي. وړ او په شرایطو برابر سازمانونه باید د اقلیم بدلون کړنو لپاره تخصصي وړتیا ښکاره کړي. په دې کې باید د دغسې پروژو د وړاندې کولو او د اعتماد، اخلاقي، چاپېریالي او ټولنیزو معیارونو څخه د پیروۍ یو ریکارډ شامل وي. احتمالي اعتبار لرونکي بنسټونه باید د اقلیم بدلون په هکله د روانو او نوو ابتکاراتو د معیارونو سره د سمون په موخه باید ملاتړ ترلاسه کړي.

د راتلونکو مالي مرستو لپاره د غوښتنلیکونو تسهیل کولو په موخه که مستقیم لاسرسی وی یا د نړیوالو بنسټونو له لارې، د ملي بنسټونو لکه د اړوندو وزارتونو وړتیا لوړول یوه مهمه اړتیا ده. د بنسټونو وړتیا لوړول د شکیلتیا زمینه برابروي او د غوښتنلیکونو بریالیتوب چانس زیاتوي. د وزارتونو خپل منځي همغږي به په دې معنا وي چې نوموړي وزارتونه په ښه ډولورباندې پوهیږي او له مرسته ورکوونکو میکانېزمونو سره په لیدنو کتنو کې ملي لومړیتوبونه په واضح او مفصل ډول بیانولو وړتیا ولري. همدا رنګه د تخنیکي وړتیاوو لوړول به د مالي مرستو ترلاسه کولو په موخه د پروپوزلونو معیار لوړ او د بریالیتوب چانس زیات کړي. د پالیسي جوړوونکو او تصمیم نیوونکو لپاره د معلوماتو وړاندې کولو په وخت کې باید د اقلیم بدلون او نورو ملي لومړیتوبونو لکه تلپاتې پراختیا، د منازعاتو حل، سولې راوستلو او د بیوزلۍ راکمولو ترمنځ اړیکې روښانه شي. دا کار به پالیسي جوړوونکو ته دا وړتیا ورپه برخه کړي چې د اقلیم بدلون د یوې مهمې ملي موضوع په توګه مطرح  او اقلیمي کړنې په اړوندو پروګرامونو او پروژو کې ورګډې کړي. د بسپنه ورکوونکو هڅول به دا خبره ډاډمنه کړي چې هغوی ټولنیزو او اقتصادي پراختیایي موخو ته په رسېدو کې د اقلیم بدلون په ارزښت پوه دي او دا به د اقلیمي کړنو لپاره د مالي مرستو د برابرولو لپاره احتمال زیاد کړي.

د دولتي تخنیکي کارپوهانو لپاره باید د اقلیم مالي مرستو، په ځانګړي ډول د څو اړخیزو مالي میکانېزمونو څخه د پانګې ترلاسه کولو په برخه کې روزنیز پروګرامونه په لاره واچول شي. دولتي کارکوونکي د پراختیایي او بشردوستانه مالي مرستو د ترلاسه کولو وړتیا لري، مګر د اقلیم بدلون د مالی بسپنو لپاره د پروپوزلونو چمتو کول ځانګړي ادبیات او ژبه لري څکه د څو اړخیزو مالي میکانېزمونو سره سم د پراختیایي موخو سربېره اقلیمي اثرات مهم بلل کېږي. نو له دې امله، روزنه باید د مالي مرستو لپاره د پروپوزلونو چمتو کول چې د بسپنه ورکوونکو معیارونو او لومړیتوبونو سره مطابقت ولري، را ونغاړي. له روزنې سربېره، د دولت کارکوونکي د خپلو وړتیاوو لوړولو لپاره د نوو پروپوزلونو په جوړولو کې باید په فعاله توګه برخه واخلي ترڅو وکولای شي چې کله یوه ملي پلي کوونکي بنسټ ته جواز ورکول کیږي، د پروپوزلونو په چمتو کولو کې مرسته وکړي.



## ۱. سریزه



د افغانستان اسلامي جمهوریت د اقلیم بدلون اغېزوڅخه یو له تر ټولو زیان منونکو هېوادونو په توګه درجه بندي شوی دی.[1] د ملګرو ملتونو د چاپېریال پروګرام (UNEP) او د چاپېریال ساتنې ملي اداره (NEPA) له ۲۰۱۳ کال را په دېخوا د اقلیم بدلون سره په جوړښت او په افغانستان کې د اقلیم بدلون څخه د زیان منني راکمولو په موخه د ورتیاوو جوړولو لپاره په ګډه کار کوي. د دې همکارۍ له موخو څخه د سرچینو بسیج کولو لپاره د یوې ستراتیژۍ جوړول ده چې د جوړښت اوږد مهاله موخو ترلاسه کولو لپاره د زیان منني نقشو او ارزونو پر بنسټ  پروګرامونه او پروژې په ګوته کړي. د اقلیم بدلون څخه د زیان منني او ورسره جوړښت ارزوني دغه رپوټ په افغانستان کې د اقلیم بدلون څخه د بېلا بېلو سکتورونو د زیان منو یو لنډیز وړاندې کوي او دغو زیان منو ته د رسېدنې لپاره د جوړښت پروژو او پروګرامونو لومړیتوبونه په ګوته کوي. دغه رپوټ لاندینۍ برخې رانغاړي:

- شالید چې د افغانستان چاپېریالي او اقتصادي وضعیت تشریح کوي
- د افغانستان لپاره د اقلیمي بدلون تفصیلي وړاندوینې
- د اقلیم بدلون سکتوري اغېزو یوه ارزونه
- په افغانستان کې د جوړښت د شته پلانونو او ستراتیژیو یو لنډیز
- د اقلیم بدلون سکتوري اغېزو ته د رسېدنې په موخه د جوړښت لومړیتوب لرونکو پروژو او پروګرامونو مرتب کول
- د مالي سرچینو یو لنډیز چې کیدای شي د جوړښت لومړیتوبونو سره مرستو لپاره و کارول شي
- پایله  او د حل لارې

[1]. Eckstein et al. 2018. Country Rankings. Global Climate Risk Index 2019.

# ۲. شاليد

## ۲.۱ چاپېريالي وضعيت

افغانستان په وچه پورې تړلی هېواد دی چې په منځنۍ او سوېلي آسيا کې پروت دی او ټول مساحت يې ۶۵۲۰۰۰ کيلومتره مربع دی. دا هېواد يو ډېر پېچلی جوړښت لري او د ټول مساحت څلورمه برخه يې غرنۍ سيمې جوړوي، په داسې حال کې چې د هېواد په سوېل لويديځ او شمال کې پراخې دښتې شتون لري. افغانستان يو وچ او نيمه وچ قاره اي اقليم لري چې د پام وړ موسمي او سيمه ايز توپيرونه په کې شتون لري، ژمي يې ساړه او دوبي يې ګرم دي. د اورښت کلنی اوسط يې ۳۰۰ ملي متره دی[2] چې د هېواد په کچه ډېر توپوګرافيکي توپيرونه لری، په سوېل-لويديځ کې دا اوسط ۵۰ ملي متره او په شمال ختيځ کې ۱۲۰۰ ملي مترو ته رسېږي. څرنګه چې د افغانستان په ډېرو برخو کې لږ اورښت کيږی، نو د کرنيزو پيداوارو لپاره د واورو پر ويلې شويو اوبو باندې د پام وړ تکيه کيږي.

متنوع توپوګرافي او اقليم په افغانستان کې د ژوند بنيو له ډېرېدو سره مرسته کړې ده. د حيواناتو له ۷۰۰ څخه زيات ډولونه او د بوټو ۴۰۰۰ ډولونه[3] د ژوند په څلورو اقليمونو (BIOMES) او د هېواد په پينځلسو ايکولوژيکي سيمو کې ليدل کيږي[4]. دغه ايکولوژيکي سيمې د لوړو غرنيو سيمو څخه تر اوارو دښتو پورې غځېدلې دي (لومړی شکل وګورئ). د افغانستان د مساحت له ۷۰ سلنې څخه زياته برخه بوټو لرونکو ځمکو، واښه لرونکو او هموارو ځمکو او پاتې برخه يې له ټيټ نباتي پوښښ سره لوڅې خاورې او کرنيزې ځمکې پوښلې ده[5]. د ژوو او نباتاتو د هستوګنځايونو له منځه تللو، د طبيعي زېرمو څخه له اندازې زياتې ګټه اخيستلو او اقليم بدلون له امله د ايکوسيستمونو زيانونه په هېواد کې د ژوند بنيو د له منځه تللو لامل ګرځېدلي دي. د بېلګې په توګه، په پخوا وختونو کې نيږدې ۳۴۰۰۰ کيلومتر مربع (د ټول هېواد د مساحت ۵ سلنه) د ګڼو ځنګلي ايکوسيستمونو[6] په واسطه پوښلې وه خو دا پوښښ په ۱۹۸۰ کال کې ۳۶۰۰ کيلومتر مربع او په ۲۰۰۳ کال کې نيږدې ۱۸۰۰ کيلومتر مربع پورې چې د ټول هېواد ۰.۲۵ سلنه جوړوي را کم شو.[7,8]

## ۲.۲ ډېموګرافيکي وضعيت

د افغانستان د وګړو شمېر نيږدې ۳۲.۹ ميليونه اټکل شوی دی[9]. دا هېواد د بشري ودې[10] په نوملړ کې له ۱۸۹ هېوادونو څخه ۱۷۰ ليکه خپله کړې ده او د مخ پر ودې هېوادونو د څو اړخيزه بېوزلۍ په نوملړ[11] کې د خرابې روغتيا او د ژوند کولو معيارونو او همدا رنګه د ټيټې کچې تعليم په سبب له ۱۰۷ هېوادو څخه ۸۷ ليکه خپله کړې ده. بېوزلي ډېره پراخه ده، چې د هېواد د وګړو ۵۴.۵ سلنه وګړي د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي او دا چاره ورځ تر بلې لاپسې پراخېږي[12]. په ښار کې د مېشتېدو د مخ په زياتيدونکي شمېر سربېره، د هېواد د وګړو ۷۰ سلنه اوس هم په کليوالي سيمو کې ژوند کوي[13]. دا په داسې حال کې ده چې په کليوالي سيمو کې د بېوزلۍ لمنه لاپراخه ده او نيږدې ۵۸.۶ سلنه کليوالي وګړي ورسره لاس او ګرېوان دي، په ښاري سيمو کې د بې وزلۍ کچه د کليوالي سيمو په پرتله لږه او ۴۱.۶ سلنه ده[14].

---

[2]. UNEP. 2008. Biodiversity Profile of Afghanistan.
[3]. Afghanistan. 2014. National Biodiversity Strategy and Action Plan.
[4]. Olson et al. 2001. Terrestrial ecoregions of the world: a new map of life on Earth. Bioscience 938–933 :51.
[5]. Earthtrends. 2003. Forests, grasslands and drylands – Afghanistan.
[6]. Freitag, H. 1971. Die natürliche Vegetation Afghanistans. Beiträge zur Flora und Vegetation Afghanistans I. Vegetatio. Acta Geobotanica 349–285 :22.
[7]. Sayer, J.A. & Van der Zon, A.P.M. 1981. National Parks and Wildlife Conservation, Afghanistan. A Contribution to a Conservation Strategy.
[8]. UNEP. 2003. Post-conflict environmental assessment: Afghanistan
[9]. NSIA. 2020. Estimated Population of Afghanistan 21–2020.
[10]. UNDP. 2019. Human Development Report 2019.
[11]. UNDP & OPHDI. 2020. Global Multidimensional Poverty Index 2020. Charting pathways out of multidimensional poverty: Achieving the SDGs.
[12]. CSO. 2018. Afghanistan Living Conditions Survey 17–2016.
[13]. NSIA. 2020. Afghanistan Statistical Yearbook 2019.
[14]. CSO. 2018. Afghanistan Living Conditions Survey 17–2016.

## ۲.۳ اقتصادي وضعيت

د افغانستان اقتصادي وده په بنسټيز ډول د بسپنه ورکوونکو هېوادونو له خوا په پراختيايي مرستو باندې ولاړه ده. په داسې حال کې چې اوږدې جګړې او سياسي بې ثباتی د خصوصي سکټور پانګوونې روحيه او يو لړ اقتصادي فعاليتونه زيانمن کړي دي[15]. په ۲۰۱۹ کال کې د هېواد د نا خالص داخلي توليد (GDP) وده ۴ سلنه وه[16] چې دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله چې په کې اقتصادي وده يوازې ۱ سلنه وه د پام وړ زياتوالی ښيي[17]. سره له دې چې د هېواد په کورني نا خالص توليد کې د پام وړ زياتوالی راغلی دی د کس پر سر کلنی عايد په ۱۳۹۳ کال کې له ۷۵۵ امريکايي ډالرو څخه په ۱۳۹۸ کال کې ۵۶۰ امريکايي ډالرو ته ټيټ شوی دی[18,19]. د خدمتونو سکټور د هېواد په GDP کې ۵۷.۴ سلنه ونډه درلوده[20]، وروسته د کرنې سکټور ۲۵.۵ سلنه او صنعتي سکټور ۱۲.۱ سلنه ونډه درلوده. که څه هم د کرنې سکټور ډېر شمېر افغانانو ته د کار زمينه برابروي چې د ټول نفوس ۴۴.۳ سلنه او د کليوالي وګړو ۵۲.۶ سلنه جوړوي[21]. رواني جګړې او په هېواد کې د سياسي ثبات نه شتون به د هېواد اقتصادي وده له خنډ سره مخ کړي[22]. همدا رنګه ټمه کيږي چې د هېواد اقتصاد به په مهمو اقتصادي سکټورونو لکه کرنه باندې د اقليم بدلون د منفي اغېزو له امله زيان ووينې.




لومړی شکل: د افغانستان د ايکوسيستمونو وېش د اقليم پر اساس[23]

---

15. World Bank. (n.d.). Afghanistan Country Overview.
16. NSIA. 2020. Afghanistan Statistical Yearbook 2019.
17. ADB. (n.d.). Economy: Afghanistan.
18. CSO. 2017. Afghanistan Statistical Yearbook 2017-2016: At a Glance.
19. NSIA. 2020. Afghanistan Statistical Yearbook 2019.
20. NSIA. 2020. Afghanistan Statistical Yearbook 2019.
21. CSO. 2018. Afghanistan Living Conditions Survey 17–2016.
22. World Bank. (n.d.). Afghanistan Country Overview.
23. Data from: Olson et al. 2001. Terrestrial ecoregions of the world: a new map of life on Earth. Bioscience :51 938–933.

# ۳. د اقلیم بدلون وړاندوینې

د دې برخې ټوله ډېټا، پرته له هغو چې کومه بله سرچینه ذکر شوې وي له لاندې سرچینو څخه اقتباس شوې ده:

*[Aich, V. & Khoshbeen, A.J. 2016. Afghanistan: Climate Change Science Perspectives.; and Aich et al. 2017. Climate Change in Afghanistan Deduced from Reanalysis and Coordinated Regional Climate Downscaling Experiment (CORDEX) – South Asia Simulations. Climate 5(38).]*

## ۳.۱ د اقلیم وروستي میلانونه

د موډلونو څخه د اقلیم دویم ځلي تحلیلونو پایلې په افغانستان کې د هوا پېژندنې سټېشنونو له ځارنو څخه د هوا د تودوخې او اورښت ترلاسه شوې ډېټا سره پرتله شوې دي. له ۱۹۵۰ کال څخه تر ۲۰۱۰ کاله پورې، د افغانستان د تودوخې کلنۍ درجه په منځنۍ ډول د سانتی ګراد په کچه ۱.۸ درجې لوړه شوې ده چې په ورته موده کې د نړیوالې منځنۍ کلنۍ لوړې شوې تودوخې درجې[24] په پرتله نیږدې دوه برابره ده. د هېواد په سویل لویدیځ کې د تودوخې کلنۍ درجه ډېره (۲.۴ درجې) لوړه شوې ده. په ورته موده کې، په ټولیز ډول د اورښت په کلني اوسط کې د پام وړ بدلون نه ترسترګو کېږي. خو بیا هم، د موسمي اورښت تفصیلي تحلیلونه راښیي چې د هېواد په ټولو برخو کې د پسرلي په اورښت کې د پام وړ (۲۷ سلنه) کمی راغلی دی، چې د هېواد په شمالي، مرکزي او ختیځو برخو کې د اورښت کمی (۳۰ سلنه) او یا له هغې زیات دی. په پسرلي کې د اورښت دغه کمی د للمي کرکیلې لپاره کومه چې په دې موسم کې اورښت ته ډېره اړتیا لري ځانګړی ارزښت لري.

له بده مرغه هغه سیمې چې په پسرلي موسم کې د اورښته له کمښت سره مخامخ کېږي د هېواد د کرنې په پیداوارو کې تر ټولو ډېره ونډه لري. د ۱۹۵۰ څخه تر ۲۰۱۰ کلونو موده کې د ژمي د موسم په اورښت کې د پام وړ بدلون نه دی راغلی. سره له دې چې د سختو اورښتونو میلان وړاندوینې په دې وروستیو کې د سېلابونو، ځمکې ښوېدنې او نورو اړوندو ګواښونو د زیاتېدو په اړه د غیر کره راپورونو سره په ټکر کې دي[25]، د دې ډول ګواښونو یوازینی علت سخت اورښتونه نه دی. د بېلګې په ډول، د تودوخې درجې لوړېدل په پسرلي کې د واورو د ژر ویلي کېدو او په اوږي کې د وچکالۍ لامل ګرځي ځکه چې خاوره وچېږي او د خاورې د جذب وړتیا راکموي او دا د سېلابونو د راوتلو د ګواښونو د ډېرېدو لامل ګرځي.

## ۳.۲ د اقلیم بدلون راتلونکې وړاندوینې

د اقلیم بدلون په اړه د تفصیلي وړاندوینو لپاره د (CORDEX) اقلیمي موډل څخه ترلاسه شوې نمونې کارول شوې دي. په نوموړي موډل کې د نمونه اي تمرکز مسیر (RCP) دوه سناریوګانې وکارول شوې چې یوه سناریو یې خوشبینانه (RCP 4.5) ده چې په دې سناریو کې د شین کوریزو ګازونو په خپرېدنو کې یوه منځ مهاله راکمېده په پام کې نیول شوې ده او بله سناریو چې بدبینانه سناریو (RCP 8.5) بلل کېږي، په دې سناریو کې د شین کوریزو ګازونو خپرېدنې د معمول سره سم خپرېږي. د دغې څېړنې پایلې د وړاندوینو د پخوانیو څېړنو پخلی کوي چې د بېلابېلو موډلونو په کارولو سره تر لاسه شوې وې[26].

د افغانستان لپاره اقلیمي وړاندوینې تر ۲۰۵۰ کال پورې د تودوخې درجې په کلني اوسط کې په خوشبینانه سناریو کې د سانتي ګرېډ په کچه د ۱.۴ درجو لوړوالی او تر ۲۱۰۰ کال پورې د ۲.۶ درجو لوړوالی ښیي، په داسې حال کې چې په بد بینانه سناریو کې د تودوخې کلنۍ اوسط خورا لوړ اټکل شوی دی، په دې معنا چې تر ۲۰۵۰ کال پورې به د هېواد د تودوخې کلنۍ اوسط ۲.۶ درجې او تر ۲۱۰۰ کال پورې ۶.۳ درجې لوړ شي. د دواړو سناریو ګانو لاندې، سیمه ایز توپیرونه په خپل ځای پاتې دي، په شمال ختیځو لوړو او مرکزي غرنیو سیمو کې د تودوخې درجه ډېره لوړه (په خوشبینانه سناریو کې له ۲.۵ درجو ډېره او په بدبینانه سناریو کې تر ۶.۵ درجو ډېره) وړاندوینه شوې ده. دغه ټولې وړاند وینې له احصایوي اړخه ارزښتناکې بلل کېږي. برسېره پردې، له ۲۰۵۰ کال راهیسې د اقلیمي میلانونو څېړنو ته ورته، چې پورته وړاندې شوې، د دواړو سناریوګانو لاندې او د هېواد په ټولو سیمو د تودوخې لوړوالی په ورته موده کې له نړیوال اوسط څخه لوړ وړاندوینه شوی دی[27,28].

[24]. Hartmann et al. 2013. Observations: Atmosphere and Surface. In: Stocker et al. (eds.). Climate Change 2013: The Physical Science Basis. Contribution of Working Group I to the Fifth Assessment Report of the Intergovernmental Panel on Climate Change.
[25]. Such as those presented in Afghanistan's National Adaptation Programme of Action.
[26]. Savage et al. 2009. Socio-economic Impacts of Climate Change in Afghanistan.
[27]. Kirtman et al. 2013. Near-term Climate Change: Projections and Predictability. In: Stocker et al. (eds.). Climate Change 2013: The Physical Science Basis. Contribution of Working Group I to the Fifth Assessment Report of the Intergovernmental Panel on Climate Change.
[28]. Collins et al. 2013. Long-term Climate Change: Projections, Commitments and Irreversibility. In: Stocker et al. (eds.). Climate Change 2013: The Physical Science Basis. Contribution of Working Group I to the Fifth Assessment Report of the Intergovernmental Panel on Climate Change.

د ۱۹۵۰ ځخه تر ۲۰۱۰ کال پورې د اورښت ډېټا د څېړنې سره یو شان، تر ۲۱۰۰ کال پورې هم د هېواد د اورښت په کلني اوسط کې د پام وړ بدلونونو وړاندوینه نه ده شوې. خو بیا هم، په هېواد کې د ننه د یو شمېر سیمه ایزو بدلونونو وړاندوینه شوې ده. د اړونده سناریوګانو پر اساس اټکل کېږي چې د هېواد دځینو سیمو په کلني اورښت کې به تر ۲۱۰۰ کال ډېروالی یا کموالی راشي. د بدبینانه سناریو د اټکل پر اساس د پسرلي په موسم کې د اورښت په کچه کې تر ۲۰ سلنې کموالي وړاندوینه شوې ده. دا وړاندوینه تر ډېره د هېواد شمالي، مرکزي غرنیو، او سویل ختیځ سیمو ته سمه بلل کېږي. دا وړاندوینه دا حقیقت نور هم غښتلی کوي چې د اقلیم بدلون به په راتلونکي کې هم په للمي کښت باندې په نوموړو مهمو کرنیزو سیمو کې د پام وړ اغېزې ولري.

د ژمنیو اورښتونو لپاره وړاندوینې چې تر ډېره حده په افغانستان کې واوره ده د خوشبینانه سناریو لاندې یوه لړه اندازه زیاتوالی خو د بدبینانه سناریو لاندې یوه لړه اندازه کموالی ښیي. خو بیا هم د پام وړ سیمه ایز توپیرونه شتون لري، ځکه کېږي چې یوازې د شمال ختیځو سیمو په ژمنیو اورښتونو کې به زیاتوالي راشي په داسې حال کې چې اټکل کېږي د مرکزي غرنیو، سویل ختیځو او سویل لویدیځو سیمو په ژمنیو اورښتونو کې کموالی راشي.

د سختو اورښتونو لپاره وړاندوینې د ټول هېواد لپاره  یوه لړه اندازه زیاتوالی ښیي. په داسې حال کې چې په سیمه ایزه کچه په وړاندوینو کې یو څه توپیرونه تر سترګو کېږي. د هېواد په شمال ختیځو، سویل ختیځو او سویل لویدیځو سیمو، کې د سختو اورښتونو په پېښو کې د ۱۰سلنې ځخه ډېر زیاتوالي وړاندوینه کېږي، دا یوه د اندیښنې وړ خبره ده ځکه چې دغه سیمې له پخوا ځخه د ناڅاپي سېلابونو اوچتې پېښې وینې.

لومړی جدول: د افغانستان لپاره د نمونه اي تمرکز د دوه سناریوګانو پر اساس له ۲۰۱۰ ځخه تر ۲۱۰۰ کلونو پورې د اقلیم وړاندوینې

| اقلیمي سیمې | د تودوخې درجې کلنی اوسط | د اورښت کلنی اوسط | ژمنی اورښت | پسرلنی اورښت | سخت اورښتونه |
|---|---|---|---|---|---|
| ټول افغانستان | | | خوشبینانه سناریو *(RCP4.5)* | | |
| | +2.6°C | N.S. | +11.5% | N.S. | +8.9% |
| | | | بدبینانه سناریو *(RCP8.5)* | | |
| | +6.3°C | N.S. | −8.6% | −20.1% | N.S. |
| شمال | | | خوشبینانه سناریو *(RCP4.5)* | | |
| | +2.6°C | N.S. | N.S. | N.S. | N.S. |
| | | | بدبینانه سناریو *(RCP8.5)* | | |
| | +6.1°C | −13.0% | N.S. | −31.8% | -9.8% |
| شمال-ختیځ | | | خوشبینانه سناریو *(RCP4.5)* | | |
| | +2.7°C | +13.6% | +21.6% | N.S. | +13.0% |
| | | | بدبینانه *(RCP8.5)* | | |
| | +6.8°C | N.S. | +7.5% | N.S. | +11.9% |
| مرکزي غرنۍ سیمې | | | خوشبینانه سناریو *(RCP4.5)* | | |
| | +2.7°C | N.S. | N.S. | −17.6% | N.S. |
| | | | بدبینانه سناریو *(RCP8.5)* | | |
| | +6.5°C | N.S. | −23.8% | −25.4% | −12.3% |
| سویل ختیځ | | | خوشبینانه سناریو *(RCP4.5)* | | |
| | +2.3°C | +10.6% | N.S. | −18.1% | +9.4% |
| | | | بدبینانه سناریو *(RCP8.5)* | | |
| | +5.7°C | %7.7+ | −32.6% | N.S. | N.S. |
| سویل لویدیځ | | | خوشبینانه سناریو *(RCP4.5)* | | |
| | +2.4°C | +21.1% | N.S. | N.S. | +11.8% |
| | | | بدبینانه سناریو *(RCP8.5)* | | |
| | | N.S. | −25.3% | N.S. | N.S. |

نوټ: په پورته جدول کې یوازې مهم احصایوي میلانونه ښودل شوي دي، غیر مهم میلانونه په "N.S" سره  ښودل شوي دي.

## ۳.۳ د اقلیم بدلون ځخه راولاړ ګواښونه

د اقلیم بدلون له اغېزو ځخه یو یې د اقلیمي طبیعي پېښو د تکرارېدو احتمالي زیاتوالی او شدت بلل کېږي. افغانستان له دغه شان ګواښونو سره خورا ډېر مخامخ دی چې د ژوند، معیشت او د تولیدي پانګو لپاره د پام وړ زیانونو او ویجاړیو سبب ګرځي. د افغانستان د جوړښت د عمل ملي پروګرام (NAPA)[29] چمتو کولو په وخت کې، پراخو سلا مشورو د طبیعي پېښو هغه اغېزې ځرګندې کړې چې پر ژوند، انساني روغتیا، د خوړو خوندیتوب، معیشت، د اوبو شتون او چاپېریال باندې د اقلیم بدلون له امله واردېږي. د دې پروسې له لارې، اړوندو کارپوهانو واضح کړله چې د ګواښونو په تکرارېدو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی او سېلابونو، وچکالیو، او د تودوخې درجې لوړېدو په زرګونو افغانان اغېزمن او د میلیونونو ډالرو مالي زیانونو لامل ګرځېدلي دي. د بېلګې په توګه، له ۱۹۵۰مې لسیزې را په دېخوا، سېلابونه او وچکالۍ په ګډه د ۵۰۰۰ کسانو د مړه کېدو، له ۲۱ میلیونو ځخه زیاتو کسانو زیانمن کېدو او له ۵۴۰ میلیونو امریکایي ډالرو په انداز د مالي زیانونو د اوښتلو لامل ګرځېدلي دي (دویم شکل وګورئ)[30]. د اړوندو طبیعي ګواښونو او د اقلیم بدلون متوقعه اغېزو لنډیز (د وړاندوینو په بنسټ چې په ۲.۴ برخه کې پرې بحث وشو) په دویم جدول کې ښودل شویدي.




29. NEPA & UNEP. 2009. National Capacity Needs Self-assessment for Global Environmental Management and National Adaptation Programme of Action for Climate Change.
30. EM-DAT. CRED / UCLouvain.







دویم شکل: له ۱۹۵۶ کال را په دېخوا په افغانستان کې د وچکالیو، او سېلابونو له امله د مړینو، اغېزمن شوو وګړو او مالي زیانونو (په امریکایي ډالرو) د شمېرو یو لنډیز.[31]

31. Data derived from EM-DAT. CRED / UCLouvain.

## دویم جدول: په افغانستان کې پر طبیعي پېښو باندې د اقلیم بدلون اغېزې[32]

| ګواښ | ځاني زیانونه | د اقلیم بدلون اغېزې | انساني روغتیا او ټولنیزې-اقتصادي اغېزې | معیشت او د خوړو خوندیتوب | چاپېریال او طبیعي سرچینې | د اوبو کیفیت/ خړنګوالی او شتون |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ډېره زیاته تودوخه | په کلنې ډول د ۱۰۰۰ کسانو مستقیمه مرګ ژوبله | د تودوخې درجې عمومي زیاتوالی به د ډېرې زیاتې تودوخې د پېښو ډېر تکراریدو لامل شي | د ناروغیو لکه ملاریا، لشمانیا و نس ناستي/اسهال خپرېدو ډېروالی | د څارویو او کرنیزو ناروغیو زیاتوالی او د مالدارۍ او کرنیزو پیداوارو کموالی | د طبیعي ایکوسیستمونو په محصولاتو کې کموالی، د نباتي پوښښ او څړځایونو د کمېدو له امله د وحشي ژوو د هستوګنځایونو بدلون | د تبخیر زیاتوالی او د اوبو د کچې راټیټېدل |
| د سختو اورښتونو له امله د سېلابونو راتلل | په کلنې ډول د ۷۵۰ کسانو مستقیمه مرګ ژوبله | د سختو بارانونو/ اورښتونو پېښېدل به د سېلابونو د تکرارېدو په پېښو کې زیاتوالی راولي په ځانګړې توګه په شمال ختیځ، سویل ختیځ او سویل لویدیځ سیمو کې | د ناروغیو لکه کولرا/وبا، محرقې، نس ناستي او ملاریا د خپرېدو زیاتوالی، د کورونو ورانېدل او د نورو بېخ بنسټونو مالي زیانونه | د کرنیزو ځمکو ویجاړی او د محصولاتو او د څارویو له لاسه ورکول، او سیندونو ته په نیږدې پرتو سیمو کې تر ۱۰ سلنې پورې د کرنیزو پیداوارو راکمېدل | د خاورو توږېدنه، د ځنګلي سیمو له منځه تلل، په سیندونو کې د خړو/لجن او کنویي/ رسوبي موادو زیاتېدل او د وحشي ژوو بېځایه کېدل | د اوبو لګولو کانالونو ویجاړی او له خړو ډکېدل د ۳۰۰ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت د بېخ بنسټونو ویجاړی |
| د واورو ویلې کېدلو له امله سېلابونه | په کلنې ډول د ۱۰۰ کسانو مستقیمه مرګ ژوبله | په ژمي کې زیات اورښتونه او د تودوخې درجې زیاتوالی به د ډېرمقدار واورو د ژر ویلې کېدو له کبله به د مکررو او سختو سېلابونو لامل شي. | د ناروغیو لکه کولرا، محرقې، اسهال او ملاریا پېښو زیاتوالی، د مهمو بېخ بنسټونو لکه پلونو او ګابیونونه ورانېدل | سیندونو ته د نیږدې پرتو کرنیزو ځمکو له منځه تلل | د خاورو توږېدنې او ځمکښوییدنې له امله د خاورو زېرمو ویجاړی، د ساحلي او ځنګلي ایکو سیستمونو ویجاړی، په سیندونو او کانالونو کې د خړو او رسوبي توکو زیاتېدل، د وحشي ژوو بېځایه کېدل | د اوبو د کچې زیاتوالي له امله د سیندونو او کانالونو ویجاړېدل، د ۴۰۰ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت د بېخ بنسټونو ویجاړی |

32. Information on hazard impacts drawn from: NEPA & UNEP. 2009. National Capacity Needs Self-assessment for Global Environmental Management and National Adaptation Programme of Action for Climate Change. Information on climate change impacts drawn from: Aich, V. & Khoshbeen, A.J. 2016. Afghanistan: Climate Change Science Perspectives.

| ګواښ | ځاني زيانونه | د اقليم بدلون اغيزې | انساني روغتيا او ټولنيزې-اقتصادي اغيزې | معيشت او د خوړو خونديتوب | چاپيرال او طبيعي سرچينې | د اوبو کيفيت/ څرنګوالی او شتون |
|---|---|---|---|---|---|---|
| دوره اي (موده ايزې) وچکالی | په کلني ډول د سختو اورښتونو له کبله د ۱۰۰۰۰ کسانو غير مستقيمه مرګ ژوبله | په پرسلنيو اورښتونو کې کمی به د ډېرو او سختو کرنيزو وچکاليو سبب و ګرځي | د ناروغيو لکه ملاريا، لشمانيا، کولرا، محرقې، په اسکارس ککړتيا، او نس ناستي پېښو زياتوالی، خوارځواکي، بېځايه کيدل او جبري کډوالي، د صادراتو کمی او اقتصادي زيانونه | د آبي او للمي کښت د محصولاتو کمی تر ۸۵ سلنې پورې | په ځنګلي محصولاتو کې کمی د وحشي ژوو بېځايه کېدل، د مرغانو د پناه ځايونو (ډنډونو) وچېدل، د آبخېزو/اوبو سرچينو ويجاړی | د چينو او کاريزونو او د ځمکې لاندې نورو اوبو سرچينو کموالی چې د اوبو لګولو لپاره کارول کېږي، په ذخير او بندونو کې د اوبو کمی |
| ږلۍ او د يخ څپې | په کلني ډول د ۳۰۰ کسانو غير مستقيمه مرګ ژوبله | | په سړې هوا پورې د تړلو ناروغيو زياتېدل، اقتصادي زيانونه او د بيوزلۍ زياتېدل | د کرنيزو ناروغيو زياتېدل، د کرنيزو پيداوارو کموالی تر ۲۰ سلنې | د ځنګلو جوړولو او بيارغولو په چارو کې لړه بريا | N/A |
| تندر او برېښنا | په کلني ډول د ۱۵۰ کسانو مستقيمه مرګ ژوبله | د سختو اورښتونو پېښې کيدای شي تندر او برېښنا له ځانه سره ولري | په سړې هوا پورې د تړلو ناروغيو زياتېدل، انساني تلفات | په کرنيزو او بنوالۍ محصولاتو کې تر ۲۰ سلنې کموالی، د کرنيزو پيداوارو او څاروپو له لاسه ورکول | N/A | N/A |
| مونسون او ۱۲۰ ورځني بادونه | په کلني ډول د ۱۰ کسانو مستقيمه مرګ ژوبله | د زياتو وچکاليو پېښې به د ۱۲۰ ورځنيو بادونو تکرارېدل او شدت زيات کړي | د سترګو او تنفسي ناروغيو زياتوالی، د هوا ککړتيا، د جايدادونو او يبخ بنسټونو ويجاړی | د کرنيزو ځمکو او څرځايونو ويجاړي، د کرنيزو پيداوارو کمی | د ځنګلونو پرې کول او د نباتي پوښښ کمېدل | د اوبو يبخ بنسټونو موقتي او دايمي ويجاړتيا، له خړو څخه د سيندونواو کانالونو ډکېدل |

## ۴. د اقلیم بدلون سکټوري اغېزې

د افغانستان NAPA د اوو اساسي سکټورونو (د اوبو زېرمو، ځنګلونو او څړځایونو، کرنې، ژوند بنو، روغتیا، انرژۍ او زبالو) زیان منښه د اقلیم بدلون له څلورو اغېزو (د تودوخې درجې لوړېدنې، تبخیر زیاتوالي، د اورښت بنې بدلېدنې او وچکالیو زیاتوالي)[33] سره تر څېړنې لاندې نیولې ده. د دې ارزونې پر بنسټ، ټمه کېږي چې د اقلیم بدلون پر اوبو، کرنه، ځنګلداری، څړځایونو او روغتیا سکټورونو باندې ډېره زیاته اغېزه وکړي. کله چې د اقلیم بدلون په وړاندې د زیان منښې بېلا بېلې اجزاوې ارزوول کیدې، د ډېری سکټورونو لپاره، وچکالي د اقلیم بدلون پر وړاندې د زیان منښې تر ټولو لوی عامل په توګه وپېژندل شو (درېيم شکل وګورئ)




درېيم شکل: د اقلیم بدلون اړوند عواملو د اغېزو څخه د مهمو سکټورونو زیان منښې[۳۴].

یوه لسیزه وروسته له هغې چې دا ارزونه په لاره اچول شوې وه، دا په ډاګه شوه چې باید د یو ډېر شمېر سکټورونو زیان منښه او وړباندې د اقلیم بدلون اغېزې باید په پام کې ونیول شي. د بېلګې په توګه، په NAPA کې د سېلابونه ګواښونه په کافي ډول پام کې نه دي نیول شوي او همدا رنګه په بېخ بنسټونو او د انسانانو په لاس جوړ شوي چاپېریال باندې د اقلیم بدلون اغېزو ته ډېره لږه پاملرنه شوې ده. دا سکټورونه کیدای شي چې د NAPA د چمتو کولو په وخت کې د اقلیم بدلون په هکله د وړاندوینو اټکل لپاره د محدودې ډیټا شتون له امله له پامه غورځول شوي وي. نو ځکه، په دغه رپوټ کې یو زیات شمېر سکټورونه چې د اقلیم بدلون په هکله د ملګرو ملتونو چوکاټ کنوانسیون (UNFCCC) ته د افغانستان په دویم ملي رپوټ[35] کې راغلي دي تر بحث لاندې راوستل.

---

33. NEPA & UNEP. 2009. National Capacity Needs Self-assessment for Global Environmental Management and National Adaptation Programme of Action for Climate Change.
34. Adapted from figure 9 in: NEPA & UNEP. 2009. National Capacity Needs Self-assessment for Global Environmental Management and National Adaptation Programme of Action for Climate Change.
35. Afghanistan. 2019. Second National Communication under the United Nations Framework Convention on Climate Change.

## ۴.۱ اوبه

د افغانستان د نوي کېدو وړ اوبو ټولې زېرمې په کال کې د ۴۷ – ۵۵ ميليارد متر مکعبه [36,37] اټکل شوي دي. د وګړو د اوسني اټکليز شمېر لپاره دا د کس پر سر په کال کې د ۱۶۷۲-۱۴۲۹ مترو مکعبو اوبو شتون سره برابره ده چې د ۱۹۶۰ لسيزې څخه را په دېخوا ۷۵ سلنه لړوالی ښيي[38]. بر سره پردې، د اوبو دغه زېرمې په ټول هېواد کې په مساوي ډول نه دي ويشلې شوې، په شمال ختيځ کې د کس پرسر په کال له ۷۰۰۰ مترو مکعبو څخه زياتې خو په ځينو سيمو کې د کس پر سر په کال کې له ۷۰۰ مترو مکعبو[39] څخه لږې، اوبه شتون لري چې دا يو ډېر ستر توپير دی. په هېواد کې د اوبو دوه حوزې (هلمند او شمال) د اندېښنې وړ دي ځکه چې د کس پر سر د اوبو شتون يې د اوبو د بحران د نړيوال پېژنځيز له کچې څخه لږ دی، يوه له دغو دوو حوزو څخه د شمال سينديزه حوزه ده چې د کرنې له پلوه ډېره مهمه حوزه بلل کېږي (څلورم شکل و ګورئ). د سيمه ايزو توپيرونو سربېره، د کال په اوږدو کې هم د اوبو شتون په مساوي اندازه نه دی. د اوبو يوه لويه برخه د واورې په شکل شتون لري چې د ژمي په موسم کې اورېږي او د کال په اوږدو کې ويلې کېږي او په سيندونو کې بهېږي[40]. د اوبو ذخيرې محدودې وړتيا او وېش ته په کتو [41]، هېواد د واورې د ويلې شوو اوبو د زېرمه کولو امکانات نه لري ترڅو وروسته د اړتيا په وخت کې يا هغو سيمو ته چې د اوبو کمبود سره مخامخ دي، اوبه ورسوي.




څلورم شکل: په ملي کچه او په پينځو سينديزو حوزو کې د کس پر سر د اوبو کلنۍ اندازه پر متر مکعب باندې[42]

36. FAO. 2012. AQUASTAT Country Profile – Afghanistan.
37. CPHD. 2011. Afghanistan National Human Development Report - The Forgotten Front: Water Security and the Crisis in Sanitation.
38. FAO. 2016. AQUASTAT Main Database.
39. CPHD. 2011. Afghanistan National Human Development Report - The Forgotten Front: Water Security and the Crisis in Sanitation.
40. Singh et al. 2011. Climate Change in the Hindu Kush-Himalayas: The State ofCurrent Knowledge.
41. UNDP. 2016. Human Development Index 2015: Work for Human Development.
42. Data derived from: CPHD. 2011. Afghanistan National Human Development Report - The Forgotten Front: Water Security and the Crisis in Sanitation.

د اقليم بدلون او د وګړو د شمېر چټکه وده به په افغانستان کې د اوبو کموالي ستونزه لا ډېره او په کرنه، کورونو او صنعت کې اوبو ته اړتيا زياته کړي. په داسې حال کې چې د اقليم بدلون له امله د اورښت په ټوليزه کچه کې د پام وړ بدلون وړاندوينه نه ده شوې، د تودوخې درجې متوقعه لوړوالی به د تبخير کچه زياته کړي او په دې ډول به پر اوبو فشار ډېرشي. د تودوخې درجې لوړېدل به په غرونو کې د واورو د سترو زېرمو او طبيعي کنګلونو د ويلې کېدو سبب شي او دا به د ځمکې لاندې اوبو سرچينو تغذيه ټکنۍ کړي. د ژمي په موسم کې د اورښتونو کمی د اوبو د سرچينو د شتون کچه راکموي، په ځانګړې توګه د کرنيزو حاصلاتو په مرکزونو کې به د لړې واورې شتون د کال په پاتې موده کې د ذخيرې په ډول کار ورنکړي[43]. وړاندوينه کېږي چې د يخچالونو او د واورو پوښښ په پراخ ډول له منځه تلل به په ۲۱ پېړۍ کې هم دوام وکړي، چې د اوبو عمومي رسول به کم او د سيندونو په موسمي جريانونو[44] کې به بدلون راولي.

د واورو چټک ويلې کېدل به په پسرلي او دوبي کې د سېلاب ګواښ هم زيات کړي. د افغانستان د پېښو سره د مبارزې د چمتو والي اداري (ANDMA) سېلاب يو له تر ټولو زيات تکرارېدونکې پېښې په توګه پېژندلی دی چې د طبيعي پېښو د ټولو مړګ ژوبلو ۱۹ سلنه جوړوي[45]. سېلابونه همدا رنګه د اقتصادي زيانونو لامل هم ګرځي چې په کلني ډول د ۵۴ ميليونه امريکايي ډالرو مالي زيانونو د اوښتلو اټکل شوی دی، خو د شديدو سېلابونو اقتصادي زيانونه تر دې ډېر اوچت او د ۵۰۰ ميليونو امريکايي ډالرو په شا او خوا کې اټکل شوي دي[46]. سيندونو ته په نيږدې پرتو سيمو کې د واورو چټک ويلې کېدو له امله سېلابونه او همدا رنګه د سختو اورښتونو له امله د سېلابونو پېښې احتمال لري چې د کرنې، جوړ شوي/مصنوعي چاپېريال او انسانې روغتيا په سکټورونو کې د زياتو زيانونو او ويجاړيو لامل وګرځي[47]. دا په ځانګړې توګه په غرنيو او ځنګل پريکړو سيمو او همدا رنګه د هغو ټولنو لپاره چې سيندونو ته نيږدې سيمو کې ژوند کوي، ډېر ستر ګواښ بلل کېږي.

## ۴.۲ کرنه

د وګړو مخ په زياتېدو شمېر د کرنيزو پيداوارو لپاره د افغانستان وړتيا کمزورې کوي. د هېواد له ۵ سلنې څخه کمه برخه اوبه لرونکې کرنيزې ځمکې جوړوي چې له هغې څخه نيږدې ۱۰ سلنه خلک د کرنې عصري اوبو لګولو تخنيکونه کاروي او چې کله اورښت مساعد وي ۲ سلنه خلک د للمي کرنې څخه هم ګټه اخلي[48,49]. د کورينو د ژوندانه لپاره د کرکيلې ارزښت ته په پام، په کليوالي سيمو کې پر کرنيزو محصولاتو باندې په ځانګړې توګه د خوړو ناخونديتوب په کچو کې له زياتوالي سره د اقليم بدلون اغېزې به غير مستقيمې پايلې ولري. په داسې حال کې چې د اقليم بدلون ځينې مثبتې اغېزې لکه د کاربن ډای اکسايد ($CO_2$) په کچه کې زياتوالی او د ودې اوږده موسمونه به را منځ ته شي، ډېر احتمال لري چې د تودوخې په درجو او اورښت کې بدلونونه د کرنې په دوديزو طريقو[50] باندې ډېرې ويجاړونکې اغېزې ولري.

په افغانستان کې، وچکالي د نورو ګواښونو په پرتله د نفوسو يوه لويه برخه اغېزمنه کوي. له ۱۹۶۹ کال را په دېخوا، د وچکالۍ د پېښو ژر ژر تکرارېدو په افغانستان کې پراخې اغېزې پر ځان پرې ايښې دي، د ۱۹۹۷ - ۲۰۰۸ کلونو وچکاليو نيږدې ۱۰ ميليونه خلک اغېزمن کړل[51] او له ۲۰۰۰ کال را په دېخوا ځلورو وچکاليو ۶.۵ ميليونه خلک اغېزمن کړي دي[52]. دغو وچکاليو د هېواد هايدرولوژۍ ته په دايمي ډول بدلون ورکړ، د بېلګې په ډول، د ځينو سيندونو ماهيت له واورو څخه د تغذيه کېدلو پرځای اوس په ټوليز ډول په باران باندې متکي شوي دي.

43. Doosti, A.A. & Sherzad, M.H. 2015. Climate Change and Governance in Afghanistan.
44. Singh et al. 2011. Climate Change in the Hindu Kush-Himalayas: The State of Current Knowledge.
45. ANDMA. 2011. Afghanistan Strategic National Action Plan for Disaster Risk Reduction: Towards Peace and Stable Development.
46. World Bank & GFDRR. 2017. Disaster Risk Profile: Afghanistan.
47. WFP, UNEP & NEPA. 2016. Climate Change in Afghanistan: What does it mean for Rural Livelihoods and Food Security?
48. CSO 2017. Afghanistan Statistical Yearbook 2017–2016. Kabul: Central Statistics Organization.
49. Afghanistan. 2012. Initial National Communication under the UNFCCC.
50. WFP, UNEP & NEPA. 2016. Climate Change in Afghanistan: What does it mean for Rural Livelihoods and Food Security?
51. Afghanistan. 2012. Initial National Communication under the UNFCCC.
52. World Bank & GFDRR. 2017. Disaster Risk Profile: Afghanistan.

اټکل شوی دی چې ډېرې سختې وچکالۍ تر ۳ میلیارده امریکایي ډالرو پورې د کرنیزو زیانونو لامل وګرځي[53]. د بېلګې په توګه، د وچکالیو په موده کې د افغانستان د څارویو نفوس تر ۵۰ سلنې پورې کمیږي چې دا یو د اندیښنې وړ خبرداری دی ځکه چې د یوه اټکل له مخې، د افغانستان۸۰ سلنه کورنۍ د خپل ژوند د پرمخ بېولو لپاره د مالدارۍ څخه چې د کرنې د GDP شا او خوا ۵۰ سلنه جوړوي ګټه اخلي[54]. دا ستونزه د جوړښت د ناقصو کړنو لکه له اندازې څخه زیاتو څړولو او په للمي کرنیزو ځمکو د څړځایونه بدلولو له امله نوره هم پراخېږي. له بله اړخه، په پسرلنیو اورښتونو کې ورانوونه شوی کمی کیدای شي د للمي کښت لپاره کوم چې د ودې په وخت کې کافي اورښتونو ته اړتیا لري ستونزې راولاړې کړي.

همدا رنګه د تودوخې درجې په زیاتوالي سره تمه کېږي چې د کرنیزو آفتونو او ناروغیو[55] خپریدلو او تکراریدلو پېښې ډېرې او دا به د ځمکې په حاصلخېزۍ او کرنیزو پیداوارو باندې ډېرې منفي اغېزې ولري. په ورته وخت کې دا ستونزه د دې اوبو لګولو لپاره ډېرو اوبو ته اړتیا زیاتوي چې دا په خپل وار سره د اوبو پر زېرمو فشار ډېروي.

د سیندونو د کڅونو (خوړونو) پراخېدو په کرنې باندې له ورانډې ډېرې منفي اغېزې واردې کړې دي دا ځکه چې په هېواد کې کرنیزې ځمکې معمولاً د سیندونو په خوا کې تنګې ساحلي ساحې دي. د تودوخې په لوړو درجو کې د واورو ویلې کیدو له امله د سیند په چټک ډول زیاتېدونکې اوبه به د ټولنې ټولې اقتصادي او تولیدي پانګې په آسانۍ سره له منځه یوسي، او دا حالت احتمال لري د اقلیم بدلون په شرایطو کې بیا بیا تکرار شي. ځایي سېلابونه له سختو اورښتونو څخه وروسته لکه څرنګه چې د افغانستان په سویل لویدیځ کې د ۲۰۱۹ کال په سېلابونو کې ولیدل شوه، ورته پایلې درلودای شي.

## ۴.۳ طبیعي زېرمې

افغانستان مختلف ایکوسیستمونه لري، چې د شمال ختیځ له لوړ غرني چاپېریال څخه نیولې په شمال او سویل لویدیځ کې تر دښتي ایکوسیستمونو پورې غزیدلي دي. دغه ایکوسیستمونه بېلا بېلو نباتاتو او حیواناتو سره مرسته او مهم ایکوسیستمي توکي او خدمتونه ورانډې کوي چې د کلیوالي ټولنو لپاره د ژوند بنسټ ګڼل کیږي. د بېلګې په توګه، د افغانستان د ټول مساحت ۴/۳ برخه سیمه د څارویو څړولو لپار کارول کیږي[56] او د دا شان سیمو ۴۵ سلنه د څړځایونو په توګه پېژندل شوې ده[58]. دغه څړځایونه د څارویو لپاره له واښو برسېره، د ایکوسیستم توکي لکه خواړه، سون توکي او درویی/طبي بوټي چې د کلیوالي ټولنو لپاره حیاتي ارزښت لري، برابروي. ځنګلونه د هېواد یوه کوچنۍ برخه تر پوښښ لاندې نیسي خو د ودانیو او نورو اړتیاوو لپاره د لرګیو مهمه زېرمه ګڼل کیږی لکه د سون لرګي، د ودانیو لپاره مواد، مغزباب او طبي بوټي او داسې نور.

په افغانستان کې څړځایونه، ځنګلونه او نور ایکوسیستمونه د لسیزو وچکالیو او ځنګلونو پرې کولو له امله ډېر زیات ویجاړ شوي دي[57]. دا ویجاړی په مختلفو عواملو پورې تړلی دی، لکه [59,60,61]:

۱. د نفوسو زیاتوالی
۲. د سرچینو ناسم مدیریت
۳. له حده زیاته ګټه اخیستنه
۴. د ځنګل جوړولو لپاره لره لېوالتیا
۵. ښاري پراختیا
۶. ځایي منازعات
۷. د ځمکې ناڅرګند ملکیت

[53]. World Bank & GFDRR. 2017. Disaster Risk Profile: Afghanistan.
[54]. Bedunah, D.J. 2006. An Analysis of Afghanistan's Rangelands and Management Issues for the Development of Policy and Strategies for Sustainable Management. USAID.
[55]. NEPA & UNEP. 2009. National Capacity Needs Self-assessment for Global Environmental Management and National Adaptation Programme of Action for Climate Change.
[56]. Bedunah, D.J. 2006. An Analysis of Afghanistan's Rangelands and Management Issues for the Development of Policy and Strategies for Sustainable Management.
[57]. Ali, A. & Shaoliang, Y. 2013. Highland Rangelands of Afghanistan: Significance, Management Issues, and Strategies. In: Ning et al. [eds.] High-Altitude Rangelands and their Interfaces in the Hindu Kush Himalayas.
[58]. Adger, N. 2000. Social and Ecological Resilience: Are They Related?
[59]. Shroder, J. 2012. Afghanistan: Rich Resource Base and Existing Environmental Despoliation.
[60]. UNEP. 2003. Post-Conflict Environmental Assessment: Afghanistan.
[61]. NEPA & UNEP. 2008. Afghanistan's Environment.

په پایله کې د ایکوسیسټمونو تخریب د بوټیو ټولنې بدلوي، خاورې توروي، د اوبو شتون کموي، او اصلي هستوګنځایونه له یو بله سره وېشي[62,63]. په حقیقت کې د افغانستان ډېری خاورې له وړاندې تخریب شوې دي[64] او د هېواد ۷۵ سلنه برخه لا له وړاندې د ځنګلونو پرې کولو له امله په صحراوو بدله شوې ده[65]، په داسې حال کې چې ۸۰ سلنه ځنګلي پوښ را کم شوی دی چې په ۱۹۵۰ کال کې له ۳ میلیون هکتارو څخه اوسمهال نیږدې ۱ میلیون هکتاره پاتې دي[66,67,68].

د ایکوسیسټمونو زیانونه او د ځنګلونو پرې کول به د اقلیم بدلون له امله لاپسې ګړندي شي. د تودوخې درجې زیاتوالی او غیر منظم اورښتونه په ځانګړې توګه په پسرلي کې – به د څارویو لپاره واښه کم او د څرځایونو حاصلخېزي لږه کړي. دا ستونزه د ۱۹۷۰ – ۱۹۷۲ کلنو په وچکالیو کې لیدل شوې وه چې د اوبو نشتوالی، د ناروغیو زیاتېدلو او د نا کافي خوړو له امله په ټول هېواد کې تر ۴۰ سلنې څاروي له منځه ولاړل. په تکراري ډول وچکالۍ به پر معیشتونو باندې منفي اغېز وکړي، او پایله به یې د وګړو بېځایه کېدل او په انساني هوساینه کې کمی وي.

پټېیل شوې ده چې د دې پېړۍ له پای ته رسېدلو مخکې به د اقلیم بدلون په نړیواله کچه او خاص ډول افغانستان کې د ژوند بڼو د له منځه تللو تر ټولو لوی لامل وي[69]. د بېلګې په توګه، د تودوخې درجې زیاتوالی به په جغرافیایي محدوده کې د نباتي ډولونو د ځایونو بدلولو لامل وګرځي چې په پایله کې نباتي پوښښ بدل او د ځنګلونو پرې کولو، د خاورې توږېدنې، سېلابونو، ایمالونو/ برفکوچونو او ځمکښویېدنو له خوا متوجه ګواښونه لا پسې زیات کړي[70].

## ۴.۴ جوړ شوی چاپېریال

د افغانستان جوړ شوی (مصنوعي) چاپېریال د ځلورو لسیزو جګړو له امله په پام وړ ډول زیانمن شوی دی. له ۱۹۷۰ کال را په دېخوا د انرژۍ تولیدولو ټېټې وړتیا له امله د انرژۍ داخلي تولید ډېر کمه اندازه وده کړې ده[71]. په پایله کې، افغانستان له ګاونډیو هېوادونو څخه پر وارده شوې برېښنا خورا زیات متکي دی او د افغانستان له ۳۰ سلنې څخه لږې کورنۍ د برېښنا ویش له شبکې سره نښلول شوې دي[72].

د اوبو پرېماني زېرمې د اوبیزې برېښنا تولیدولو لپاره د پام وړامکانات برابروي، اوسمهال د برېښنا تولیدولو ۵۰ سلنه له کورنیو سرچینو څخه ترلاسه کېږي[73]. د اقتصادي ودې په موخه د اوبیزې برېښنا وړتیا جوړولو ته لومړیتوب ورکړل شوی دی ترڅو پر وارداتي برېښنا تکیه راکمه شي[74]. دا په داسې حال کې ده چې د اقلیم بدلون به دغه هیلې هم له ګواښ سره مخامخ کړي. د اوبو نامظم شتون د ډاډ وړ برېښنا تولیدول محدودوي، په داسې حال کې چې مکرر سېلابونه هر کال د اوبیزې برېښنا تولیدولو آسانتیاوو او برېخ بنسټونو د ویجاړېدو لامل ګرځي؛ امکان لري چې دغه دواړې اغېزې د اقلیم بدلون راتلونکو شرایطو لاندې زیاتې شي.

په ۲۰۰۱ کال کې په اټکلیز ډول د سړکونو شبکې یوازې ۱۰ سلنه په ښه وضعیت کې وه[75]. د ټرانسپورټ برېخ بنسټونو بیا رغونه خدمتونو او مارکېټونو ته د لاسرسي ښه کولو له لارې د ټولنیزې-اقتصادي ودې کلی ګڼل کېږي، چې په تېرو دوو لسیزو کې د دولت او بسپنه ورکوونکو له خوا ډېره زیاته پانګونه وربانديې شوې ده. د اقلیم بدلون به دغه پانګونې او همدا رنګه نورې پراختیایي

62. Blench, R. & Sommer, F. 1999. Understanding Rangeland Biodiversity. Working Paper 121, Overseas Development Institute.
63. Alkemade et al. 2013. Assessing the impacts of livestock production on biodiversity in rangeland ecosystems. PNAS 20905–20900 :110.
64. Saba, D.S. 2001. Afghanistan: Environmental degradation in a fragile ecological setting. International Journal of Sustainable Development and World Ecology 289–279 :8.
65. Eswaran et al. 2001. Land degradation: an overview. In: Bridges et al. (eds.). Responses to Land Degradation. Proc. 2nd. International Conference on Land Degradation and Desertification.
66. Delattre, E. & Rahmani, H. (n.d.). A Preliminary Assessment of Forest Cover and Change in the Eastern Forest Complex of Afghanistan: Report Submitted to WCS Afghanistan and USAID.
67. Groninger J.W. 2012. Reforestation strategies amid social instability: lessons from Afghanistan. Environmental Management 845–833 :49.
68. Groninger, J.W. 2006. Forestry and forestry education in Afghanistan.
69. CBD. (n.d.). Climate Change and Biodiversity.
70. Doosti, A.A. & Sherzad, M.H. 2015. Climate Change and Governance in Afghanistan.
71. USAID. (n.d.). Afghanistan Energy Sector Overview; South Asian Regional Initiative for Energy Integration.
72. MEW. 2014. Renewable Energy Magazine.
73. DABS. 2013. Energy Sector Overview.
74. Afghanistan. 2008. Energy Sector Strategy.
75. Afghanistan. 2012. Initial National Communication under the UNFCCC.

لاسته راوړنې، کمزورې کړي. په ځانګړې توګه، اټکل کېږي چې سېلابونه په کلني ډول د سړکونو بېخ بنسټونو ته نیږدې ۴ میلیونه امریکایي ډالرو په اندازه زیانونه واړوي[76]. سېلابونه چې پلونه ویجاړوي او یا وربانډې تېریدل ناشوني کوي، همدا رنګه مهمو خدمتونو ته لاسرسی قطع کوي لکه د لیرې پرتو ټولنو لپاره، روغتیایي خدمتونه په ځانګړې توګه هغه وخت چې دغو مرستو ته ډېره زیاته اړتیا وي.

د افغانستان د نفوسو نیږدې یو پر څلورمه برخه په ښاري سیمو کې ژوند کوي[77]. ټمه ده چې دا شمېر به په ۲۰۶۰ کال کې دوه چنده شي او تر نیمایي پورې د هېواد وګړي به ښاري ژوند ته مخه کړي[78]. دا په داسې حال کې ده چې چټک ښاري کیدلو یو لړ ستونزې زیږولي دي لکه د کمزورو خدمتونو وړاندی کول، د وګړو زیاته ګڼه ګوڼه، ښاري بیوزلي او د ژوند کمزوري شرایط[79]. د اقلیم بدلون به پر ښاري اوبو رسولو باندې د څمکې لاندې اوبو د لړ شتون له امله اغېزې ولري او په ښاري سیمو کې په ځانګړې توګه په غیر پلاني میشت ځایونو کې به د سېلابونو د راوتلو لامل وګرځي. طبیعي پېښې به هم اقتصادي بېخ بنسټونه لکه صنعتي او تولیدوونکې آسانتیاوې ویجاړې کړي چې د بیکارۍ او د بیوزلۍ کچې به لا پسې زیاتې کړي.

## ۴.۵ روغتیا

د افغانستان وګړي د باکیفیته روغتیایي خدمتونو ته لاسرسي لپاره هڅې کوي. روغتیایي مرکزونو ته یوازې د ۵۰ سلنه وګړو لپاره تر نیم ساعت لږ واټن شتون لري، په داسې حال کې چې د روغتیایي خدمتونو کیفیت تر ډېره د ټیټې وړتیا او محدودو امکاناتو د ستونزو له امله ډېر ټیټ دی[80]. د دغو او نورو اساسي عواملو لکه رواني جګړې او مزمنې خوارځواکۍ له امله د افغان وګړو د عمر منځنۍ کچه د نړیوال اوسط عمر (۷۱ کالو) په پرتله ټیټه (۶۲.۶) کاله ده[81] سربېره پردې، یوازې ۴۰ سلنه کورنۍ د روغتیا پالنې غورو آسانتیاوو ته لاسرسی لری، او ۲۰ سلنه وګړي نا پاکې اوبه کاروي[82,83].

د اقلیم بدلون به په افغانستان کې پر روغتیایي خدمتونو فشار زیات کړي. د تودوخې درجې زیاتوالی او د اورښت په بڼه کې بدلونونه کولای شي چې باکتریایي ناروغۍ لکه کولرا[84] او محرقه[85] او همدا رنګه له حشراتو څخه راولاړې ناروغۍ لکه ملاریا[86] او لشمانیا[87] زیاتې کړي. یوه له اندېښنو څخه د تودوخې زیاتېدلو له امله د ګوزڼ ناروغۍ خپرېدل ده چې افغانستان یو له هغو دریو هېوادونو څخه دی چې دا ناروغي په کې اوس هم شتون لري[88]. د اقلیم بدلون به په دې ډول د ساري ناروغیو خپرېدل زیات کړي، سره له دې چې د روغتیا پالنې سیستم لا له پخوا تر فشار لاندې دی.

په افغانستان کې لا له پخوا څخه د خوار ځواکۍ اوچته کچه شتون لري[89]. په کرنیزو پیداوارو باندې د اقلیم بدلون منفي اغېزې به د هېواد په ډېرو برخو کې د خوړو خوندیتوب نور هم محدود کړي[90]، چې په پایله کې به مزمنه خوار ځواکي په اوږد مهاله ډول پاتې شي او په نتیجه کې به اړونده منفي اغېزې پر ټولنیزه وده باندې پرې باسي او همدا رنګه د نورو ناروغیو په وړاندې زیان منې زیاتې کړي. د تودوخې لوړه درجه احتمال لري چې د تودوخې څپو زیاتېدلو لامل هم وګرځي، کومې چې د زیان منونکو ګروپونو لکه ماشومانو، بوډا ګانو او ناروغانو لپاره په ځانګړې توګه ګواښناکې دي. دا به د اوبو په شتون کې متوقعه کمي له امله پر اوبو باندې فشار زیات کړي. ټمه ده چې د اقلیم بدلون د ناروغیو په خپریدلو او په نورو منفي پایلو باندې په مستقیم ډول اغېزه وکړي.

[76]. World Bank & GFDRR. 2018. Afghanistan: Multi-hazard risk assessment.
[77]. NSIA. 2020. Afghanistan Statistical Yearbook 2019.
[78]. UN-Habitat. 2015. The State of Afghan Cities.
[79]. Afghanistan. 2008. Afghanistan National Development Strategy 2013-2008.
[80]. WHO. 2017. Joint External Evaluation of IHR Core Capacities of the Islamic Republic of Afghanistan.
[81]. WHO. 2020. World health statistics 2020: monitoring health for the SDGs, sustainable development goals.
[82]. UNICEF. 2017. Afghanistan Annual Report 2017.
[83]. UNICEF. 2020. Country Profile: Afghanistan.
[84]. Asadgol et al. 2019. The effect of climate change on cholera disease: The road ahead using artificial neural network. PLOS ONE 14: e0224813.
[85]. Saad et al. 2018. Seasonal dynamics of typhoid and paratyphoid fever. Scientific Reports 8:6870.
[86]. Martens et al. 1995. Potential impact of global climate change on malaria risk. Environmental Health Perspectives 464–458 :103.
[87]. Kholoud et al. 2018. Management of Leishmaniases in the Era of Climate Change in Morocco. International Journal of Environmental Research and Public Health 1542 :15.
[88]. Oberste, M.S & Lipton, H.L. 2014. Global polio perspective. Neurology 1832–1831 :82.
[89]. Varkey et al. 2015. Afghanistan in transition: call for investment in nutrition. The Lancet 3: E-13E14.
[90]. WFP, UNEP & NEPA. 2016. Climate Change in Afghanistan: What does it mean for Rural Livelihoods and Food Security?

## ۵. د جوړښت پلانونه او ستراتېژۍ

په ۲۰۰۹ کال کې د [91] NAPA له چمتو کولو څخه وروسته، افغانستان یو شمېر ستراتېژۍ، پلانونه او نور کلیدي سندونه چمتو کړي دي چې په هېواد کې د اقلیم بدلون سره د جوړښت لومړیتوبونه په ګوته کوي. په دوی کې د پام وړ د افغانستان د اقلیم بدلون ستراتیژي او د عمل پلان [92] (ACCSAP)، د جوړښت ملي پلان [93] (NAP)، ملي ټاکل شوې موخې[94] (NDC) او د ټېکنالوژۍ اړتیاوو ارزونه[95] (TNA) دي. په داسې حال کې چې د اقلیم بدلون په هکله د ملګرو ملتونو چوکاټ کنوانسیون (UNFCCC) ته د افغانستان ملي رپوټونه هم د جوړښت ملي لومړیتوبونو په خپل ځان کې رانغاړي.

### ۵.۱ د جوړښت د عمل ملي پروګرام

د افغانستان NAPA، د اقلیم بدلون څخه د کلیدي سکټورونو د زیان منښې ارزونې پر بنسټ د جوړښت ملي لومړیتوبونه څرګند کړي دي. د دې پروسې له لارې د جوړښت تر پنځوسو ډېر انتخابونه وپېژندل شول او په اوو پراخو موضوع ګانو باندې د وېشلو څخه وروسته یې د جوړښت د ملي لومړیتوبونو په توګه د واحد نظر د ترلاسه کولو په موخه هر اړخیزه او څو معیاریزه ارزونه تر سره شوه. د دې ارزونې په پایله کې د یوولسو طرحو او پروژو نوملړ چمتو شو چې وروسته د نومړو طرحو او پروژو لپاره د لومړیتوب ټاکلو په موخه د ارزښت ورکولو یوه بله ارزونه وشوه. د دې درجه بندۍ پایلې په درېیم جدول کې راغلې دي.

درېیم جدول: د افغانستان پهNAPA کې د اقلیم بدلون سره د جوړښت د لومړیتوبونو درجه بندي[96].

| لیکه | د جوړښت د لومړیتوب نوم |
|---|---|
| ۱ | د اوبو غوره مدیریت او په کارونه کې سپما |
| ۲ | د آبخېزو په کچه د اوبو او ځمکې مدیریت |
| ۳ | د بنوالی پراختیا |
| ۴ | اصلاح شوې تراس بندي، کرنیزه ځنګلداري او د کرنې-ځنګل- څر سیستم |
| ۵ | کرنیزې څېړنې |
| ۶ | د څرځایونو مدیریت |
| ۷ | د پېښو د مدیریت ستراتېژۍ چمتو کول |
| ۸ | د خواړو غوره خوندیتوب |
| ۹ | د څارویو اصلاح شوې تولیدات |
| ۱۰ | د کرنیزو ځمکو څخه بهر کار موندنه |
| ۱۱ | اقلیم پورې اړوندې څېړنې او له وړاندې خبراوې سیستمونه |

[91]. NEPA & UNEP. 2009. National Capacity Needs Self-assessment for Global Environmental Management and National Adaptation Programme of Action for Climate Change.
[92]. NEPA. 2016. Afghanistan Climate Change Strategy and Action Plan.
[93]. NEPA. 2016. National Adaptation Plan for Afghanistan.
[94]. Afghanistan. 2015. Intended Nationally Determined Contribution.
[95]. NEPA. 2020. Technology Needs Assessment for Climate Change Adaptation.
[96]. Adapted from Table 12 in: NEPA & UNEP. 2009. National Capacity Needs Self-assessment for Global Environmental Management and National Adaptation Programme of Action for Climate Change.

## ۵.۲ د اقلیم بدلون ستراتیژي او د عمل پلان/د جوړښت ملي پلان[97]

ACCSAP او NAP، له ښکېلو خواوو لکه دولت، مدني ټولنو، او نورو شریکانو سره د مشورو پر بنسټ د یوې پراخې سلا مشورې پروسې له لارې چمتو شوي دي. د یادې پروسې په پایله کې د پلي کېدونکو لومړیتوبونو، ځواب ویونکو ستراتېژیو او موضوعګانو یو نوملړ چمتو کړ او د پلي کولو لپاره یې د درېو او پینځو کلونو تر منځ موده ایز چوکاټونه وټاکل، دا لومړیتوبونه په څلورم جدول کې په لنډ ډول راغلي دي.

څلورم جدول: د پلي کولو لومړیتوبونه، د ځواب ویلو ستراتیژۍ او موضوعات چې په ACCSAP او NAP کې راغلي دي

| د پلي کولو لومړیتوب | د ځواب ویلو ستراتیژي | موضوع |
|---|---|---|
| کرنه او د خوړو خوندیتوب | د غلو دانو مدیریت کول | د عامه ویش پالیسي او بېخ بنسټونه |
| | | د قېمت ګذارۍ او تدارکاتو پالیسي |
| | د کرنیزو څېړنو پراختیا | د کرنیزو څېړنو انستیتوت |
| د اوبو لګولو او اوبو زېرمو تلپاتي مدیریت | د خاورو ساتنه او څېړنه | |
| | د آبخېزي پلان جوړول او پلي کول | |
| | د نړیوالو ترټولو غوره طریقو معرفي کول | |
| | دودیزو سیستمونو لکه کاریز ته وده ورکول | |
| | د ویالو او کانالونو له یو بل سره نښلول | |
| | په للمي ځمکو کې د اوبو زېرمو مدیریت کول | |
| د پېښو د ګواښونو مدیریت | د پېښو لپاره چمتو والی | د IT پر مټ له وړاندې خبراوي سیستمونه |
| | | په خاېي او ولایتي کچو وړتیا جوړول |
| | د پېښو مدیریت او ورته رسېدنه | د پېښو د ګواښونو ارزونه، پلان جوړونه او ورته د مالي سرچینو برابرول |
| | | په ولایتي کچه وړتیا جوړوول |
| | | د پېښو د څارنې مرکز جوړول |
| بېخ بنسټونه او د ټولنې انعطاف منته | بېخ بنسټونو لکه سړکونو ته لاسرسي | |
| | د کلیوالي انرژۍ خوندیتوب پروژې | |
| | په کلیوالي سیمو کې عامه پوهاوی | |
| | د ټکنالوژۍ رول او د ټکنالوژۍ ودې بورډ جوړول | |
| پر انساني روغتیا باندې د اقلیم بدلون اغېزو ارزونه | په ټول هېواد کې پر انساني روغتیا باندې د اقلیم بدلون اغېزو ارزوونه | |
| | د حشراتو/نقل کوونکو څخه راولاړو ناروغیو په هکله پروګرام | |
| جنسیت/جندر او د اقلیم بدلون پر وړاندې انعطاف منته | د هېواد پر کچه په جندر باندې د اقلیم بدلون اغېزو په اړه څېړنه | |
| روزنه او د وړتیاوو جوړول | په کلیدي وزارتونو کې د روزنې اړتیاوو ارزونه | |
| | د اقلیم بدلون اغېزو او جوړښت په هکله روزنه | |
| | د زیان منې ارزولو لپاره د وړتیاوو جوړول | |
| | د تخنیکي پوهې را منځته کول | |

97. Adapted from “Afghanistan National Adaptation Plan – Implementation Priorities” in: NEPA. 2016. National Adaptation Plan for Afghanistan.; and “Climate Change Action Plan for Afghanistan” in: NEPA. 2016. Afghanistan Climate Change Strategy and Action Plan.

## ۵.۳ ملي ټاکل شوې موخې

د افغانستان NDC د دولت د پرېکړه کوونکو او نا دولتي بنسټونو او سازمانونو له استازو سره د يو لړ مشورتي ورکشاپونو په ترڅ کې چمتو او د اقليم بدلون وړاندوينو شوو اغېزو پر بنسټ د جوړښت لومړيتوبونه تشخيص کړل چې لنډيز يې د دې راپور په څلورمه برخه کې بيان شوی دی. دغه لومړيتوبونه او هغو پورې اړوندې ټکنالوژۍ او د وړتيا جوړولو اړتياوو لنډيز په پنځم جدول کې بيان شوي دي.

پينځم جدول: د جوړښت کړنې، او د افغانستان لپاره د ټکنالوژۍ او وړتيا جوړولو اړتياوې[98]

| د سازکارۍ کړنې | د ټکنالوژۍ اړتياوې | د وړتيا جوړولو اړتياوې |
|---|---|---|
| د ACCSAP جوړونه او تنفيذ | | |
| د څارنې او د زيان منني ارزولو او د اقليم له بدلون سره د جوړښت لپاره د يوه سيستم جوړول | د اقليم ساينس ټکنالوژي | په پوهنتونو کې د اقليم ساينس انستيټيوټونه |
| په سکټوري پاليسو، ستراتيژيو او پلانونو کې د اقليم بدلون سره د جوړښت ټکنالوژيو شاملول او د ټکنالوژۍ لېږد | د اقليم پاليسۍ ټکنالوژي او ميتودونه | د اقليم پاليسي کارپوهانو لپاره روزنه |
| د اوبو-هوا پيژندنې د يوه ملي ډيټابيس په ګډون د هايدرو- ميټورولوژيکي څارلو شبکو او خدمتونو غښتلي کول | هايدرولوژيکي، ميټورولوژيکي او د ډيټا تجهيزاتو او منسجم سيسټمونه | د هايدرو-ميټورولوژيکي او د ډيټا شاملولو سيسټمونو لپاره د چلوونکو او تحليل کوونکو روزنه |
| د کوچنيو، منځنيو او لويو بېخ بنسټونو بيا رغولو او بيا جوړولو له لارې د اوبو زېرمو پراختيا | د آبرېزو مديريت کولو ټکنالوژي او د ميتودولوژيو لېږد | د اوبو زېرمو لپاره ايکولوژيکي انجنيري او د فضايي پلان جوړونه |
| د ټولنې طبيعي زېرمو مديريت له لارې د آبرېزو غوره مديريت | د آبرېزو پلان جوړولو ټکنالوژيو او نمونو لېږد | د آبرېزو مديريت لپاره  کارپوهانو روزنه |
| د اوبو لګولو سيسټمونو بيا رغولو او پراختيا له لارې د اوبيزې کرکېلې پراختيا | د ايکو- کرنې او له اقليم سره سازګارو د اوبو لګولو ټکنالوژيو لېږد | د اوبو لګولو شبکو جوړولو او ساتلو په موخه حرفوي او انجنيرۍ وړتيا رامنځ ته کول |
| د ځمکې لږ تر لږه ۱۰٪ سيمه د ساتلو يوه سيستم لاندې | د ساتلو ايکولوژي ميتودونو او ابزارو لېږد | د ايکولوژيستانو او د ايکالوژيکي اقتصاد پوهانولپاره روزنه |
| د طبيعي زېرمو ناپايداره کارولو راکمولو او پر فوسيلي سون توکو باندې تکيه راکمولو په موخه د بيا نوي کېدلو وړ انرژۍ تقويه کول | د بيا نوي کېدلو وړ او پايښت لرونکې انرژۍ ټکنالوژيو لېږد | د پايښت لرونکې انرژۍ لپاره ملي مرکز؛ عامه او خصوصي شريکبانې |
| د اوسنيو تخريب شوو او له منځه تللو ځنګلونو او څرځايونو د ۴۰ سلنې بيا رغونه | د ځنګلدارۍ او څرځايونو مديريت کولو ټکنالوژي او ميتودونه | د پوهنتون، دولت او ځايي کچه مسلکي کار کوونکو ته روزنه |

[98]. Adapted from “Adaptation Needs and Means of Implementation” in: Afghanistan. 2015. Intended Nationally Determined Contribution.

## ۵.۴ د ټکنالوژۍ اړتیاوو ارزونه

د چاپېریال ساتنې ملي اداره په افغانستان کې د اوبو او کرنې سکټورونو لپاره د جوړښت ټکنالوژیو لومړیتوب ورکولو په موخه د TNA پروسې آسانتیا برابره کړې ده. په دې لومړیتوب ورکولو کې د جوړښت احتمالي ټکنالوژیو د اجراآتو ارزول شامل دي، ورپسې د لومړیتوبونو د ټاکلو په موخه د هر سکټور لپاره د بېلابېلو معیارونو ارزونې له کارولو سره د اړتیا وړ ټکنالوژۍ په ګوته شوې دي. د اوبو سکټور لپاره څلور لومړیتوبونه او د کرنې سکټور لپاره شپږ لومړیتوبونه په ګوته او درجه بندي شول چې پاېلې یې په شپږم جدول کې ښودل شوې دي.

شپږم جدول: په افغانستان کې د اوبو او کرنې سکټورونو لپاره د جوړښت اوچته درجه ټکنالوژۍ[99]

| لیکه | د کرنې سکټور | د اوبو سکټور |
|---|---|---|
| ۱ | د محصولاتو متنوع کول او د نوو محصولاتو ډولونه | د اوبوزېرمو هر اړخیز مدیریت |
| ۲ | د څواب ویونکې کرنې ترویج | کوچني بندونه او کوچنۍ آبرېزې |
| ۳ | د اقلیم پر وړاندې د مقاومو محصولاتو ډولونه | د باران سطحي اوبو زېرمه کول |
| ۴ | د ځمکې کارولو پلان جوړول | د اوبو اغېزمنې کارونې لپاره کوچنې/مایکرو اوبو لګول |
| ۵ | د کرنې ساتنه | |
| ۶ | کرنیزه ځنګلداري | |




[99]. Adapted from “Chapter 3 Technology Prioritization for Water Sector” and “Chapter 4 Technology Prioritization for Agriculture Sector” in: NEPA. 2019. Technology Needs Assessment.

## ۶. د مالي مرستو سرچينې

افغانستان له تاريخي پلوه د اقليم نړيوالو پانګو سره محدودې اړيکې درلودلې دي. په تېرو دوو لسيزو کې، په عام ډول سره د بسپنه ورکوونکو پام په امنيت، منازعاتو حل او حکومتولۍ باندې متمرکز وو او د اقليم بدلون سره د جوړښت په برخه کې پانګونه ورته ډېر مهم لومړيتوب نه بلل کېده. خو بيا هم، د افغانستان دولت د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۵ کلنو ترمنځ نيږدې ۱۰۰ ميليونه امريکايي ډالره د اقليم بدلون سره د مبارزې په برخه کې پانګونه کړې ده[100]، خو د پانګونې دغه کچه د اقليم بدلون سره د جوړښت لپاره د اړتيا وړ کلنۍ کچې (۱۰۷۸.۵ ميليونو امريکايي ډالرو) په نسبت ډېره کمه ده[101]. د پانګونې دغې کسر ته د رسيدګۍ لپاره، افغانستان بايد له يو لړ مالي مرسته ورکوونکو ميکانېزمونو په ځانګړې توګه د مالي مرسته ورکوونکو له څو اړخيزو سرچينو څخه د اقليمي پروژو او پروګرامونو لپاره له شته پانګې څخه ګټه پورته کړي. د دغسې سرچينو يو لنډيز په لاندې ډول ښودل شوی دی.

### ۶.۱ نړيوالې چاپېريالي آسانتياوې

نړيوالې چاپېريالي آسانتياوې (GEF) د اقليم بدلون سره د جوړښت لپاره درې مالي بسپنې (صندوقونه) اداره کوي. د ترټولو لږه وده کوونکو هېوادونو بسپنه (LDCF) چې په وروسته پاتې هېوادونو کې د اقليم بدلون سره د جوړښت لپاره د سمدستي او بېړنيو اړتياوو پوره کولو په موخه، څرنګه چې د هغوی په (NAPAs) کې راغلي دي، ځانګړې شوې ده. د اقليم بدلون ځانګړې بسپنه (SCCF) د LDCF تکميلوونکې ده او دا هم د اقليم په بدلون باندې متمرکزه ده، خو دا بسپنه د ټولو مخ پر ودې هېوادونو لپاره خلاصه ده او د يو لړ پراخو کړنو اجازه ورکوي. GEF د چاپېريالي پروژو او پروګرامونو لکه د ژوند بنو ساتنې، د ځمکو پايښت لرونکي مديريت او اقليم بدلون د اغېزو راکمولو سره مالي مرستې کوي. که څه هم دغه مالي بسپنه د اقليم بدلون سره جوړښت ته ځانګړې نه ده، خو د ايکوسيستم بيا رغولو پروژې کيدای شي چې د اقليم بدلون سره د جوړښت له ګډو ګټو څخه برخمنې شي که چيرې د ايکوسيستم پربنسټ جوړښت (EbA) اصولو په پام کې نيولو سره ډيزاين شي.

د پروژو کوچنيوالي ته په پام، د ځينې نورو بسپنو په پرتله لږ سختګير مقتضيات او لنډه پروسه، د کرنې او طبيعي زېرمو سکټورونو لپاره LDCF تر ټولو مناسبه بسپنه ده. د مناسبو پروژو په بېلګو کې د کوچنيو بزګرانو لپاره د اقليم بدلون پر وړاندې د مقاومې کرنې  طريقې او د ټولنې طبيعي زېرمو مديريت چې د EbA  طريقې کاروي، شامل دي. مالي مرسته د افغانستان دولت او د پلي کوونکو بنسټونو يوې ادارې چې GEF ورته اعتبار ورکړی وي، تر منځ په همکارۍ د پروژې پروپوزلونو سپارلو له لارې ترلاسه کيدای شي.

د دې راپور د چمتو کولو تر نېټې پورې، افغانستان د اقليم بدلون سره د جوړښت لپاره ۲۶.۹ ميليونه امريکايي ډالره د LDCF له لارې ترلاسه کړې دي. همدارنګه د وجهي صندوق له لارې د يو لړ چاپېريالي پروژو لکه د ژوند بنو د ساتنې، د ځمکې توږېدنې او د اقليم بدلون سره د جوړښت مهمو برخو لپاره په منظم ډول مالي مرستې ترلاسه کړې دي. افغانستان د يوه تر ټولو لږ وده کوونکي هېواد په توګه، له LDCF څخه په ټوله کې تر ۵۰ ميليونو امريکايي ډالرو پورې ترلاسه کولو وړتيا لري او د دې پانګې ۱۰ ميليونه امريکايي ډالره د اوسنۍ GEF-7 [102] مودې په دوران کې ترلاسه کولای شي. د هېواد څلورو لويو پروژو منظورولو ريکارډ ته پام، له LDCF  څخه دغو اضافي مالي مرستو ته لاسرسی بايد د GEF-7 دوران له پای ته رسېدلو مخکې د اوچت لومړيتوب په توګه وکتل شي. لاندينی اووم جدول په افغانستان کې د ټولو هغو پروژو يو لنډيز وړاندې کوي چې د LDCF او GEFد وجهي صندوق لخوا د اقليم بدلون سره د جوړښت، د اقليم بدلون راکمولو، د ځمکې پايښت لرونکي مديريت او ژوند بنو  په برخه کې پلې شوې دي.

[100]. GEF. 2019. Progress Report on the Least Developed Countries Fund and the Special Climate Change Fund. GEF/LDCF.SCCF.03/27

[101]. Afghanistan. 2017. Climate Public Expenditure and Institutional Review.

[102]. Afghanistan. 2015. Intended Nationally Determined Contribution.

اووم جدول: په افغانستان کې د GEFله خوا تمویل شوي پروژې

| د پروژې نوم | د پروژې بودجه | صندوق GEFد | پلې کوونکې اداره |
|---|---|---|---|
| د اقلمي بدلون څخه راولاړو طبیعي ګواښونو پر وړاندې په افغاني ټولنو کې د انعطاف منني رامنځ ته کول | ۵.۶ میلیونه امریکایي ډالره | LDCF | UNDP |
| طریقې له لارې د افغانستان د شمالي پستو کمربند د EbA او د ختیځ مختلطو ځنګلونو شا او خوا د مېشتو ټولنو انعطاف منني رامنځ ته کول | ۶.۹ میلیونه امریکایي ډالره | LDCF | UNEP |
| په پنجشیر، بلخ، ارزګان او هرات ولایتونو کې افغاني ټولنو لپاره له اقلیم څخه راولاړو طبیعي ګواښونو د مدیریت لپاره د کلیوالي ژوند د انتخابونو د انعطاف منني غښتلي کول | ۹ میلیونه امریکایي ډالره | LDCF | UNDP |
| په افغانستان کې د اقلیم بدلون پر وړاندې د جوړښت ورتیا او انعطاف منني رامنځ ته کول | ۵.۳۹ میلیونه امریکایي ډالره | LDCF | UNEP |
| په افغانستان کې د څړځایونو پایښت لرونکي مدیریت او د ژوند بنو ساتلو تقویت له لارې د ځمکې توربېدنې او د ژوند بنیو له منځه تګ سره مبارزه | ۵.۹۱ میلیونه امریکایي ډالره | وجهي صندوق | FAO |
| د کرنې او ځمکې کارونې او نورو سکتورونو څخه د افغانستان د شین کوریزو ګازونو د خپرېدنې راکمولو او اقلیم بدلون سره د جوړښت موخو څخه د څارنې او رپوټ ورکونې لپاره د وړتیاوو غښتلي کول | ۱.۳۵ میلیونه امریکایي ډالره | وجهي صندوق | FAO |
| د کوچنیو او مځنیو کچو شرکتونو د ارزښت زنجیرې تقویت لپاره د انرژۍ په سېما کې پانګونه | ۱.۳۲ میلیونه امریکایي ډالره | وجهي صندوق | UNIDO |
| په افغانستان کې د واورین پرانګ او د هغوی له ګواښ سره مخ ایکو سیستم ساتنه | ۲.۷ میلیونه امریکایي ډالره | وجهي صندوق | UNDP |
| په افغانستان کې د ټولنې ځمکو او ځنګلونو پایښت لرونکی مدیریت | ۱۰.۵ میلیونه امریکایي ډالره | وجهي صندوق | FAO |
| په افغانستان کې د ټولنې ځنګلونو او د بایوماس پایښت لرونکي انرژۍ له لارې د شین کوریزو ګازونو خپرېدنو راکمول | ۱.۷۴ میلیونه امریکایي ډالره | وجهي صندوق | FAO |
| په افغانستان کې د څو اړخیزو چاپېریالي هوکړه لیکونو د غیرمتمرکز پلې کولو او د طبیعي زېرمو مدیریت (MEA) لپاره د مرکزي وړتیا جوړول | ۰.۹۱ میلیونه امریکایي ډالره | وجهي صندوق | UNEP |
| د ساتلو شوو سیمو او د هغو ګډ مدیریت لپاره د منسجمو بېلګو رامنځته کول | ۶.۴۴ میلیونه امریکایي ډالره | وجهي صندوق | UNDP |
| د طبیعي زېرمو او بېوزلۍ راکمولو پروژه | ۰.۹۸ میلیونه امریکایي ډالره | وجهي صندوق | ADB |

## ۶.۲ د اقلیم بدلون سره د جوړښت بسپنه

د اقلیم بدلون سره د جوړښت بسپنه (AF) د اقلیم بدلون په هکله د ملګرو ملتونو چوکاټ کنوانسیون لاندې په مخ پر وده هېوادونو کې چې د کيوټو پروټوکول غړي دي، د جوړښت پروژو لپاره د مالي مرستو د چمتو کولو په موخه تأسیس شوې وه. دغه بسپنه د (GEF) لاندې د ترټولو لږ وده کوونکو هېوادونو بسپنې (LDCF) سره د فعالیتونو د تمویل څرنګوالي، د پروژې تائید پروسې، د نمونه ای پروژو اندازې او پلي کوونکو معتبرو ادارو له پلوه ډېر ورته والی لري.

د جوړښت بسپنې مدیره هیئت په موقت ډول د ۱۰ میلیونو امریکایي ډالرو ابتدایی/لومړنی بودیجه را منځته کړې ده. افغانستان په دې وروستیو کې د جوړښت له بسپنې سره یوه اړونده ملي  اداره ثبت کړې او د دې راپور د چمتو کولو تر نېټې پورې یوه پروژه د تقریباً ۹.۴ میلیونو ډالرو په ارزښت ترلاسه کړې ده. د GEF ترټولو لږه وده کوونکو هېوادونو له بسپنې سره د نوموړې بسپنې ورته والی او په دې برخه کې د افغانستان تجربو ته پام، د جوړښت له بسپنې څخه د مالي مرستو ترلاسه کولو ته باید د یوه اوچت لومړیتوب په توګه وکتل شي. د جوړښت بسپنې ته د مناسبو پروژو په برابرولو او تسلیمولو کې کیدای شي چې د اقلیم بدلون پر وړاندې مقاومه او انعطاف منونکې کرنه، د ټولنو په کچه جوړښت او EbA په پام کې ونیول شي.

## ۶.۳ د زرغون اقلیم صندوق

د زرغون اقلیم صندوق (GCF) د اقلیم بدلون په اړه د ملګرو ملتونو چوکاټ کنوانسیون لپاره د تمویل میکانېزم په توګه تأسیس شوی دی چې د مخ پر ودې هېوادونو لپاره د اقلیم په اړه په پراخه توګه د مالي مرستو اصلي سرچینې په توګه پېژندل کېږي. دغه سرچینه د اقلیم بدلون سره د جوړښت او د شین کوریزو ګازونو د راکمولو پروژو سره د ټیټې کچې خپریدنو او د اقلیم په وړاندې انعطاف منني را منځته کولو په تقویت کې مرسته کوي. تمه کیږي چې د زرغون اقلیم صندوق پروژې د هېوادونو اقلیم بدلون ستراتیژیو او پلانونو لکه NDCs، NAPAs او NAPs پر بنسټ تسلیم کړل شي.

د زرغون اقلیم صندوق له لارې د مالي مرستو لوی مقدار (اوسمهال ۸.۳ میلیارده امریکایي ډالره) [103] او د نورو وجهي صندوقونو په پرتله د زرغون اقلیم صندوق لوی حجم/سایز پروژې د دې لامل ګرځیدلې دي چې هېوادونه به خپل د اقلیم پانګې زیاتره اړتیاوې د زرغون اقلیم له صندوق څخه ترلاسه کړي. سره له دې، د پروژو د تصویب پروسه او د مالي مرستو ورکولو ګرندیتوب د زرغون اقلیم صندوق له پیل څخه ډېر ورو دی. دا کار د ځینو سببونو لکه د پروژو ډیزاینولو پروسه، په پروپوزلونو کې د اوچتې کچې غوښتنې او د بیاکتنو په پروسو کې سختګیریو له امله کېږي. بنا پر دې، باید ټوله تمه یوازې همدې صندوق ته پرې نه ښودل شي ځکه چې په عادي ډول د پروژو ډیزاینول، بیا کتنه او تأیید/منظوري له دوو کالو څخه زیاته موده نیسي.

افغانستان د راکمولو یوې وروستی پروژې له تصویب څخه وروسته د زرغون اقلیم له صندوق سره همغږي زیاته کړې ده. خو سره له دې، افغانستان د جوړښت پروژو لپاره کوم بریالی پروپوزل تر اوسه پورې نه دی وړاندې کړی. ډېر احتمال لري چې دا د وړاندوینې وړ راتلونکې لپاره، په هېواد کې د اقلیم پانګې ترلاسه کولو لپاره د وړتیاوو نشتوالي او همدارنګه د ګډې-پانګونې ټیټې کچې، د پانګوونې معیارونو لپاره د زرغون اقلیم صندوق غوښتنو پوره کولو په وړاندې محدودیتونو او د جوړښت کړنو واضحو اقتصادي ګټو ښودلو په اړه محدودې ډېټا، کومه چې د زرغون اقلیم صندوق پروژو لپاره لازمي شرط دی، له امله یوه ننګونه پاتې شي.

د زرغون اقلیم صندوق څخه د احتمالي پروژو د لومړیتوبونه یو نوملړ چمتو شوی دی چې له هغو څخه پینځه یې د جوړښت په برخه کې دي (۸ جدول وګورئ)، خو له دوی څخه ډېرې به د زرغون اقلیم صندوق غوښتنو پوره کولو لپاره د پام وړ سمون ته اړتیا ولري. د دغسې پروژو پوتانسیال ته په پام، په زیاته اندازه بدلون ترلاسه کولو په موخه د زرغون اقلیم صندوق مالي مرستو ترلاسه کولو ته باید د یوه اوچت لومړیتوب په توګه وکتل شي. په هر صورت، د هېواد په دننه د GCF پروپوزلونو چمتو کولو او ارزولو لپاره د لازمي وړتیا نشتون به خورا زیات ننګوونکی وي. نو له دې کبله، د GCF راتلونکو غوښتنلیکونو تسهیل لپاره د یوې بېړنۍ اړتیا په توګه دغه وړتیا جوړونه باید ترسره شي.

[103]. GCF. 2020. Status of Pledges and Contributions made to the Green Climate Fund.

اتم جدول: د افغانستان لپاره د GCF پروژو لومړنۍ طرحې

| د پروژې نوم | د پروژې بودیجه | وضعیت | تایید شوې پلې کوونکې اداره |
|---|---|---|---|
| د اقليم خدمتونو غښتلي کولو له لارې د انعطاف منني رامنځته کول او په افغانستان کې د اغېز پر بنسټ د ګنو پېښو څخه له وړاندې خبراوی | ۳۰ میلیونه امریکایي ډالره | ته پیشنهادي GCF طرحه سپارل شوې | UNEP |
| د اقليم پر وړاندې د ټولنې اوبو لګولو مقاوم ښځ بنسټونه | ۱۱۵ میلیونه امریکایي ډالره | وړاندیز شوې طرحه د چمتو کېدو په حال کې | UNDP |
| د اقليم ګواښونو د هراړخیز مدیریت له لارې د افغانستان په نورستان او بادغیس ولایتونو کې د خوړو له نا خوندیتوب سره مخامخ خلکو لپاره د وچکالي په وړاندې د انعطاف منني غښتلي کول | ۸.۹۵ میلیونه امریکایي ډالره | پیشنهادي طرحه د جوړیدو په حال کې | WFP |
| د ارغنداب-ارغستان فرعي سیندیزو حوزو او د هلمند سیند په ښکتنۍ سیندیزه حوزه کې د اقليم زیات بدلون له امله د وچکالۍ او سېلابونو په وړاندې د زیان منونکو ټولنو انعطاف منني رامنځ ته کول | ۹۱ میلیونه امریکایي ډالره | د مفهوم جوړولو مرحله | لا نه ده په ګوته شوې |
| د ایکوسیستم زیاتو خدمتونو فعالولو او د اقليم پر وړاندې انعطاف منني لپاره د ځنګلونو بیا رغول | ۴۳ میلیونه امریکایي ډالره | د مفهوم جوړولو مرحله | لا نه ده په ګوته شوې |

## ۶.۴ د لږو کرنیزو ځمکو لرونکو بزګرانو لپاره د جوړښت پروګرام

د لږو کرنیزو ځمکو لرونکو بزګرانو لپاره د جوړښت پروګرام (ASAP) یوه پنځونه (ابتکار) ده چې د کرنې ودې لپاره د نړیوال صندوق (IFAD) له خوا تمویلیږي او د لږو ځمکو خاوندانو ته د اقليم مالي مرستې ورکوي تر څو د اقليم بدلون سره د جوړښت وړتیا رامنځ ته کړي. دا پنځونه په کرنه کې د کرنې ودې لپاره نړیوال صندوق د روانو پانګونو تکمیلوونکې ده او د کرنې لږو ځمکو خاوندانو لپاره ګډه پانګه برابروي ترڅو د جوړښت فعالیتونه زیات کړي.

په افغانستان کې د لږو کرنیزو ځمکو بزګرانو لوی شمېر د اقليم بدلون سره د جوړښت وړتیا زیاتولو لپاره د ASAP یو په زړه پورې فرصت برابروي. په افغانستان کې د کرنې ودې لپاره نړیوال صندوق د پروژو ګروپ هم د ASAP مالي مرستو تکمیل لپاره ښه مناسب دی. نو له دې کبله، د IFAD په راتلونکو کاري پروګرامونو کې د ASAP مالي مرستو شاملول د افغانستان په پروژو کې باید یو اوچت لومړیتوب و ګڼل شي. دا کار به د دولتي بنسټونو لکه د چاپېریال ساتنې ملي اداري او د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د IFAD په ملتیا د راتلونکو پروژو په پلې کولو کې په خورا ښه ډول ترسره شي.

## ۶.۵ د اقليم نړیواله پنځونه

د اقليم نړیواله پنځونه (IKI) د جرمني دولت فدرالي وزارت لخوا د چاپېریال، طبیعت ساتنې او د اتومي/هستوي خوندیتوب لپاره تأسیس شوې ده ترڅو هېوادونه د اقليم بدلون په اړه د ملګرو ملتونو چوکاټ کنوانسیون او همدارنګه د ژوند بنو په اړه کنوانسیون (CBD) موخې ترلاسه کړي. په هغو پروژو کې چې د IKI له خوا تمویل شوې دي یو لړ چاپېریالي موخې، لکه د اقليم بدلون سره جوړښت شاملې دي. په ځانګړې توګه، د اقليم بدلون لپاره د IKI څخه د مالي مرستو له ترلاسه کوونکو هېوادونو سره مرسته کیږي ترڅو هغوی پر EbA باندې په تمرکز سره خپل NDCs پلې، د پېښو ګواښونه راکم او د خپلې NAP پروسې پر مخ بوزي.

په عام ډول IKI هغو پروژو سره مرسته کوي چې د LDCF پروژو سره په حجم او ماهیت کې ورته والی ولري چې افغانستان لا له پخوا د دا شان پروژو دغوښتنلیکونو د چمتو کولو تجربه لري. غوښتونکې کېدای شي پلې کوونکې ملي اداري، نا دولتي سازمانونه (NGOS) او نور ملي یا نړیوال سازمانونه وي. د اقليم پانګو ترلاسه کولو لپاره د وړتیاوو ټیټو کچو ته په پام، احتمال لري چې په افغانستان کې هره پروژه به د مالي مرستو په ترلاسه کولو کې نړیوالو سازمانونو ته اړتیا ولري. سره له دې، د IKIs د مالي مرستو ترلاسه کولو لپاره د غوښتنلیکونو چمتو کول باید یو اوچت لومړیتوب وي. د IKI موضوع پورې تړلې طرزالعمل د انتخاب لپاره په مناسبو موضوعګانو کې د ایکوسیستم پر بنسټ جوړښت (EbA)، د ټولنې په کچه د پېښو د ګواښونو راکمول (DRR) او د اقليم بدلون لپاره د پالیسو، ستراتیژیو او پلانونو چمتو کول شامل دي.

## ۶.۶ دولتي لګښتونه

د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۵ کلونو تر منځ، د افغانستان دولت شا او خوا ۱۰۰ میلیونه امریکایي ډالره د اقلیم بدلون نیږدې ۳۰۰۰ پروژو کې د نهو اړوندو وزارتونو او دولتي بنسټونو له لارې مصرف کړي دي[104]. په داسې حال کې چې د اقلیم بدلون په لګښتونو کې د سمونونو لپاره یوه روښانه اړتیا شتون لري، سره له دې چې دولت په اقلیم بدلون باندې پانګونه کوي. د لنډ مهال څخه تر منځ مهاله پورې، احتمال لري چې دا به د اقلیم بدلون پروژو تمویل لپاره تر ټولو مهمه سرچینه وی ځکه چې په لویه کچه مالي مرستې کوم چې د زرغون اقلیم صندوق له خوا ورکول کېږي احتمالاً ډېر وخت نیسي. نو بنا پر دې، دا څرګنده ده چې د افغانستان دولت به د جوړښت پانګو لپاره د یوې مهمې سرچینې په توګه پاتې شي. د جوړښت په برخه کې د دولت په لګښتونو کې سمون به په راتلونکې کې مالي سرچینو لکه د زرغون اقلیم صندوق ته لاسرسی آسانه کړي او دا به د اغېزمنتوب په زیاتولو سره د ګډې پانګونې لپاره چې د زرغون اقلیم صندوق د پروژو لپاره اړینه بلل کېږي زمینه مساعده کړي.

د اقلیم بدلون په اړه د دولت پانګونې متمرکزه او ځانګړې کول به په جوړښت کې د نورو پانګوونو لپاره زمینه برابره کړي. د چاپېریال ساتنې ملي ادارې اوسمهال د اقلیم بدلون متمرکزه وجهي صندوق او د پانګونې صندوق[105] را منځته کول تر غور لاندی نیولي دي. دا کار په نورو هېوادونو کې په بریالیتوب سره آزمایل شوی دی، او په ځینو مواردو کې دغه صندوقونه د ګنو پانګو لپاره د ملي پلي کوونکو بنسټونو په توګه را څرګند شوي دي. په پایله کې، د اقلیم بدلون سره جوړښت ته لومړیتوب ورکولو په اړه د دولت پانګونې په تنظیمولو کې سمونونه راوستي دي.

## ۶.۷ دوه اړخیز بسپنه ورکوونکي

افغانستان په بهرنیو مرستو باندې خورا زیات متکي دی، د ۲۰۲۰ مالي کال کې د ملي بودجې ۴۸ سلنه له بسپنه ورکوونکو څخه تر لاسه شوې ده[106]. له دې سربېره، بېلا بېل بسپنه ورکوونکي د دولت، ملګرو ملتونو ادارو، نا دولتي سازمانونو او نورو بنسټونو له لارې د اقلیم بدلون سره د جوړښت او همدا رنګه د اقلیم بدلون پوری اړوندو نورو لومړیتوبونو لکه د خوړو خوندیتوب، کرنې، د انعطاف منښې را منځته کولو او د پېښو د ګواښونو راکمولو لپاره اضافي مرستې ورکوي. دغسې مرستې د پروګرامونو لومړیتوب پر بنسټ په جلا جلا ډول ورکول کېږي. دا کار د جوړښت لپاره د پانګې اندازې زیاتولو یو مهم فرصت را منځته کوي، خو په دوامداري هڅونې او ژمنتیا پورې اړه لري. دغسې ژمنتیا باید یو اوچت لومړیتوب وګڼل شي، تر څو د اقلیم بدلون په اړه د دولت پروګرامونو سره همغږې شي.

## ۶.۸ څو اړخیز پراختیایي بانکونه

څو اړخیز پراختیایي بانکونه (MDBs) لکه نړیوال بانک او د آسیا پراختیایي بانک د یو لړ دودیزو پراختیایي فعالیتونو لپاره د مالي مرستو د پام وړ اندازه برابروي. په عام ډول سره، په افغانستان کې دا ډول پانګونې تر ډېره د کرنې او لویو ښخ بنسټیزو پروژو لپاره ورکړل شوې دي ځکه چې دا دواړه سکټورونه د اقلیم بدلون څخه تر ګواښ لاندې دي. برسېره پردې، څو اړخیز پراختیایي بانکونه کولای شي چې له څو اړخیزو پانګو سره د اړیکو ټینګولو لپاره ستراتیژۍ جوړې کړي او همدا رنګه د داسې مالي سرچینو لپاره د یوې مرجع په توګه عمل وکړي. د بېلګې په توګه، نړیوال بانک د سویلي آسیا سیمې لپاره د اقلیم بدلون عمل پلان جوړوي تر څو د افغانستان په ګډون په سیمه کې، د راتلونکو فعالیتونو لارښودنه وکړي. همدا رنکه، نړیوال بانک د افغانستان بیا رغونې وجهي صندوق لپاره امانت دار هم دی. له څو اړخیزو بانکونو سره تعامل باید د دې لپاره وي چې په ټولو پروژو کې د اقلیم بدلون شاملول او د جوړښت لپاره ځانګړې پانګه په پام کې نیول ډاډ من شي په دې ډول باید ورته لومړیتوب ورکړل شي.

څو اړخیز پراختیایي بانکونه په عام ډول سره د NDCs پر بنسټ بدلون رامنځ ته کوونکو او نورو ملي لومړیتوب لرونکو پروژو سره مرسته کوي. برسېره پر دې، څو اړخیز بانکونه هغه پروژو ته لومړیتوب ورکوي چې څرګندې اقتصادي ګټې ولري. په دې دواړو مواردو کې، څو اړخیز بانکونه د زرغون اقلیم صندوق سره ورته والی لري. له بله اړخه، له نوموړو بانکونو څخه د مرستې ترلاسه کولو په برخه کې هماغه ننګونې شتون لري کومې چې د زرغون اقلیم صندوق څخه د مرستې په برخه کې یې یادونه وشوه. د بېلګې په ډول، د نوموړو بانکونو څخه د پانګې ترلاسه کولو لپاره ناکافي تخنیکي وړتیا، د ګډې پانګونې ټیټه کچه او د جوړښت د اقتصادي ګټو د تصور اثبات لپاره د محدودې ډېټا شتون ځینې لویې ننګونې بلل کېږي. څو اړخیز پراختیایي بانکونه به شایي وکولای شي چې د کرنې، اقلیم پر وړاندې انعطاف منونکو ښخ بنسټونو او د پېښو د ګواښونو راکمولو په سکټورونو کې د جوړښت پایښت لرونکو مهمو پروژو ته د لاسرسي زمینه برابره کړي.

[104]. Afghanistan. 2017. Climate Public Expenditure and Institutional Review.
[105]. NEPA. 2020. Environment Sector Vision: Afghanistan.
[106]. Ministry of Finance. 1399 .2020 National Budget (Enacted).

# ۷. د جوړښت وړاندیز شوې کړنې

د جوړښت وړاندیز شوو کړنو لاندینی نوملړ د دولت پلانونو او ستراتیژۍ سندونو چې په پینځمه برخه کې راغلي دي او د اقلیم بدلون سکټوري اغېزو پر بنسټ چې د دې راپور په څلورم څپرکي کې پرې بحث شوی، ترتیب شوی دی. د جوړښت هرې کړنې لپاره چې دلته ښودل شوې دي، ځینې وړاندیز شوي فعالیتونه او همدا رنګه د تمویل احتمالي سرچینې د مرسته کوونکو لومړیتوبونو او د پروژو ماهیت پر بنسټ وړاندي شوي دي. د دغو کړنو تر منځ یو شمېر بین البیني اړیکې او مشابهتونه شتون لري، د بېلګې په ډول، د اوبو سرچینو هر اړخیز مدیریت په کرنه او ښاري سیمو کې د اقلیم بدلون سره د جوړښت په را منځ ته کولو کې مستقیمې اغېزې لري. دغه مشابهتونه د امکان تر بریده څرګند شوي دي او باید چې پاملرنه وشي چې په بېلابېلو سکټورونو کې د جوړښت د پروژو په پلي کولو کې پوره همغږي شتون ولري.

دې ټکي ته هم باید پام وشي چې د جوړښت په ټولو کړنو کې وړتیا جوړولو ته اړتیا ده. د وړاندیز شوو کړنو په ځینو مواردو کې، د ځانګړو وړتیاوو جوړولو لومړیتوبونه په ګوته شوي دي. خو په افغانستان کې د وړتیاوو اوسنیو تشو او چټک پرمختګ په پام کې نیولو سره د جوړښت تخنیکونه او ټکنالوژۍ به د اقلیم بدلون په ټولو پروګرامونو او پروژو کې د وړتیا جوړولو شاملول لازمي کړي. د جوړښت پروګرامونو او پروژو لپاره د وړاندیزونو د طرحو او غوښتنلیکونو چمتو کولو لپاره وړتیا جوړول یو ځانګړی لومړیتوب دی. په تېرو لسیزو کې ډېری دولتي مقاماتو او نورو پراختیایي فعالینو د بسپنه ورکوونکو د مرستو لپاره د بشر دوستانه او پراختیایي پروژو په ډیزاینولو کې کافي تجربه ترلاسه کړې ده. سره له دې، د اقلیم بدلون سره د جوړښت لپاره د پانګې برابرولو په موخه تخصصي او دقیقي څېړنې ته اړتیا ده کومه چې د پراختیایي مرستو نورو ډولونو لپاره لازمي نه ده. د بېلګې په توګه، د اقلیم بدلون ډېری مالي میکانیزمونه د دودیزو پراختیایي پروژو د منلو لپاره د اقلیم بدلون په اړه د نوموړو پروژو د څرګندو اغېزو، او همدا شان د جوړښت ښکاره ګټو او د تلپاتې پراختیا موخو ته په رسېدو کې د هغوی د ونډې په اړه معلومات غواړي. نو ځکه، د اقلیم بدلون سره د جوړښت په برخه کې د پروژو د غوښتنلیکونو لپاره د وړتیاوو جوړولو ته باید لومړیتوب ورکړل شي.

## ۷.۱ د اقلیم بدلون پر وړاندې د اوبو انعطاف منونکو سرچینو هر اړخیز مدیریت

په افغانستان کې د اقلیم بدلون لومړني ګواښونه سېلابونه او وچکالۍ دي. نو له دې کبله، د ژوند او معیشتونو پر وړاندې د چټکو او سوکه پېښو د ګواښونو راکمولو لپاره د اوبو سرچینو هر اړخیز مدیریت یو اوچت لومړیتوب دی. دا به د اقلیم بدلون له کبله روغتیا ته په متوجه ګواښونو باندې چې کله ناروغۍ له اوبو څخه د لېږدوونکو له خوا خپرېږي، هم مثبتې ګټې ولري. د اوبو سرچینو هر اړخیز مدیریت (IWRM) چې د اقلیم بدلون پر وړاندې انعطاف منته هم په پام کې نیسي، د جوړښت د ملي عمل پروګرام[107](NAPA)، د افغانستان د اقلیم بدلون ستراتیژي او عمل پلان او د جوړښت ملي پلان [108](ACCSAP/NAP)، ملي ټاکل شوو موخو [109] (NDC) او د ټکنالوژۍ اړتیاوو ارزونې (TNA) [110] له خوا د جوړښت لپاره د یو اوچت لومړیتوب په توګه پېژندل شوی دی.

د جوړښت لپاره د اقلیم بدلون پر وړاندې د اوبو انعطاف منونکو سرچینو په هر اړخیز مدیریت کې د کرنې، صنعت او کورني مصرف لپاره د زیاتو اوبو شتون تضمین شامل دی. په دې کې د اوبو جریان کنټرولو لپاره دواړه "ملموس" او "غیر ملموس" غوراوي شامل دي. ملموسې کړنې د اوبو سرچینو مدیریت لپاره ببخ بنسټیزې او ډیزاین شوې حل لارې دي. بندونه او د اوبو ذخیرې کولای شي چې د اوبو پریمانۍ په وخت کې اوبه ذخیره او بیا د اوبو لږوالي په وخت کې خوشې کړي. دا کار کولی شي چې د اوبو د زیاتو جریانونو په راکمولو سره د سېلاب له امله د ویجاړیو اوښتو مخه ونیسي او په ورته وخت کې د اوبو لږ جریان په صورت کې د ذخیره شوو اوبو په واسطه د وچکالۍ اغېزې راکمې کړي. په اضافي ګټو کې د اوبیزې برېښنا تولید لپاره وړتیا (پوټانسیال)- په افغانستان کې د انرژۍ د پام وړ سرچینه او همدا رنګه د اوبیزو ایکوسیسټمونو ساتنه شامل دي.

د IWRM لپاره په نورو ملموسو کړنو کې د حوزو په داخل او د حوزو ترمنځ د اوبو لېږد پروګرامونه دي چې انساني غوښتنې پوره کوي او د اوبو ویش سیسټمونه سره نښلوي تر څو په ټول افغانستان کې د اوبو په شتون کې د شته بدلونونو کچه راټیټه کړي. دا به له پرېمانه اوبو لرونکو سیمو څخه نورو سیمو ته چې کمې اوبه لري د اوبو لېږد زمینه مساعده کړي او په دې ترتیب به د اوبو خوندیتوب زیات کړل شي. په ښاري سیمو کې، د ناولو اوبو مدیریت او د باران اوبو تخلیه په ټوله کې کولای شي چې د اوبو زېرمو مدیریت او همدا رنګه د اقلیم بدلون روغتیايي اغېزو، په ځانګړې توګه له اوبو څخه راولاړو ناروغیو په له منځه وړلو کې مرسته وکړي.

---

[107]. Priorities: “Improved water management and use efficiency” and “Land and water management at the watershed level”.
[108]. Priorities: “Sustainable irrigation and water resource management”, “Watershed planning and implementation” and “Interlinking of canals and water bodies”.
[109]. Priority: “Development of water resources through rehabilitation and reconstruction of small-, medium- and large-scale infrastructure”.
[110]. Priority: “Integrated water resource management”.

د اوبو سرچينو د مديريت غير ملموسې او د وړتياوو جوړونې کړنې د اقليم بدلون له امله د اوبو سرچينو په کچه کې د بدلون سره د مبارزې لپاره د اداري او بنسټيزو ميکانيزمونو بيا رغول شامل دي. دغه غيرملموسې کړنې د اوبو غوښتنه او رسول د پاليسيو، اقتصادي وسايلو، د ځمکې کارولو پلانونو، عامه پوهاوي او نورو اقداماتو له لارې په غوره ډول مديريت کوي. دا کار به د اوبو سرچينو په اغېزمن ډول ويش (تخصيص)، ساتل او کارول ښه کړي. دغسې غيرملموسې کړنې د ملموسو کړنو په پرتله عموماً ارزانه او لږ لګښت لري، په ځانګړې توګه په اوږد مهال کې. همدا رنګه غيرملموسې کړنې کله چې د ملموسو کړنو پوره کولو لپاره پلي کړل شي، خورا زياتې ګټورې ثابتيږي. پر همدې دليل، IWRM بايد د اقليم بدلون سره د جوړښت لپاره د غيرملموسو او وړتياوو لوړولو او همدا شان د ملموسو کړنو له لارې د اوبو پر غوښتنې (تقاضا) پر ډېر تأکيد ولري، په ځانګړې توګه د افغانستان په شرايطو کې چې ټمه کيږي په عمومي ډول د اوبو شتون کم شي.

- **د اقليم راتلونکو شرايطو لاندې د اوبو کچې معلوملو لپاره هايدرولوژيکي څېړنې**

د اقليم بدلون راتلونکو شرايطو لاندې په ځای او وخت کې د اوبو کچې په اړه د غوره معلوماتو لرل، د اوبو سرچينو مديريت لپاره ډېر مهم دي. دا موضوع په ځانګړې ډول هغه وخت نوره هم ارزښتناکه بلل کېږي چې د اورښت په وخت او کچه کې د بدلون او د لوړې تودوخې له امله د اوبو تبخير د اندېښنې وړ وي.

د افغانستان د پينځو لويو سيندېزو حوزو لپاره يوه هر اړخيزه څېړنه يا د دغسې څېړنو يوه لړۍ به ډېره مهمه وي او د اقليم پر وړاندې انعطاف منونکی IWRM به ملي پلان جوړونه او د هغې پلي کول پياوړي کړي. همدا رنګه دا به د کرنې، صنعت او کورنيو په سکټورونو کې د اوبو غوښتنو او رسولو په اړه د پرېکړه کوونکو لپاره د معلوماتو برابرولو له لارې، د جوړښت نور لومړيتوبونه چې په دې رپوټ کې طرح شوي دي، په ګوته کړي. همدا رنګه، دا ډول هايدرولوژيکي څېړنې کيدای شي چې د اقليم بدلون معلوماتو په ملي سيستم کې چې اوسمهال د افغانستان دولت له خوا د اقليم بدلون اغېزو څېړنې، څارلو او د جوړښت راتلونکو فعاليتونو لپاره کارول کېږي شاملې کړل شي. د اقليم بدلون راتلونکو شرايطو لاندې د هايدرولوژيکي څېړنو پيل کولو لپاره په لومړيتوب لرونکو کړنو کې بايد لاندينې کارونه شامل وي:

- د افغانستان پينځو لويو سيندېزو حوزو لپاره د اوبو کچې ارزونه - ترجيحاً د فرعي حوزې په کچه (په دغو پينځو لويو سيندېزو حوزو کې۴۱ فرعي سيندېزې حوزې شتون لري) – تر څو د اورښت کچه، د اوبو جريان، تبخير او تر ممکنه کچې پورې د زېرمه کېدو کچې وټاکل شي.
- د تاريخي ډېټا پر بنسټ د اوبو کچې د تېرو ميلانونو نمونې ارزول (هم له کميتي او هم له کيفي پلوه) د اقليم له تاريخي ډېټا سره د پرتله کېدو او په بېسلاين سناريو کې د اوبو کچې د شتون اټکل په موخه.
- په راتلونکي کې د اوبو د کچې د معلوملو لپاره د اوبو د اوسنۍ کچې، تاريخي ميلانونو او د اقليم بدلون د وړاندوينو د بېلابېلو سناريوګانو پرتله.
- په هغو سيندونو باندې د اقليم د بدلون ځانګړې څېړنې چې د اوبيزې برېښنا د توليد او يا د اوبو د زېرمه کولو وړتيا لري، په دې څېړنو کې په نوموړو بيخ بنسټونو باندې د اقليم بدلون اغېزې، او پر چاپېريال، ټولنو او اقتصاد باندې د دې بيخ بنسټونو مثبتې او منفي اغېزې بايد څرګندې شي.
- د اوبو کچې په منظم ډول بيا ارزونې لپاره د يوه سيستم را منځته کول تر څو له درېو فعاليتونو څخه چې پورته ذکر شوي دي په منظم ډول د هر يوه بيا کتنه وشي (د بېلګې په توګه هر ۳-۵ کلونه وروسته) او چې کله نوې دېټا د لاسرسي وړ شي (لکه، د اقليم نوې نمونې جوړې شي).

- **د اقليم په وړاندې مقاوم IWRM لپاره بنسټيز ميکانيزمونه او پلان جوړونه**

د اقليم بدلون سره په جوړښت کې د IWRM اوږد مهاله برياليتوب په اغېزمنه او همغږې شوې پلان جوړونه او پلي کولو پورې اړه لري. پر مديريت او بنسټيزو وړتياوو باندې پانګونه به د اقليم بدلون له امله را منځته شوې زياتې بدلون منښې سره سره په بيخ بنسټونو باندې د پانګونو عوايد زيات کړي. دا به په ټولو کچو کې د اوبو سرچينو څارونکو ته اجازه ورکړي ترڅو د اوبو د بې ثباتۍ په وخت کې د اوبو په مديريت، زېرمه کولو او وېش کې غوره والی رامنځ ته کړي.

کره او پر وخت معلومات او همدا شان ځواب ويونکې او د اقليم بدلون سره انعطاف منونکې مديريت به د اوبو شتون او خونديتوب په پام وړ ډول زيات کړي. همدارنګه غښتلې شوې وړتياوې به مطلوب پرېکړه کول او په همدې ډول د هايدرولوژيکي، ټولنيز-اقتصادی، چاپېرياليز پېچلتيا په بنسټ په دواړو ملموسو او غيرملموسو کړنو کې د پانګونې ترټولو زيات عوايد او د اقليم په وړاندې مقاوم IWRM کې په نورو ښکېلو عواملو باندې باوري کړي.

په افغانستان کې، دا به د مرکزي دولت په کچه بېلا بېلو شکيلو بنسټونو (لکه د چاپېريال ساتنې مالي اداري، د اوبو چارو د تنظيم ملي اداري، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، او د کليو د بيا رغونې او پراختيا وزارت، ښاروالیو او ولايتي مقاماتو) او همدا رنګه د نورو شکېلو خواوو لکه د اوبو کاروونکو سيمه ايزو انجمنونو، جدي همکارۍ ته اړتيا ولري. دغه بنسټونه به د مختلفو جغرافيايي سيمو او د کال په مختلفو وختونو کې د اوبو سرچينو نسبي کموالي او زياتوالي ته په پام، تخصيص اصلاح کړي. د اقليم پر وړاندې مقاوم IWRM لپاره پلان جوړونې په موخه په احتمالي لومړيتوب لرونکو کړنو کې لانديني موارد شامل دي:

- د مختلفو کاروونکو سکټورونو (لکه کرنې، صنعت او کورني لګښت) اړتياوو ګډه ارزونه د ټولنې پر زيان منونکو ګروپونو لکه ښځو، ماشومانو، د زيات عمر خلکو، معلوليت لرونکو خلکو، راستنيدونکو، کډوالو، او کورنيو بې ځايه شوو خلکو او د توکم لړکيو باندې له ځانګړې تمرکز سره.
- د اقليم پر وړاندې مقاوم IWRM لپاره د موخو او لومړيتوبونو په ګوته کول د اوبو کچې ارزونو، مشورو او ګډو ارزونو پر بنسټ د اقليم بدلون متوقعه اغېزو په رڼا کې.
- په ملي، ولايتي، ولسواليو او بانډو په کچه د لومړيتوبونو د ټاکلو، عامه تعبير او د ټولنو ژمنو ترلاسه کولو په موخه سلا مشورې ترڅو د ښځ بنسټيزو کړنو منفي ټولنيزې اغېزې تر ټولو شکته کچې ته راټيټې او مثبتې هغه يې تر ټولو لوړې کچې ته لوړې کړي.
- د غيرملموسو کړنو ارزونې، د هغوی مالي، چاپېريالي او سياسي امکان سنجۍ په ګډون د اوبو ملي پاليسيو، ستراټيژيو، پلانونو او قانون چې ورته اړتيا وي، د جوړولو، بيا کتنې او تعديل په اړه اطلاع ورکول. په دغه شان کړنو کې لاندې کارونه شامل دي:
    - د اوبو محدوديتونو او وچکاليو يا د اوبو کموالي په وخت کې د کرنې، صنعت، کورنيو او نورو بېلابېلو سکټورونو لپاره د اوبو کارونې لپاره د لومړيتوبونو ټاکل.
    - د اوبو په اغېزمن ډول کارولو او سپما په موخه د کرنې، صنعتي او کورنيو سکټورونو لپاره د اوبو د بيې بېلابېلې تعرفې او نورې تنظيمونکې کړنې.
    - د اقليم په وړاندې د ځمکې کارولو انعطاف منونکې پلان جوړونه ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د ځمکې کارولو بېلابېل ډولونه په لږ ګواښ لرونکو سيمو کې پراته وي، د اوبو متمرکزې پروسې په هغو سيمو کې پرتې وي چې نسبتاً پريمانې اوبه لري او يا دا چې د ځمکو کارونې اغېزې د اوبو پر زېرمو باندې کمې شوې وي.
    - د اړيکو او شکايتونو ته د رسيدنې ميکانېزمونه د منازعاتو پر وخت پېژندلو او حل کولو لپاره او په اوبو خونديتوب پورې تړلې نورې ستونزې.
    - د اوبو زېرمو مديريت اهميت په اړه عامه پوهاوی او د اوبو نورو کاروونکو، طبيعي ايکوسيستمونو او د هايدرولوژيکي دوران ښه فعاليت لپاره د اقليم بدلون پايلې.
- د ټولو وزارتونو او سکټورنو له تخنيکي، اداري، پاليسي او نورو کارپوهانو سره د کاري ګروپونو له لارې د اوبو ملي پاليسيو، ستراټيژيو، پلانونو او قانون جوړولو، بيا کتنه او تعديل.
- د ولايتونو، ولسواليو او ټولنو په کچه د ملي سطحې پلانونو سره سم د اوبو دويمه درجه ملي پلانونو جوړول.
- په اړوندو دولتي بنسټونو کې د ملي بودجې له سره کتنه.
- په ټولنو کې د اوبو کاروونکو انجمنونو په ګډون په ټولو کچو کې د اقليم په وړاندې انعطاف پذير IWRM په اړه د همغږۍ، پلان جوړولو او تصميم نيولو لپاره د ميکانېزمونو رامنځته کول او په اداري ډول تقويت کول.
- په ټولنيزو- اقتصادي، چاپېريالي او نورو شرايطو کې بدلونونو ته په پام د اوبو پاليسيو، ستراټيژيو، پلانونو او قوانينو په منظم ډول (لکه په پينځو کالو کې) بيا کتنو لپاره د ميکانېزمونو رامنځته کول.

- **د اوبو ذخيره کولو او ويشلو لپاره د اقليم پر وړاندې مقاوم ښځ بنسټونه**

کله چې د اوبو نسبتاً کوچني ښځ بنسټونه شتون ولري لکه په افغانستان کې چې شتون لري نو په دغسې ښځ بنسټونو کې پانګوونه په عام ډول نسبتاً ښه عايدات برابروي. د اقليم بدلون متوقعه اغېزې نه يوازې دا چې د زېرمه کولو لپاره د اوبو د پوټنشيل لپاره معلومات وړاندې کوي بلکه د مناسب هايدرولوژيکي ځای په ټاکنه او د ښځ بنسټونو د ډول او اندازې په اړه هم د پرېکړه نيولو په برخه کې مرسته کوي.

په داسې حال کې چې د ودانولو تمرکز په عام ډول د اوبو پر لویو بندونو باندې دی، یو لړ نورې کړنې لکه د ځمکې لاندې اوبه، د اوبو ډنډونه او جهیلونه او همدا رنګه کوچني بېخ بنسټونه لکه د باران اوبو زېرمه کول او د ټولنې زېرمې هم شتون لري چې کیدای شي په پام کې ونیول شي. د اقلیم بدلون لاندې په شرایطو کې کافي اندازه د اوبو برابرول د پورته ذکر شوو دواړو کړنو په پام کې نیولو ته اړتیا لري. په افغانستان کې د اقلیم پر وړاندې د اوبو مقاومو بېخ بنسټونو لپاره په لومړیتوب لرونکو کړنو کې لاندیني کارونه شامل دي:

- د بېخ بنسټیزو کړنو په چاپېریالي، ټولنیزو او اقتصادي څېړنو کې د ګټو او زیانونو د نسبت څېړنه، د عایداتو کورنۍ کچه، د چاپېریالي او ټولنیزو اغېزو ارزونه او اړوندې څېړنې د اقلیم اوسنیو او راتلونکو تمایلاتو او همدا رنګه نورو عواملو لکه په بندونو کې د خړو او ختو رسوباتو کچې او د اوبو اوسنیو او راتلونکو اړتیاوو  په پام کې نیولو سره.
- د چاپېریالي، ټولنیزو-اقتصادي او هایدرولوژیکي څېړنو پر بنسټ د هېواد په اصلي او فرعي سیندیزو حوزو کې د اوبو د نوو زېرمو د ځای ټاکلو او ډیزاین لپاره د اوبو د پخوانۍ، اوسنۍ او داقلیم بدلون د متوقعه اغېزو په پام کې نیولو سره د راتلونکې کچې معلومول څرنګه چې مخکې برخه کې پرې بحث وشو.
- د حوزو تر منځ د اوبو د لېږد نقشو په ګډون د حوزو تر منځ په لویه کچه د اوبو رسولو د شبکو ډیزاین، او په سیمه ایزه کچه د اوبو وروستیو کاروونکو لپاره د اوبو وېش په موخه د اوبو له سرچینو څخه د نل لیکو او کانالونو جوړول.
- د اوبو د طبیعي زېرمو لکه د ځمکې لاندې اوبو او د کاربزونو د تغذیې غښتلي کولو او همدا رنګه د اقلیم بدلون وړاندوینه شوو اغېزو په وړاندې د اوبو ډنډونو، جهیلونو او د اوبو نورو بدنو سمولو لپاره د کړنو پلان.
- د تبخیر راکمولو او د اوبو اړوندو ضایعاتو او همدا رنګه د زېرمه کولو او وېش له نوو بېخ بنسټونو سره یو ځای کولو په ګډون د اوبو ذخیرو شته بېخ بنسټونو او اقلیم پر وړاندې د هغوی انعطاف منښې رامنځ ته کولو په موخه د ویش په سیسټمونو کې د ادلون بدلون راوستلو او نوي کولو پلان.
- د اقلیم بدلون اغېزو (لکه، له سېلاب څخه مخنیوی یا له ګواښ سره مخ سیمو کې د ویجاړیو مخنیوي، او همدا رنګه په وروستو کاروونکو باندې د اقلیم بدلون اغېزو راکمولو) ته د رسېدنې په موخه د اوبو زېرمه کولو او ویش بېخ بنسټونو جوړول ترڅو د اوبو د احتمالي کمبود په وخت او ځای کې د اوبو شتون ډاډمن شي.
- په طبیعي بڼه د اوبو د زېرمه کېدو او د هایدرولوژیکي بدنو د اغېزمنتیا زیاتولو په موخه د بشري حل لارو څخه ګټنه.
- د اقلیم بدلون پر وړاندې د انعطاف منښې وړتیا لوړولو او له نوو بېخ بنسټونو سره یو ځای کولو په موخه د زېرمه کولو او د وېش په شته سیسټمونو کې د بدلونونو او سمونونو پلي کول.
- د اوبو د کچې او څرنګوالي د حقیقي وخت ډېټا راټولولو او څارنې په موخه د له وړاندې خبراوي سیسټمونو لکه د سیندونو د اوبو د سطحې کېچونو او د جریان کچې معلوموولو نصبول تر څو ډاډ ترلاسه شي چې په مطلوبه پیمانه اوبه شتون لري، او همدا رنګه د اوبو د نسبي زیاتوالي او یا کموالي په وخت کې د حوزو تر منځ د اوبو د لېږد سیسټمونه چې دا سیسټمونه د چاپېریال او اقلیم بدلون د معلوماتو ملي سیسټمونو لپاره څرنګه چې وړاندې یې یادونه وشوه د ډېټا په چمتو کولو کې هم د پام وړ مرسته کوي.
- د عملیاتو او ساتنې پلانونو جوړول او پلي کول ترڅو د زېرمه کولو او وېش بېخ بنسټونو د ویجاړۍ یا د ګواښونو څخه د زیانمن کېدو او همدارنګه د دوامدارې کارونې په سبب له کاره لویدو څخه مخنیوی وشي.

د اقلیم پر وړاندې د IWRM انعطاف منونکو پروژو لپاره، په ډېرو مواردو کې، د زرغون اقلیم صندوق او د څو اړخیز پراختیایي بانکونو څخه مالي مرسته به د څرګندو او د اندازه کولو وړ ټولنیزو-اقتصادي ګټو درلودلو له امله د لویو پروژو لپاره وړ مالي سرچینې وي. د مالي مرستو مطلوبه ترکیب به احتمالاً د څو اړخیزو پراختیایي بانکونو د پروژو د تکمیلیوونکي په توګه د زرغون اقلیم صندوق مرستو کارول وي. څو اړخیزه پراختیایي بانکونه بېخ بنسټیزې پروژې تمویلوي په داسې حال کې چې د زرغون اقلیم صندوق د اقلیم بدلون راتلونکو شرایطو لاندې د انعطاف منښې لپاره د بېخ بنسټونو ډاډمن کولو په موخه د اضافي لګښتونو لپاره مالي مرسته برابروي. نو په دې توګه، د څو اړخیزو پراختیایي بانکونو مرستې کیدای شي چې د لویو، پایښت لرونکو او اوږد مهاله ګټو لپاره د زرغون اقلیم صندوق مالي مرستو په ملاتړ د ګډ تمویلونکي په توګه و کارول شي. د زرغون اقلیم صندوق له وړاندې په ځینو هېوادونو کې په لویو سیندیزو حوزو کې د ۴۵ میلیونو ډالرو پروژې چې ورته هېوادونو د ۱۵ میلیونو ډالرو اضافي ګډه پانګه چمتو کړې ده منظورې کړې دي. د دولت له لګښتونو څخه د اضافي بودیجې تخصیص باید د تکمیلوونکي په ډول و کارول شي، په ځانګړې توګه، له پروژې وروسته لګښتونو لپاره لکه د عملیاتو پلي کول او د ساتلو پلانونو چمتو کولو لپاره.

## ۷.۲ د پېښو د ګواښونو راکمول

له پخوا راهیسې، په افغانستان کې د پېښو ګواښونو ته رسېدنه یوازې له پېښو څخه وروسته ځواب وینې او بیا رغونې ته منحصره ده. سره له دې، د اقلیم بدلون څخه راولاړو ګواښونو لکه سېلاب او وچکالۍ اغېزو راکمولو په ځانګړې توګه کلیوالي ټولنو لپاره د طبیعي پېښو د رامنځ ته کېدو د مخنیوي په برخه کې د پام وړ پرمختګ رامنځ ته کېدای شي. پر همدې بنسټ، په NAPA[111]، NAP [112] / ACCSA او NDC[113] کې د پېښو د ګواښونو راکمولو د مختلفو اړخونو په برخه کې د ورتیا لوړول او تنظیم د یو ملي لومړیتوب په توګه په ګوته کړې دي.

د اقلیم پر وړاندې مقاوم IWRM ته ورته، له اقلیم څخه راولاړو زیانمنونو راکمولو لپاره په افغانستان کې د پېښو د ګواښونو اغېزمنه راکمونه به د "ملموسو" او "غیر ملموسو" کړنو یو ترکیب ته اړتیا ولري. په ملموسو کړنو کې ببخ بنسټیزې کړنې لکه پر ټولنې باندې د سېلاب د ګواښونو د احتمالي اغېزو کچې او امکان راکمولو په موخه د سېلاب مخنیوي لپاره د موانعو جوړول شامل دي. په غیرملموسو کړنو کې د ګواښ پېښېدو په صورت کې د ټولنې چمتووالي زیاتولو لپاره پلان جوړولو اقدامات او له وړاندې خبراوي سیستم (EWS) جوړول شامل دي. خو غیر ملموسې کړنې خورا زیاتې ګټورې او د لږ لګښت لرونکې دي، په ځانګړې توګه چې کله له ملموسو کړنو سره یو ځای کړل شي.

- **د پېښو د ګواښونو ارزونه او ورته پلان جوړونه**

د پېښو د ګواښونو راکمول او ورته ځواب ویل له اقلیم څخه په راولاړو پېښو باندې په ښه ډول پوهېدلو او د دغه ډول پېښو د مخنیوي لپاره پر پلان جوړولو باندې ولاړ دي. پېښو ته د ځواب ویلو له اوسنۍ عکس العملي طریقې څخه د ګواښونو راکمولو یوې پایښت لرونکې عملي طریقې ته داخلېدل ډېر اړین دي. دغه وروستنۍ طریقه د پېښو له امله د اوښتو ویجاړیو او خساراتو په مخنیوي کې هم خورا زیاته ګټوره او د لږ لګښت لرونکې ده. د ګواښ ارزونه او ورته پلان جوړونه، باید له ملي کچې د ټولنې تر کچې پورې په بېلابېلو اندازو سرته ورسېږي. په افغانستان کې د پېښو د ګواښونو ارزولو او ورته پلان جوړولو لپاره په لومړیتوب لرونکو کړنو کې لاندیني کارونه شامل دي:

- له اقلیم څخه د راولاړو ګواښونو په وړاندې د زیان منونو ارزونه په بېلابېلو مقیاسونو لکه د زیان منني ملي ارزونې (چې ډېرې یې بشپړې شوې دي) څخه نیولې تر سیمه ایزې کچې د هغو ګواښونو پر وړاندې د زیان منني او ورسره د جوړښت وړتیاوو ارزونه چې ټولنې به د اقلیم بدلون د اوسنیو او راتلونکو وړاندوینو شوو سناریوګانو لاندې ورسره لاس او ګرېوان و اوسي.
- د ټولنې په کچه د زیان منني او ورسره د جوړښت وړتیا ارزونې پر بنسټ، د پېښو پر وړاندې د ټولنو چمتووالي او غبرګون لپاره پلان جوړول ترڅو حفاظتي او د ګواښ راکمولو کړنې او همدا رنګه د چټک غبرګون او ځواب ویلو کړنې و پېژندل شي او دغې کړنې د له وړاندې خبراوي په ملي او سیمه ایزو سیستمونو او همدارنګه د پېښو د ګواښونو راکمولو په ملي پلانونو کې مدغمې شي.
- د ټولنې په کچه د پېښو پر وړاندې د چمتو والي د پلانونو پر بنسټ، په بېړنیو حالاتو کې د چټک غبرګون او وقایوي کړنو په اړه ځایي ټولنو ته روزنه ورکول.
- په ځایي، ولسوالیو، ولایتي او ملي کچو د پېښو د ګواښونو راکمولو د تشکیلاتو رامنځته کول چې په نزولي ډول منسجم شي ترڅو د پېښو د ګواښونو او اړتیاوو په کره بنیه تبادله کولو لپاره معلومات له ملي کچې څخه ځایي کچې ته او بالعکس ورسیږي.
- د پراختیایي بودیجې او د سرچینو تخصیص او په ملي، ولایتي، ولسوالیو او ځایي کچه د ګواښونو راکمولو او ورته ځواب ویلو کړنو په ګډون په افغانستان کې د پېښو د ګواښونو راکمولو لپاره ستراتیژۍ (ASDRR) پر بنسټ د پېښو د ګواښونو د مدیریت کولو د یوه ملي عمل پلان چمتو او وروستي کول.

[111]. Priority: “Climate-related research and early warning systems”.
[112]. Priorities: “Disaster preparedness” and “Disaster response and management”.
[113]. Priorities: “Strengthening of hydro-meteorological monitoring networks and services including a national hydro-meteorological database” and “Development of a system to monitor and assess vulnerability and adaptation to climate change”.

- د پېښو پر وړاندې بنسټیز ځواب ویلو غښتلې کولو په موخه د ګواښونو راکمولو او د پېښو مدیریت کړنو په هکله په ملي، ولایتي او ولسوالیو په کچه د افغانستان د پېښو پر وړاندې د مبارزې د چمتو والي اداره، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت، او نورو اړوندو دولتي بنسټونو د کارکوونکو د وړتیاوو لوړولو په موخه اړینې روزنې.
- په ملي او ولایتي کچه د پېښو د څار مرکزونو غښتلي کول او د له وړاندې خبراوي په ملي او ځایې سیستمونو کې د هغوی مدغم کول.

- **د اقلیم څارنه او له وړاندې خبراوي سیسټمونه**

د پېښو د ګواښونو اغېزمن او پروخت راکمول، له اقلیم څخه د را ولاړو ګواښونو څرنګوالي، ځای او د پېښېدو احتمالي نېټې په اړه د کره او تازه معلوماتو لرلو پورې اړه لري. دغه معلومات د زیان منې له ارزونو، د پېښو سره د مبارزې د چمتو والي پلان جوړولو، د ګواښونو د راکمولو کړنو پلي کولو او د بېړنې ځواب ویلو خدمتونو سره مرسته کوي. په ځانګړې توګه، د له وړاندې خبراوي سیستمونو تأسیسول د پېښو د ګواښونو د راکمولو یوه اقتصادي او د لږ لګښت لرونکې طریقه ده چې د ژوند ژغورلو په څنګ کې پر معیشت او تولیدي جایدادونو باندې په بېلابېلو کچو د زیانونو د اوښتو مخنیوی کوي. په افغانستان کې د اقلیم بدلون څارنې او له وړاندې خبراوي سیستمونو لپاره د لومړیتوب لرونکې کړنې په لاندې ډول دي:

- د کرنې-اوبو-هواپېژندنې (AGRO-HYDRO-METEOROLOGICAL) څارنیزو شبکو او خدمتونو غښتلي کول او د کرنې-اوبو-هواپېژندنې یو ډېټابېس رامنځته کولو په ګډون د څار خودکارو (اوتوماتو) مرکزونو د یوې منسجمې ملي شبکې تأسیسول چې ډېټا راټوله او د تحلیل لپاره د څار یوه ملي مرکز ته ولېږدوي.
- اقلیمي څېړنې لکه د پېښو د ګواښونو د نقشو چمتو کول او د کرنې-اوبو- هوا پېژندنې د تاریخي او اوسنۍ ډېټا په مرسته د اقلیم بدلون د نمونو چمتو کول د اقلیم بدلون له امله د موسمي او کلنیزو پېښو ماهیت، ځای او احتمالي وخت معلوموملو په موخه.
- د معلوماتي ټېکنالوژۍ پرمټ کارېدونکي له وړاندې خبراوي سیستم جوړل، ترڅو د کرنې-اوبو-هوا پېژندنې له شبکې څخه د حقیقي وخت ډېټا راټوله او تحلیل کړي. دا کار به د احتمالي ګواښونو پېښېدلو په هکه کره او پر وخت وړاندوینې چمتو او له یوه خپروونکي سیستم سره د نښلولو په مرسته د ګڼ شمېر رسنیو لکه (مبایل، راډیو، ټلویزیون، او ټولنیزو رسنیو) له لارې عامو خلکو، د دولت کارکوونکو، خیریه موسسو، او نورو ښکېلو خواوو ته ورسوي.
- په سیندونو باندې د اوبو د سطحې معلوملو آلاتو او نورو ساده وسایلو د نصبولو په مرسته په سیمه ایزه کچه د له وړاندې خبراوي سیستمونو جوړول او په لېږدوونکو سیستمونو باندې مجهز کول تر څو پېښې له واقع کېدو مخکې تشخیص او له ګواښ سره مخ خکلو ته یې په اړه خبراوی ورکړل شي.
- د له وړاندې خبراوي سیستمونو څخه ګټنې، ډېټا تحلیل او ارزونې او همدا رنګه د له وړاندې خبراویو د خپرولو په روزنه.
- د اړوندو سکټورونو (لکه کرنې، هوایي چلند) لپاره د هوا پېژندنې خدمتونو برابرول تر څو د واقعي وخت معلومات د ورځنې پلان جوړولو او تصمیم نیولو لپاره برابرکړي او دا خبره ډاډمنه کړي چې دغه معلومات هر کله چمتو او د وروستیو کاروونکو لپاره د لاسرسي وړ وي.

- **د ګواښونو د مخنیوي او راکمولو کړنې**

له اقلیم څخه د راولاړو ګواښونو لکه د سېلابونو او وچکالیو اغېزو راکمول د ژوند او معیشت ساتلو په موخه د ځایې کچې کړنو له لارې ترسره کیدای شي. دا ډول کړنې باید د زیان منې ګواښ ارزونې او د پېښو پر وړاندی د چمتو والي پلان جوړونې پر بنسټ وي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې آیا ځانګړو ګواښونو ته د رسیدنې لپاره له ځایي شرایطو سره سمون په پام کې نیول شوی دی او که نه. وقایوي کړنې کیدای شي چې ودانیزې (لکه د فزیکي بېخ بنسټونو جوړول) یا غیر ودانیزې (لکه روزنه او پوهاوی) وي. د پېښو د ګواښونو د راکمولو وقایوي کړنې د بېړنې ځواب ویلو کړنو په پرتله ډېرې اقتصادي او لږ پانګونې ته اړتیا لري او همدارنګه د پېښو څخه د زیان منونکو ټولنو د مقابلې وړتیا هم لوړوي. د افغانستان لپاره د ګواښونو د مخنیوې او راکمولو په لومړیتوب لرونکو کړنو کې لاندیني موارد شامل دي:

- د سېلاب ګواښ راکمولو جوړښتونو جوړول لکه چک ډمونه، پوښلې ویالې، حفاظتي دېوالونه، ګابیونونه، خاورین دیوالونه، ویالې او د اوبو زېرمه کولو لپاره د باران اوبو تخلیه او یا له ګواښ سره د مخ سیمو یا جایدادونو څخه د اوبو مخه اړول.
- د سېلاب له ګواښ سره په مخ سیمو کې د ځمکې د میلان راکمولو، خېدونو لیرې کولو، ویالو کیندلو او مسیر بدلولو له لارې د اوبو د جریان اړول، ترڅو د اوبو جریان چټکوالی ډېریدو په صورت کې له مهمو جوړښتونو او تولیدي جایدادونو څخه د اوبو مخه وګرځي.
- د سېلاب او ځمکې توږېدنې ګواښونو راکمولو لپاره د تراسونو، بندونو جوړولو او د ځوړ (شیب لرونو) سیمو کلکولو لپاره نورې کړنې.
- د اقلیم پر وړاندې مقاوم سړکونه، پلونه او د ټرانسپورټ نور جوړښتونه چې د امکان تر کچې پورې د سېلاب له اغېزې خوندي وي ترڅو د پېښو د واقع کېدو څخه مخکې د سیمې د تخلیه کېدو او د پېښو په جریان کې د بېړنیو مرستو او نورو خدمتونو په رسولو کې خنډونه شتون ونه لري.
- د اقلیم بدلون پر وړاندې د تخلیې مرکزونو، بېړنیو پناه ځایونو (پنډغالو)، کورونو، روغتونونو، ښوونځیو او د ټولنې نورو مهمو بېخ بنسټونو د مقاومت لوړول.
- د وچکالۍ په وخت کې د کورنیو، کرنې، او د اوبو نورو کاروونکو لپاره د ذخیرو، بندونو او د اوبو زېرمه کولو نورو بېخ بنسټونو جوړول.
- د اوبو زېرمه کولو بېخ بنسټونو جوړول چې د ځمکې لاندې اوبو د تغذیې لپاره د اوبو مسیر ذخیرو خوا ته واړوي تر څو د وچکالیو په وخت د اوبو شتون ډاډمن کړي.
- د اقلیمي پېښو پر وړاندې بیمه لکه د طبیعي پېښو څخه د رامنځ ته شوو مالي زیانونو د اغېزو راکمولو په موخه د پېژندڅیز پر بنسټ د محصولاتو بیمه.
- ځمکې لاندې اوبو ته د لاسرسي آسانتیا په موخه د ژورو څاګانو کیندل او د ډمبو برابرول.
- د کرنې لپاره د کافي اوبو برابرولو او همدا رنګه د اوبو له ضایع کېدلو څخه د مخنیوي او د اوبو په اغېزمن ډول کارولو په موخه د کانالونو، کارېزونو او د اوبو لګولو نورو بېخ بنسټونو جوړول او بیا رغول او د اقلیم په وړاندې د دغو بېخ بنسټونو د مقاومت لوړول.
- د اقلیم په وړاندې د مقاوم ایکوسیستم د توکو او خدمتونو په برابرولو کې سمون راوستلو په موخه د څړځایونو، ځنګلو او د نورو ایکوسیستمونو بیارغول (۸.۴ برخه وګورئ).

د پېښو د ګواښونو راکمولو لپاره پروژې ډېر احتمال لري چې د لویو او کوچنیو پروژو یو ترکیب وي چې له بېلابېلو سرچینو څخه مالي مرستو برابرولو لپاره مناسبې وي. د احتمالي زیاتې پانګې شتون چې کېدای شي له زرغون اقلیم صندوق او یا څو اړخیزو پراختیایي بانکونو څخه ترلاسه شي، کېدای شي چې دا سرچینې د کرنې-اوبو او هوا پېژندنې څارنیزې ملي شبکې د جوړولو او د له وړاندې خبراوي ملي سیستمونو په رامنځ ته کولو او غښتلي کولو په موخه وکارول شي، ځکه چې دا ډول کړنې د بېخ بنسټونو د جوړولو لپاره پراخې او همغږې پانګونې او د ورتیا جوړولو ته اړتیا لري. همدا رنګه، را ډول کړنې د اندازه کولو وړ اقتصادي-ټولنیزې ګټې لري.

د ارزونو، پلان جوړونې، روزنې او ځایي کړنو په ګډون د ټولنې په کچه اقداماتو لپاره پانګه له بېلا بېلو سرچینو لکه د مالي مرستو کوچنیو-او دوه اړخیزو سرچینو او همدا رنګه د دولت له عادي بودیجې څخه ترلاسه کېدای شي. برسېره پردې، د نادولتي سازمانونو او نورو موسسو لخوا رواني پرمختیایي او بشردوستانه کړنې کېدای شي د یوې لویې همغږې او پلان جوړولو له لارې د پېښو د ګواښونو راکمولو کړنو ته واړول شي.

## ۷.۳ د اقلیم بدلون پر وړاندې مقاومه کرنه

په کرنه (دواړو مالدارۍ او کرنیزو پیداوارو) د ډېری افغان کورنیو باندې د اتکا په سبب، په کرنه باندې په زیاته اندازه پانګونه شوې ده. که څه هم دغې پانګونو د کرنې او مالدارۍ په محصولاتو کې غوره والی را منځته کړی دی خو لاسته راوړنې یې د اقلیم بدلون، په ځانګړې توګه د اورښت په بڼو کې د بدلون او د تودوخې زیاتېدو له کبله له ګواښ سره مخ دي.

د اقلیم پر وړاندې مقاومه کرنه د اقلیم بدلېدونکو شرایطو لاندې د محصولاتو ساتلو په موخه د ځایي ټولنو وړتیا لوړولو لپاره په NAPA[114]، ACCSAP/NAP,[115] NDC,[116] او TNA[117] کې د یوه ملي لومړیتوب په توګه پېژندل شوې ده.

د اقلیم پر وړاندې په مقاومه کرنه کې پانګونه تر ډېره بریده د تولید په تخنیکونو کې په سمون، په ځانګړې توګه په هغو طریقو باندې ده چې د اوبو په کارولو کې سپما رامنځ ته کوي. سره له دې، ځینې د وړتیا جوړولو غیر ملموسې کړنې هم شتون لري لکه د کرنې ترویج سمون پورې اړوند خدمتونه او د اقلیم پر وړاندې د مقاومو ډولونو په اړه څېړنه.

- **د مالدارۍ په مدیریت کې سمون**

مالداري په افغانستان کې د ډېرې کورنیو د ټول یا د عاید د یوې برخې سرچینه ده څکه نو د کرنیزو پیداوارو لپاره د اقلیم بدلون سره جوړښت خورا زیات ارزښت لري. د اقلیم بدلون اصلي اغېز احتمالاً د اوبو په شتون کې کموالی دی چې په هېواد کې د ورستیو وچکالیو له کبله د څارویو له لاسه ورکول د دې خبرې ثبوت دی. د وچکالیو له امله د څارویو لپاره د څښاک اوبه کمې او د څرولو لپاره واښه نه شنه کېږي.

برسېره پر دې، احتمال لري چې د تودوخې درجې زیاتوالی او د ساري ناروغیو خپرېدل به پر مالدارۍ باندې فشار زیات کړي. د دغو اغېزو پایله به د خوړو نا خوندیتوب او د خوړو د بیو لوړېدل او د مالدارانو لږ عایدات وي. د افغانستان مالدارۍ په سکټور کې د انعطاف منښې زیاتولو لپاره لاندینۍ لومړیتوب لرونکې کړنې شاملې دي:

- د نوو ډولونو او د مثل تولید پروګرامونو د پېژندلو له لارې د څارویو جنیتیکي سمون او د غوره ځانګړنو (لکه کوچنی سایز، اوبو ته لږه اړتیا، زیات تولید، د غوښو، شیدو او فایبر زیاته تغذي، د ناروغیو په وړاندې زیات مقاومت) لپاره چې د بدلېدونکي اقلیم ځانګړتیاوې دي به د دې لامل وګرځي چې مالداران په یو واحد اوبو او خوړو کې زیات محصولات ترلاسه کړي کوم چې د بدلېدونکو اقلیمي شرایطو لاندې هغوی ته د محصولاتو ساتلو زمینه برابروي.
- د تغذیې په طریقو کې د سمون له لارې د تغذیې اغېزمنتوب زیاتول لکه د خوړو په رژیم کې سمون او زیاتوالی، د تغذیې په ځلو او وختونو کې بدلون او په خوراکي رژیم کې د خوړو بېلابېلو ډولونو شاملولو له لارې کیدای شي څاروي زیات خوراک کولو سره د مصرف کموالی جبران، د تودوخې فشار لږ، په وچو فصلونو کې د خوړو ناخوندیتوب کم او د څارویو خوارځواکۍ په کچه کې د کموالي لامل وګرځي.
- د څرځایونو په مدیریت کې سمون او د واښو تل پاتې ډولونو کرل، د کرنیزې ځنګلدارۍ معرفي کول، د واښو د ذخیره کولو په کچه کې بدلون، د څر ځایونو بدلول (لکه لوړې سیمې چې پرېمانې اوبه او واښه لري) په کلنې یا موسمي کوچېدو کې بدلون، د وچکالۍ په وړاندې د واښو مقاومو ډولونو معرفي کول، له چاپېریال سره سازګارو طریقو خپلول، د مالدارۍ محصولاتو زیاتولو په موخه د اوبو او خاورو ساتنه او د نورو ګټورو طریقو کارول لکه د اوبو ورکولو او له غذایي پلوه د مقوي خوړو دوران (د لا زیاتو جزئیاتو لپاره له اقلیم سره د سازګارې کرنې او د ایکوسیستم پربنسټ د جوړښت برخې وګورئ).
- په فی واحد سرچینو لکه ځمکه او اوبو کې د خوړو تولیدولو اغېزمنتیا زیاتوالي له لارې د یوې سیمې عمده محصول کرلو او د څارویو روزلو له یوځای کولو څخه د محصولاتو- مالدارۍ ګډو سیستمونو معرفي کول.

---

114. Priorities: "Development of horticulture", "Improved terracing, agroforestry and agro-silvo-pastoral systems", "Agricultural research", "Rangeland management", "Improved food security" and "Improved livestock production".
115. Priorities: "Food grains management", "Agriculture research promotion", "Soil conservation and research", "Introducing global best practices" and "Developing traditional systems such as kareze".
116. Priority: "Increasing irrigated agricultural land through restoration and development of irrigation systems".
117. Priorities: "Crop diversification and new crop varieties", "Responsive agricultural extension", "Climate-resilient crop varieties", "Micro-irrigation for efficient water use", "Conservation agriculture" and Agro-forestry"

- د تودخې فشار راکمولو کړنې لکه په څړځایونو کې د سیوري برابرولو لپاره د سایه بان جوړول او د ونو کینول، د یخوونکو سیستمونو معرفي کول، په غوجله یا مرغانچو کې د تهویې بندو بست او د اوبو څښلو برسېره د بدن یخولو لپاره اوبو زېرمو لکه سیندونو ته لاسرسی.
- په څړځایونو او آبي څړځایونو کې د اوبو سرچینو د بیارغونې او د اوبو د هراړخیز مدیریت طریقو په کارولو سره د مالدارۍ د محصولاتو په تولید کې د اوبو د لګښت سپما.
- د څارویو واکسین کولو، د څارویو روغتیا پالنې د لاسرسي وړ نور خدمتونو، د ناروغیو او د هغو لېږدوونکو، حشراتو، پرازیتونو او هرزه بوټو منسجم مدیریت په ګډون د څارویو روغتیا او سلامتي او د هغوی د محصولاتو ښه والي لپاره د څاریو په روغتیا پالنه کې سمون.
- **د کرنېزو اوبو اغېزمنه کارونه**

په افغانستان کې د محصولاتو تولید سیستمونو لپاره د اقلیم بدلون راتلونکو شرایطو لاندې د وچکالۍ په متوقعه اغېزو کې زیاتوالی یوه د پام وړ اندېښنه ده. څکه نو د کرنې لپاره د اوبو غوره مدیریت، په ځانګړې ډول، د اوبو مخ په کمېدو سرچینو په ښه او اغېزمن ډول کارونه په راتلونکې کې د خوړو خوندیتوب، کافي تغذیې او د ټولنو لپاره د معیشت ډاډمن کولو له لارې د اقلیم په وړاندې د انعطاف منئې وړتیا لوړولو لپاره ډېره اړینه ده. پر همدې دلیل، د کرنې په سکټور کې د اقلیم پر وړاندې د اوبو انعطاف منونکي مدیریت ته په NAPA[118]ACCSAP/NAP,[119]NDC,[120] او TNA[121] کې لومړیتوب ورکړل شوی دی.

کرنیزو څمکو ته د اوبه رسولو او د اقلیم پر وړاندې مقاوم IWRM لاندې (چې د دې رپوټ په نورو برخو کې تشریح شوي دي) په پام کې نیول شوو کړنو تر منځ ډېر شمېر ګډ وجوهات او ورته والي شتون لري. د کرنې په سکټور کې د جوړښت رامنځ ته کولو په شرایطو کې وروستی یاد شوی مورد په کافي اندازه د اوبو سرچینو شتون په ډاډمن کولو باندې تمرکز لري، په داسې حال کې چې د مخکینی یاد شوی مورد د دغسې اوبو کارولو کې په غوره والي/بهترۍ باندې تمرکز کوي.

سره له دې، د دغو دواړو ترمنځ یو شمېر کړنې ګډې دي ،او د اقلیم بدلون پر وړاندې مقاومې کرنې لپاره په هر پلان جوړولو کې باید په پام کې ونیول شي. تر هغه ځایه چې د اوبو سرچینو په هر اړخیز مدیریت پورې اړه لري، دواړه ملموس او غیر ملموس غوراوي باید د کرنې په سکټور کې د اوبو په کارونه کې د سمون او اغېزمنتیا رامنځ ته کولو په موخه پلي کړل شي. په دې غوراویو کې لاندیني اړین لومړیتوبونه شامل دي:

- د اوبو د زېرمه کولو په کوچنیو او لویو جوړښتونو کې د باران او واورې د وېلې شوو اوبو ذخیره کولو په موخه د اوبو ذخیرو ظرفیت زیاتولو باندې پر تمرکز سره د سطحي اوبو ذخیره کولو لپاره د جوړښتونو جوړول، بیا رغونه او د اقلیم پر وړاندې مقاوم کول ترڅو د کرنیزو پیداوارو د ودې په وخت او همدا رنګه د وچکالۍ او د اوبو کمښت په وختونو کې د پریمانو اوبو شتون ډاډ من شي.
- د اوبو لېږد په بهیر کې، د تبخیر څخه د مخنیوي په موخه د اوبو کانالونو او ویالو د سرونو پوښول او په لاره کې د اوبو د جذب څخه د مخنیوي په موخه د کانالونو عایق کول تر څو د اوبو د ضایع کېدو څخه مخنیوی وشي او د کرنیزو پیداوارو لپاره د اړتیا وړ اوبو د شتون څخه ډاډ ترلاسه شي.
- د اوبو لګولو اصلاح شوو طریقو پر مټ چې د محصولاتو ریښو ته اوبه په مستقیم ډول رسوي په اغېزمن ډول د اوبو کارول او د اوبو ناکاره طریقو لکه د اوبو لګولو لپاره پټېو ته د ډېرو اوبو خوشی کولو پر ځای د ګټورو طریقو لکه د اوبو راټولو او زېرمه کولو په موخه د کوچنیو آبرېزو جوړول، د څمکې یویې (قلبه) کول او د جویو جوړول او همدارنګه د قطره اي اوبو لګولو کوچنیو سیستمونو پراختیا.

---

[118]. Priority: “Improved water management and use efficiency”.
[119]. Priorities: “Introducing global best practices”, “Developing traditional systems such as kareze”, “Water resource management in drylands” and “Sustainable irrigation and water resource management”.
[120]. Priority: “Development of water resources through rehabilitation and reconstruction of small-, medium- and large-scale infrastructure” and “Increasing irrigated agricultural land through restoration and development of irrigation systems”.
[121]. Priorities: “Integrated water resource management”, “Small dams and micro-catchments”, “Surface rainwater harvesting” and “Micro-irrigation for efficient water use”.

- د ژورو څاګانو کیندلو او د پمپ کولو تجهیزاتو (په ځانګړې توګه د اوبو لګولو له هغو نوو میتودونو سره په سمون کې چې وړاندې تشریح شول) نصبولو له لارې د ځمکې لاندې اوبو زېرمو په کارولو کې زیاتوالی.
- له هغو سیمو څخه چې نسبتاً پرېماني اوبه لري و هغو سیمو ته چې د اوبو له کمښت سره مخامخ دي د اوبو لېږد لپاره د سیندیزو حوزو تر منځ د اوبو لېږدولو او ویشلو میکانېزمو را منځته کول (د اقلیم پر وړاندې د اوبو مقاومو زېرمو هر اړخیز مدیریت برخې ته مراجعه وکړئ).
- د اصلاح شوو محصولاتو ډولونو لکه د وچکالۍ پر وړاندې د مقامو او په کم وخت کې وده کوونکو (رسیدونکو) محصولاتو ډولونو معرفي کول چې د لږو اوبو شتون په وختونو کې هم حاصل ورکوي.
- د خاورو عضوي توکو زیاتول له عضوي سرو "کمپوست" او کېمیاوي سرو سره طبیعي د محصولاتو پاتې شونو او مصنوعي توکو (لکه پلاستیک) ګډولو، د اوبو مسیرونو جوړولو، او د کرنیزو ځمکو شا او خوا نرۍ لارو جوړولو له لارې د خاورې لندبل په ساتلو کې زیاتوالی.
- د اوبو ځایی زېرمو په مدیریت کې د ښه والي راوستلو له لارې د اوبو کاروونکو ځایی انجمنونو رامنځته او تقویه کول او د محصولاتو د ودې په وخت کې د اوبو پر وخت خوشې کولو سره له لږو اوبو څخه ګټه پورته کولو په موخه د ځایي کانالونو په واسطه د اوبو مختلفو کاروونکو اړتیاوو ته په پام د اوبو تخصیص او اغېزمن وېش، او د اوبو له متعددو سرچینو (لکه باران، سطحی او د ځمکې لاندې اوبو) څخه په ډاډمن او همغږې ډول ګټه اخیستنه؛ دا کار به د اوبو کمښت په وختونو کې د اوبو پرسر د کاروونکو ترمنځ احتمالي جنجالونه راکم کړي.
- د تبخیر له امله د اوبو ضایع کېدو څخه مخنیوې په موخه د افغانستان د دودیزو کاریزونو [122] اوبو لګولو جوړښتونو بیا رغول او پراخول.
- په بېلابېلو موسمونو کې د کرل شوو محصولاتو ډولونو او په بېلابېلو سیمو کې د اوبو رسولو او اړتیاوو په اړه د رښتیني وخت معلوماتو برابرولو په موخه د اوبو لګولو سیستم لپاره د څار سیستمونو رامنځته کول.
- په دوام لرونکې توګه د جوړښتونو او تجهیزاتو ساتنه، ترمیمول او بدلول تر څو په تدریجي ډول اغېزمنې کارونې د وخت په تېرېدو سره پاتې شي په ځانګړې توګه له سېلابونو او یا د کوم بل ګواښ پېښېدو څخه وروسته چې کېدای شي ویجاړې رامنځته کړي او یا د پروګرامونو اغېزمنتوب لږ کړي.

- **له اقلیم سره سازګاره کرنه**

له اقلیم سره سازګاره کرنه (CSA) د کرنیزو پیداوارو لپاره یوه هراړخیزه لاره ده چې په یوه وخت کې د لاندې دریو موخو ترلاسه کولو لپاره په پام کې نیول کیږي:

۱) د کرنیزو تولیداتو پایښت لرونکی زیاتوالی

۲) د اقلیم بدلون اغېزو پر وړاندې د منعطاف منښې وړتیا زیاتوالی

۳) د کرنې له سکتور څخه د شین کوریزو ګازونو خپرېدنو راکمول

په دې ډول، په داسې حال کې چې د اقلیم بدلون اغېزو راکمول له اقلیم سره د سازګارې کرنې (CSA) یوه نه بېلېدونکې برخه ده، همدا رنګه د اقلیم بدلون پر وړاندې د کم کړل شوې زیان منښې له لارې د جوړښت ګټې هم برابروي.

له اقلیم سره په سازګاره کرنه کې د لوېې کچې کړنې لکه د منظرو مدیریت او همدا رنګه ځایی پروژې لکه د کرنې نوو طریقو او ډولونو څخه ګټنه شامل دي. له اقلیم سره سازګاره کرنه د اقلیم بدلون سره د جوړښت له نورو پروژو او پروګرامونو سره چې په مخکینیو برخو تشریح شول ډېر ورته والی او ګډ وجوهات لري. سره له دې، دې ټکي ته پام ډېر اړین دی چې په رښتیني ډول له اقلیم سره سازګاره کرنه د یوازې جوړښت په پرتله پراخې موخې لري ځکه چې په دې میتود کې د شین کوریزو ګازونو د خپرېدنو

[122]. Kareze are underground canals traditionally used to transport water from a source such as aquifers or wells to the location where such water is needed for irrigation and drinking, thereby reducing loss of water through evaporation as compared to use of surface canals.

راکمولو موخې هم بايد ترلاسه شي. په افغانستان کې د اقليم سره سازګارې کرنې لپاره په مناسبو پروژو او پروګرامونو کې لاندينې موارد شامل دي:

- له ونو لکه (د لېګيومي بوټو، سيوري کوونکو ونو، د بنيوالۍ ډولونو او واښو محصولاتو او داسې نور) سره د کرنيزو او مالدارۍ محصولاتو سيستمونو يوځای کولو له لارې د کرنيزې ځنګلدارۍ پراختيا چې دا کار به د ځمکې په مديريت کې د سمون، د کاربن په تجزيه کې د زياتوالي، د اوبو او خاورو په ساتنه کې ښه والي او د خوارکي توکو دوران زياتوالي لامل وګرځي او همدا رنګه د اقليم بدلون شرايطو لاندې د کرنيزو سيستمونو (کرنې او مالدارۍ) محصولات په ټوليز ډول زيات کړي.
- د محافظتي کرنې په لاره اچول، چې د خاورې څرنګوالي، د اوبو اغېزمنې کارونې او د کاربن تجزيې سمون په موخه د دريو اصولو پر بنسټ پر يو لړ پروژو او پروګرامونو باندې مشتمله ده. د بېلګې په ډول، صفري يا تر ټولو لږ کرنه د محصولاتو پاتې شونو ساتلو يا د ځمکې پوښوونکو محصولاتو کرلو او د نوبتي کرنې له لارې د خاورو توږېدنې او د خاورو سطحې پوښښ راکمول. دا کار د سطحي اوبو ضايع کيدل او د خاورې توږېدنه راکموي او همدا رنګه په خاورو کې د اوبو نفوذ وړتيا زياتوي.
- د نباتي پوښښ ساتلو، د يوېې په طريقو (لکه د تراز ليکو په شکل يوېې کول) کې بدلون په راوستلو، د کوچنيو آبرېزو جوړولو، د ځمکې په سطحه کې د پاڼو يا بوسو خورولو، تراس بندي، د تراز ليکې په اوږدو کې ورخونو، او د آبخېزه ځنګلونو احداث او بيا رغولو له لارې د خاورې سلامتيا ښه کول ترڅو د مغذي (خوراکي) توکو شتون او د اوبو ساتنه زياته او همدا رنګه توږېدنه او رسوب کم شي.
- د اوبزي (په اوبو کې ژوند کوونکو) بوټو او ژوو پالنې په ګډون د کرنې او مالدارۍ ګډو سيستمونو خپلول چې د زېرمو کارولو اغېزمنتوب زياتولو، په مختلفو برخو کې د اقليم بدلون له امله رامنځته شوو ګواښونو خپرولو، د خوړو خونديتوب زياتولو، د خاورې عضوي توکو او د اوبو په ساتلو کې بهبودي، د عايداتو بېلوبېلو جريانونو ته تو‌پير ورکولو او د خاورې توږيدنې راکمولو او د باران اضافي اوبو ضايع کېدلو کې کمښت سبب ګرځي.
- د خاورو ښيرازۍ منسجم مديريت غښتلي کول د غيرعضوي سرو لکه (صنعتي او معدني سرو) او د عضوي سرو (حيواني او نباتي سرو) په يو ځای کولو سره، د کرنيزو اقتصادي طريقو تنظيمول لکه وخت او د کرلو تراکم او همدا رنګه د بېکاره (هرزه) بوټو کنټرولول د مغذي عناصرو د اغېزمنتوب ښه والي لپاره د محصولاتو په نوبتي کرنه کې د حبوباتو شاملول، د ناروغيو او حشراتو په وړاندې د مقاومت پياوړي کول، د حاصلخيزۍ زياتول، د شين کورېزو ګازونو د خپريدنو راکمول او د اوبو په لګښت کې سپما زياتول.

- **کرنيزې څېړنې، ترويج او نور خدمتونه**

د اقليم بدلون چټوالي او همدا رنګه نوو تخنيکونو او ټکنالوژيو ته په ګړنديتوب سره لاسرسی په دې معنا دی چې د اقليم بدلون سره د جوړښت اوسنۍ طريقې په سرعت سره بې اعتباره او له کاره لوېږي. په پايله کې، د کرنې په سکټور کې د پنځوونکو کړنو پېژندل او د دغو پنځونو پلي کولو ته د وګړو هڅول ډېر اړين ګڼل کېږي. دا کار د انعطاف منونکې کرنې په څنګ کې د پراختيا او د معلوماتو خپرولو خدمتونو په اړه د څېړنې او د پوهې لېږد له لارې ترسره کيدای شي. برسېره پردې، پاليسي او د نرم ( روزنيز پروګرامونو) نور غوراوي کولای شي چې د انعطاف منې په کړنو باندې پوهېدل وهڅوي. په افغانستان کې د دې کار لپاره په لومړيتوب لرونکو کړنو کې لاندينې موارد شامل دي:

- د څېړونکو روزنې له لارې د کرنيزو څېړنو لپاره غوره وړتيا او په دولتي بنسټونو او همدا رنګه په علمي بهيرونو کې د څېړنيزو بنسټونو غښتلي کول د اوسنيو او راتلونکو پروسو ارزولو، د شواهدو رامنځته کولو او د جوړښت طريقو لپاره د نمونو په وړاندې کولو او د ستونزو سره د مقابلې او فرصتونو رامنځ ته کولو لپاره د نوو طريقو پېژندل.
- د څارنې ميکانېزمونو (د هايدرولوژيکي څېړنو د اقليم څارلو سيستمونو برخې هم وګورئ) را منځته کولو له لارې د ستونزو او غوره طريقو په اړه د ډېټا، معلوماتو او پوهې شتون او څرنګوالي ښه کول ترڅو په ملي او ځايي کچه تصميم نيونه کې مرسته وکړي.

- د دولت، علمي بنسټونو او نورو ښکېلو خواوو تر منځ د ځېړنې همغږي کولو لپاره د يوه ميکانېزم رامنځته کول تر څو شته تجربې او وړتياوې زياتې شي.
- د کرنيزې پراختيا خدمتونو ښه والي په موخه له څېړنيزو پروګرامونو او د څار سيستمونو څخه د پوهې او معلوماتو خپرولو له لارې د بزګرانو د پوهې او معلوماتو زياتول او همدا رنګه د ګواښ په مفهوم، پوهېدل، منل او د بزګرانو له خوا د جوړښت پنځوونکو لارو چارو خپلول.
- د کرنې لپاره د اقليم پر وړاندې انعطاف منونکو غوره کړنو د ترويج او خپرولو په موخه د پوهې او تجربو شريکولو سيمه ايزو او نړيوالو ميکانېزمونو را منځته کول.
- د اقليم بدلون او طبيعي ګواښونو څخه اغېزمن شوو بزګرانو سره د مالي مرستو برابرولو په موخه د اوبو او هوا پېژنځيز، د کرنيزو محصولاتو پېژنځيز او د بيمې نورو ميکانېزمونو رامنځته کول.

د پروژو او پروګرامونو ډول او کچې ته په کتو، د اقليم پر وړاندې انعطاف منونکې کرنې لپاره مالي سرچينو ته د لاسرسي يو شمېر فرصتونه شتون لري. له تاريخي اړخه GEF، AF او ICI د ټولنې په کچه د اقليم پر وړاندې انعطاف منونکې کرنې ډېرو پروژو لپاره مالي مرستې ورکړې دي. لويې بېخ بنسټيزې پروژې او د بيمې ميکانېزمونو را منځته کول د ASAP، GCF او MDBs سره متناسبې دي په ځانګړې توګه په هغو مواردو کې چې دغه بنسټونه وکولای شي چې له دغو سرچينو او نورو مالي سرچينو څخه جاري پانګونې د کرنيزو محصولاتو توليد ښه والي لپاره يوځای کړي (چې د دغو زياتې بېلګې په افغانستان کې شتون لري). د ټکنالوژۍ ليږد GEF پورې تړلې د SCCF د مالي مرستو يو له ځانګړو لومړيتوبونو څخه دی، چې د کرنيزو توليداتو لپاره د غوره طريقو ليږد زمينه برابروي.

## ۷.۴ د اقليم بدلون پر وړاندې د طبيعي سرچينو د انعطاف منونکي مديريت لپاره د ايکوسيستمونو پر بنسټ جوړښت

د ايکوسيستم پر بنسټ جوړښت (EbA) د پروژو او پروګرامونو او طريقو يوه ټولګه ده چې د ژوند بنو ساتل او د ايکوسيستم مديريت د اقليم بدلون سره په جوړښت کې مدغموي. د ګډو ګټو لکه د ژوند بنو ساتنې او د اقليم بدلون اغېزو راکمولو برسېره د ايکوسيستم پر بنسټ جوړښت د اقليم اغېزو ته د رسېدنې يوه اقتصادي او د لږ لګښت لرونکې لاره ده.

د ايکوسيستم پر بنسټ جوړښت طريقو په بېلګو کې چې افغانستان پورې اړه لري د هستوګنځايونو له منځه تللو مخنيوی، د نشيبونو (ځوړلنو) ټينګولو لپاره ونو او بوټو کښېنول (کوم چې د خاورې او اوبو ساتنه زياتوي)، د کرنيزې ځنګلدارۍ پياوړتيا، او د آبرېزو پايښت لرونکی مديريت او بيا رغونه شامل دي. دا د ځمکو او ځنګلونو پايښت لرونکي مديريت سره ورته موخې لري، د ايکوسيستم پر بنسټ جوړښت د چاپېريالي او ټولنيزو-اقتصادي اغېزو برسېره د جوړښت ګټو په ډاډمن کولو باندې ځانګړی تمرکز کوي. د ايکوسيستم پر بنسټ جوړښت او د پېښو د ګواښونو راکمولو په برخه کې د ايکوسيستمونو پر کچه د پېښو د ګواښونو راکمولو يوه نوې ځانګه د څرګندېدو په حال کې ده چې دا ځانګه په هغو ګټو باندې تمرکز کوي چې د ايکوسيستم بيا رغونه له اقليم څخه د راولاړو او نورو طبيعي ګواښونو راکمولو لپاره زمينه برابروي.

د اقليم بدلون اغېزو ته د رسېدنې لپاره د دوديزو طريقو برخلاف، د ايکوسيستم پر بنسټ جوړښت د سازګارۍ لپاره يوه "زرغونه" طريقه وړاندې کوي چې د دوديزو ملموسو طريقو (انجنيري او بېخ بنسټيزو) په پرتله لږ لګښت او ډېره اغېزمنتيا لري[123]. د EbA کړنو پلې کولو لګښتونو او ګټو اقتصادي تحليل او ارزونه، ملموسې کړنې او ترکيبي طريقه دواړه ښيي چې EbA له ملموسو پروژو او پروګرامونو څخه کم تر کمه دوه چنده لږ لګښت ته اړتيا لري، په داسې حال کې چې د ترکيبي طريقو خپلول د يوازې ملموسو طريقو په پرتله تر ۲۵ سلنې پورې ويجاړۍ او زيانونه راکموي[124].

په هېواد کې د چاپېريالي ويجاړۍ کچې ته په پام، د ايکوسيستم پر بنسټ جوړښت د افغانستان لپاره په ځانګړې ډول مناسب دی. په داسې حال کې چې د اقليم له بدلون څخه راولاړو ګواښونو پخپل وار خپلې اغېزې لکه وچکالۍ او سېلابونه زياتې کړې دي. دا

123. Jones et al. 2012. Harnessing nature to help people adapt to climate change. Nature Climate Change 509-504 :2.
124. Rao et al. 2013. An economic analysis of ecosystem-based adaptation and engineering options for climate

ستونزې د وګړو زیات تناسب له امله چې پر طبیعي سرچینو او د ایکوسیستم پر توکو او خدمتونو متکي دي، لا پسې زیاتېږي. په دې طریقه کې د هېواد د پراخو څړځایونو بیا رغول چې اوسمهال خورا زیات ویجاړ شوي دي، د ځنګلونو ایکوسیستم بیا رغول چې د دوامدارو جګړو په جریان کې زیانمن شوي دي او د افغانستان د شته ساتلو شوو سیمو محدودې شبکې چې له امله یې طبیعي هستوګنځایونه په زیاته اندازه تباه شوي دي، پراختیا شامل دي. د اقلیم بدلون دغه وړتیا د ایکوسیستمونو ساتل او د ایکوسیستم خدمتونو زیاتول د ایکوسیستم پر بنسټ جوړښت د یوې طریقې خپلولو له لارې په افغانستان کې، لکه څنګه چې د لومړیتوبونو پېژندنې له لارې په NAPA[125], ACCSAP/NAP[126], NDC[127] او TNA[128] کې په ډاګه شوي دي، په ښه ډول پېژندل شوي دي. په افغاستان کې د EbA طریقو خپلولو لپاره په لومړیتوب لرونکو کړنو کې لاندیني موارد شامل دي:

- په ټولنو کې د وګړو د ژوندانه لپاره د اقلیم بدلون له امله د شته ګواښونو د راکمولو په موخه د مناسبو پروژو او پروګرامونو په نښه کولو له لارې په سیمه ایزه کچه د ابریزو د مدیریت پلانونو جوړول.
- د نوبتي څړولو لارو چارو د خپلولو، په محطاطانه بڼه د کافي زېرمو شتون، نباتي پوښښ پراختیا، د اقلیم بدلون پر وړاندې د انعطاف منونکو او څو اړخیزو ګټو لرونکو ډولونو کرلو، د څارویو لپاره د واښو تولیدولو او اوبو او خاورو ساتلو په موخه د ځمکې پایښت لرونکي مدیریت پروژو او پروګرامونو پلي کول لکه د چک ډمونو، تراز لیکو (تراسونو) او د اوبو ذخیرو جوړول او د څوړلمنو کلکول او د بادونو د ګرندیتوب راکمولو لپاره د ونو د دېوالونو جوړول.
- د کلیوالي کرنیزې ځنګلدارۍ سیستمونو او د ځمکې مدیریت نورو طریقو پراختیا چې د کرنیزو تولیداتو او چاپېریال ساتنې تر منځ تعادل زیاتوي، د ایکوسیستم له بیارغولو سره مرسته او د عایداتو جریان او معیشتي طریقو ته متوجه له طبیعي پېښو څخه راولاړ ګواښونه سره بېلوي (د اقلیم سره سازګارې کرنې برخه وګورئ).
- د ټولنې د معیشت متبادل او بېلابېل غوراوي او د ایکو سیستم توکو پر بنسټ د ارزښت پایښت لرونکې زنجیره چې پر ایکوسیستمونو باندې د فشار په راکمولو سره د څړ ځایونو ایکوسیستمونو ساتنه او پایښت لرونکی مدیریت هڅوي (لکه د طبي بوټو کښت او د ځنګل پر لرګیزو او غیر لرګیزو توکو باندې د ارزښت زیاتول).
- د آبریزې مدیریت لپاره د ایکوسیستم پر بنسټ د پېښو د ګواښونو راکمولو طریقو خپلول لکه د پورتنیو څوړلمنو سیمو بیا رغول او د ونو او بوټو کېنولو په څنګ کې د سېلابونو د شدت راکمولو او ځمکې توږېدنې څخه د مخنیوي په موخه تراس بندي او د کوچنیو جوړښتونو جوړول.
- د سون او ودانیو د لرګیو لپاره د بدیلو سرچینو په برابرولو سره د ټولنې قوریو او د ونو ودې لپاره د ممنوعه سیمو رامنځته کول او همدا رنګه د څړځایونو او ځنګلونو بیا رغولو هڅو لپاره د نیالګیو برابرول.
- د طبیعي بیا رغونې ملاتړ لپاره په ځایي کچه د ځنګلدارۍ مدیریت پلانونو جوړول او پلي کول، لکه د ټوکېدو په دوران کې د زړو (دانو) او مغزبابو لږ ټولول، د نیالګیو ساتنه، د اصیلو ځایي (بومي) ډولونو بشپړوونکی کښت، د ځنګلونو له سوځولو مخنیوی، پر څړځایونو لږ فشار او د سون لرګیو لږ راټولول.
- د مدیریتي پلانونو جوړولو، پلي کولو، بیا کتلو او نوي کولو او همدا رنګه د لا زیاتو ساتل شوو سیمو پېژندلو او اعلانولو له لارې د افغانستان ساتل شوو سیمو شبکې غښتلي کول او پراخول.
- د انرژۍ بدیلو سرچینو او ګټورو ټکنالوژیو لکه لمریزې او اوبیزې برېښنا، د پخلي لږ لګښته تغریو او د بایو ګاز او بایوماس سیستمونو په هکله د عامه پوهاوي لوړول ترڅو د ځنګلونو او څړځایونو له ایکوسیستمونو څخه د سون لرګیو راټولول او لګښت کم شي.

[125]. Priorities: “Land and water management at the watershed level”, “Improved terracing, agroforestry and agro-silvo-pastoral systems” and “Rangeland management”.
[126]. Priority: “Watershed planning and implementation”.
[127]. Priorities: “Improved watershed management through community-based natural resource management”, “At least %10 of land area under a system of conservation areas” and “Regeneration of %40 of currently degraded forests and rangeland areas”.
[128]. Priority: “Integrated water resource management”, “Land use planning” and “Agro-forestry”.

په تېرو کې د GEF، AF او ICI له لارې په ټوله نړۍ کې د EbA لپاره په ښه ډول مالي مرستې شوې دي، چې د EbA پروژو ځینې بېلګې په افغانستان کې هم شته. د GEF له LDCF او همدا رنګه لهSCCF سربېره، چې په ځانګړې توګه د اقلیم بدلون سره پر جوړښت باندې تمرکز کوي، د GEF وجهي صندوق هم کیدای شي چې د ژوند بڼو د ساتنې او د ځمکې او ځنګل پایښت لرونکي مدیریت له لارې د چاپېریالي مدیریت ښه کولو په موخه و کارول شي چې کولای شي د اقلیم بدلون سره د جوړښت د پام وړ ګډې-ګټې رامنځته کړي.

برسېره پردې، IFAD، MDBS او دوه اړخیزه بسپنه ورکوونکو په تېره کې د آبرېزې مدیریت کړنو لپاره مالي مرستې ورکړې دي چې کیدای شي د EBA نورو مهمو اړخونو شاملولو لپاره په آسانۍ سره اصلاح (تعدیل) کړل شي. همدا رنګه د EBA په لګښت کې سپما کولای شي چې د اقلیم پر وړاندې انعطاف منونکو بېخ بنسټونو، اوبو لګولو او نورو هڅو په واسطه، په دودیزو پراختیایي پروژو کې مدغم شي.

څرنګه چې GCF هم د اقلیم بدلون سره د جوړښت د یوې موخې په توګه EbA په پام کې نیولی دی، دا کار کیدای شي د جوړښت لپاره د اقلیم پانګې ته د لاسرسۍ هدف هم وګرځي. په هر حال، د یادونې وړ ده چې د GCF له خوا دپروژو د تصویبولو پروسې غوښتنې او معیارونه خورا زیات سختګیرانه دي، نو له دې کبله د GCF غوښتنلیکونو د ډاډمن بریالیتوب لپاره چې عمدتاً EbA پروګرامونه پکې شامل وي د پام وړ کوښښونو ته اړتیا ده.

له دې سره، نور هېوادونه هم د جوړښت کړنو لوړولو او نورو پروژو لپاره په آسانۍ سره  له GCF څخه د پانګې په ترلاسه کولو کې بریالي شوي دي. له دې امله، دا د یوې بریالۍ طریقې بېلګه ده چې په افغانستان کې هم باید تعقیب کړل شي په ځانګړې توګه د EbA آزمایښتي پروژو پلي کول له نورو سرچینو څخه چې د ښار او ارزولو غښتلي میکانېزمونه لري، په هغه شکل چې هېواد وکولای شي چې د اقلیم بدلون سره د جوړښت سربېره له EbA څخه ټوکېدلي ټولنیزې-اقتصادي ګټې وړاندې کړي چې د هغې په رڼا کې ښایي چې په راتلونکي کې د دغو پروژو پراخولو لپاره له GCF څخه د مالي مرستو غوښتنه وشي.

## ۷.۵ په ښارونو کې له اقلیم بدلون سره جوړښت او انساني روغتیا

څرنګه چې د افغانستان د وګړو زیاته برخه په کلیوالي سیمو کې اوسېږي او معیشت یې په ټولیز ډول پر کرنیزو او طبیعي زېرمو باندې اتکاء لري نو له دې کبله په تیرو کلونو کې د جوړښت ډېرې پروژې عمدتاً د کلیوالي ټولنو په سیمو کې متمرکزې وې. سره له دې، ښاري پراختیا او د اقلیم بدلون اغېزو له کوم فشار سره چې په ښارونو کې میشت خلک مخامخ دي، دا به ډېره مهمه او اړینه وي چې په راتلونکي کې د اقلیم پر وړاندې د مقاومو ښارونو په جوړولو او ښاري نفوس باندې تمرکز زیات شي.

په ورته ډول، په تېر کې په انساني روغتیا باندې د اقلیم اغېزو موضوع په هکله نسبتاً لږه پاملرنه شوې ده ځکه چې پر کرنه باندې د طبیعي پېښو او د اقلیم بدلون اغېزو راکمولو ته په لومړیتوب ورکولو سره ډېر تمرکز ځاني او مالي زیانونو راکمولو ته شوی وو.

په راتلونکي کې به د ناروغیو او د اقلیم بدلون نورو اغېزو پر وړاندې د زیان منښې راکمولو په موخه پر انساني روغتیا باندې زیاتې پانګونې ته اړتیا وي. دا نه یوازې په کلیوالي سیمو پورې چېرته چې دغه ډول ناروغۍ او د روغتیا منفي اغېزې له پخوا څخه شتون لري، اړه لري، بلکې په ښاري سیمو کې هم چېرته چې د ژوند نا مناسب شرایط او د وګړو زیات تراکم په دې معنا دی چې په لویو ښارونو او ښارګوټو کې احتمال لري چې ناروغۍ په ډېره چټکۍ سره خپرې شي. دا موضوع په دې وروستیو کې د کرونا وبا د خپرېدلو په وخت کې د عامې روغتیا په سیستم کې د شته ننګوونو له امله په ډاګه شوه.

سره له دې چې د کرونا ویروس یا COVID-19 مستقیمې اړیکې د اقلیم له بدلون سره نه دي ثابتې شوې، خو بیا هم ښکاره ده چې د افغانستان وګړي د چټکو خپرېدونکو ناروغیو پر وړاندې څومره زیان منونکي دي او کیدای شي د اقلیم بدلون په راتلونکو شرایطو کې دغه زیان منښه لا پسې زیاته شي. پر انساني روغتیا او ښاري انعطاف منښې باندې د اقلیم بدلون متوقعه اغېزې د ACCSAP/NAP[129] له خوا پېژندل شوې دي.

[129]. Priorities: “Infrastructure and community resilience” and “Climate change impact on human health”.

- **د اقلیم بدلون پر وړاندې انعطاف منونکې ښاري پراختیا**

د افغانستان پر ښاري سیمو باندې د اقلیم بدلون په اصلي اغېزو کې لومړی د کورنیو او نورو لګښتونو لپاره د اوبو په کیفیت او کمیت کې لږوالی، او دویم په ښاري ګڼې ګوڼې سیمو کې د سېلابونو راوتل او نورې طبیعي پېښې دي.

په داسې حال کې چې دا ډول اغېزې په ټول هېواد کې لیدل شوې دي، احتمال لري چې په ښاري سیمو کې د خورا زیاتو اندېښنو لامل وګرځي. افغانستان له ۲۰۰۰ څخه تر ۲۰۱۰ کاله پورې د سوېلي آسیا په کچه د ښاري کېدلو اوچته کچه تجربه کوي او درېیمه لیکه یې خپله کړې ده، چې د دې مودې په جریان کې د ښاري وګړو د شمېر وده په هر کال کې په اټکلیز ډول ۴.۵ سلنه وه[130]، په داسې حال کې چې پلازمېنه کابل د چټکې ودې له اړخه د نړۍ پینځم ښار پېژندل شوی دی[131].

د جګړو او طبیعي پېښو له امله د اوچتې کچې کورنې بېځایه کېدل د ښاري وګړو د شمېر له چټکې ودې سره مرسته کړې ده، دغه وضعیت کېدای شي چې په راتلونکي کې د زیات شمېر اقلیمي کډوالو له امله لا پسې خراب شي. دغه وضعیت به د ژوند نامناسبو شرایطو له کبله لاپسې خراب شي ځکه چې له ۸۰ سلنې څخه زیات ښاري وګړي په خپل سرو ودانو شوو او غیر معیاري سیمو کې ژوند کوي. له دغو ښاري اوسیدونکو څخه ډېری یې د کورنیو اړتیاوو پوره کولو لپاره پر ځمکې لاندې اوبو متکي دي، چې د ځمکې لاندې اوبو خالي کېدو لامل ګرځي. نو د ښاري نفوس زیان منونو راکمول به په راتلونکې کې زیات تمرکز ته اړتیا ولري. د اقلیم بدلون پر وړاندې د ښاري انعطاف منې په جوړولو کې لاندیني موارد شامل دي:

- د اقلیم پر وړاندې د ښاري پلان جوړولو چوکاټونو سمون د اقلیم بدلون متوقعه اغېزو د ګواښ او زیان منتو تحلیل پر بنسټ، فرصتونو باندې پر تمرکز لکه په ښاري سیمو کې د کلیوالي سیمو په پرتله اوبو ته د کورنیو لږه اړتیا، او د ښاري متراکمو سیمو اغېزمنه پراختیا.
- د ګواښ (په ځانګړې توګه سېلابونو) له ګواښ سره مخ سیمو د پېژندلو په موخه د ځمکې کارولو پلان پلي کول او له ګواښ سره مخ سیمو لکه د سیندونو په غاړو او د اوبو دایمي او موسمي ډنډونو ته نیږدې د ښاري بیخ بنسټونو (کورونو) له جوړولو څخه مخنیوی.
- د باران اوبو د زېرمه کولو، ځمکې لاندې اوبو تغذیې، د آبګیره وو نرمولو، ښاري EbA، د ښاري سیمو زرغونولو او د اوبو ذخیره کولو بیخ بنسټونو جوړولو او همدا رنګه د اوبو ویش شبکو ښه کولو له لارې د ځمکې پر مخ او له ځمکې لاندې اوبو شتون زیاتول.
- د اوبو کورنیو او صنعتي لګښت کوونکو ته د څېرکو تعرفو لګولو له لارې د اوبو په لګښت کې د سپما، له نل لیکو څخه د اوبو د بېځایه تللو د مخنیوي پروګرامونه، د اوبو د ذخیره کولو او لېږد بیخ بنسټونو جوړول، د اوبو ساتلو وسایلو لکه (د لږو اوبو پرېښودونکو شیر دهنونو) برابرول او ښاري وګړو، صنعتي او نورو لګښت کوونکو ته د اوبو په لګښت کې د سپما په اړه عامه پوهاوی.
- د ناولو اوبو مدیریت ښه کول او د باران اوبو ایستل، د ښښلو اوبو ناولتیا مخنیوی، د ناولو اوبو بیا کارولو او ریسایکل کولو ته هڅول، په ځانګړې توګه په صنعتي سکټور کې ترڅو له شته ځاګانو څخه د اوبو را ایستل کم شي.
- د ودانیو لپاره له اقلیم سره د سازګارو کوډونو نوي او پلي کول، شته جوړښتونه باید بیا ترمیم او په نوو جوړېدونکو هغه کې باید دا کوډونه په پام کې ونیول شي تر څو د اقلیم پر وړاندې انعطاف منونکي جوړښتونه لکه د بام په سر د اوبو ذخیره کول، له سېلاب څخه ساتنه او د اوبو سپما آلات په لازمي ډول شامل کړي.
- شته عامه بیخ بنسټونو لکه (ټرانسپورټ، انرژۍ او نورو) ته وده ورکول او ډاډ ترلاسه کول چې د ټولو دغه بیخ بنسټونه په ډیزاین کې د بدلونونو له لارې د اقلیم پر وړاندې انعطاف منونکي او د اقلیم بدلون متوقعه اغېزو په وړاندې مقاومت کولی شي.

130. Ellis, P. & Roberts, M. 2016. Leveraging Urbanization in South Asia: Managing Spatial Transformation for Prosperity and Livability. World Bank.
131. City Mayors. 2020. The world's fastest growing cities and urban areas from 2006 to 2020.

- **د روغتیا سکټور لپاره سازګاري**

په داسې حال کې چې په افغانستان کې له تاریخي پلوه پر روغتیا باندې د اقلیم بدلون اغېزو ته لږه پاملرنه شوې ده، خو د اقلیم مخ په زیاتېدونکو اغېزو سره به ښايي چې د دې موضوع ارزښت لا ډېر شي. په ځانګړې توګه، د تودوخې درجې زیاتېدو او د اورښت بنې بدلون اغېزې کیدای شي چې د ساري ناروغیو شمېر او په خپریدلو کې یې زیاتوالی راولي چې اوسمهال، د ژمي د تودوخې ټیټې درجې له امله چې د هېواد ډېری برخې لاندې کوي، په ټول افغانستان کې محدود جغرافیايي وېش لري.

برسېره پردې، داسې انګېرل کېږي چې د تودوخې څپې او پر اوبو فشار به هم خپلې اغېزې ولري، په ځانګړې توګه پر پاخه عمر کسانو او نورو زیان منونکو ګروپونو باندې. خوارځواکي هم کیدای شي چې د ټیټې کچې کرنیزو حاصلاتو له امله د خوړو خوندیتوب اغېزمن کړي. په داسې حال کې چې د افغانستان په زیاترو برخو کې دغه ستونزې لا له وړاندې شتون لري، خو ډېر احتمال شته چې په راتلونکې کې دغه ستونزه لا ډېره پراخه او زیاته شي. دا کار به د اوسنیو کړنو خپلولو ته اړتیا ولري ترڅو له دغو اغېزو، تر ممکنه حده پورې مخنیوی، او همدا رنګه عامه روغتیايي اندېښنو ته د رسیدګۍ په موخه د ځواب ویلو کړنې غښتلې کړل شي. د اقلیم بدلون راتلونکو شرایطو لاندې د انساني روغتیا ښه والي لپاره لومړیتوب لرونکې کړنې په لاندې ډول دي:

- په ټول هېواد کې د یوې اغېز ارزونې پروسې له لارې پر انساني روغتیا باندې د اقلیم بدلون احتمالي اغېزو په اړه د پوهې زیاتول چې د انساني روغتیا اوسنۍ او را تلونکې اندېښنې د اقلیم پېژندنې ځمونو جوړولو پر بنسټ د اقلیم بدلون له راتلونکو اغېزو سره تښلوي.
- پر انساني روغتیا باندې د اقلیم بدلون اغېزو لپاره د له وړاندې خبراوي سیستمونو را منځته کول ترڅو له اوبو، خوړو او د ساري ناروغیو لېږدونکو څخه رامنځته شوې ناروغۍ د تودوخې بدلیدونکو درجو او د اورښت بنو بدلون پر بنسټ په هر کال او موسم کې وړاندوینه او څارنه وکړي (د اقلیم څار سیستمونو برخې ته مراجعه وکړئ).
- د ښشلو اوبو له ناولي کېدو څخه د مخنیوي او له اوبو څخه راولاړو او پر اوبو متکي ساري ناروغیو لېږدونکو د مخنیوي او کنټرول په موخه د ناولو اوبو او د باران اوبو غوره مدیریت.
- روغتیايي کار کوونکو ته د هغو ناروغیو په اړه روزنه ورکول چې احتمال لري د اقلیم بدلون راتلونکو شرایطو لاندې زیاتې خپرې شي ترڅو روغتیايي کارکوونکي وکولای شي له وړاندې یې تشخیص او علاج وکړي په ځانګړې توګه په هغو سیمو کې چې دغسې ناروغیو پخوا شتون نه درلود او روغتیايي کارکوونکي د ناروغۍ له اړوندو نښو سره لږه آشنایي لري.
- په نوو سیمو کې د ناروغیو خپرېدلو مخنیوي لپاره د مقدماتي کړنو په ګډون د میاشو او نورو ناروغیو لېږدوونکو ترهدف لاندې نیولو سره د حشراتو کنټرول او له منځه وړلو لپاره د یوه کمپاین په لاره اچول، چېرته چې د ناروغیو دغه لېږدوونکو او ناروغیو پخوا شتون نه درلود.
- د ناروغیو د زیاتې احتمالي خپریدنې په هکله د عامه پوهاوي لوړول په هغو سیمو کې چې کیدای شي د اقلیم بدلون راتلونکو شرایطو لاندې په پراخه توګه خپرې شي.
- د تودوخې څپو د اغېزو راکمولو په موخه د سړولو اصلاح شوو سیستمونو بهبودۍ لپاره د کړنو په توګه ودانیزو کوډونو نوي کول.
- په ځانګړې توګه په ماشومانو کې د خوارځواکۍ نښو، پېژندلو په موخه د روغتیايي کارکوونکو روزل ترڅو مینډو ته له زیږون څخه مخکې او وروسته په ماشومانو کې د خوړو لږ خوندیتوب په شرایطو کې د خوارځواکۍ احتمالي نښو په پېژندولو او مخکې له درملنې سره مرسته وکړي.

په افغانستان کې د اقليم پر وړاندې د ښاري سيمو انعطاف منني وړتيا جوړونه په تاريخي لحاظ له ټيټو لومړيتوبونو څخه شمېرل شوې ده. سره له دې، د دغسې پروژو لپاره پخوا د اقليم پانګې څو اړخيزو ميکانېزمونو لکه AF، GEF او GCF لخوا مالي مرستې ورکړل شوې دي. د دغسې پروژو لپاره دوه اړخيزه پانګه ښايي په راتلونکې کې په آسانۍ سره د لاسرسي وړ وي، په ځانګړې توګه چې کله منسجمه او پايښت لرونکې ښاري وده را برسېره او د اقليم بدلون سره د جوړښت لپاره له بېخ بنسټيزو پروژو سره د سازګارۍ په يو ځای کولو باندې تاکيد وشي.

څو اړخيز پراختيايي بانکونه تر ډېره د ټرانسپورټ او د اوبو بېخ بنسټيزو پروژو لپاره لويې پانګې برابروي چې کېدای شي د اقليم بدلون سره د جوړښت لپاره وکارول شي. څکه نو، د اقليم بدلون پر وړاندې ښاري زيان منني ته رسېدنه په غوره توګه هله ممکنه ده چې د جوړښت ځانګړو پروژو ترکيب له لارې دغو اغېزو ته د رسېدنې لپاره اقليم بدلون د سکټور په شته او نوو پروژو کې په اغېزمنه توګه شامل کړل شي.

څرنګه چې د روغتيا په سکټور کې د اقليم له بدلون سره جوړښت د روغتيا په سکټور کې يو نوی بحث دی (په ځانګړې توګه په افغانستان کې طبيعي پېښو او کرنې په برخه کې د جوړښت په پرتله)، دا کړنه به د پروژو او پروګرامونو په رامنځته کولو کې پنځوونکې طريقې اړينې کړي. په پرتليز ډول د ګوتو په شمېر څو پروژې شته چې پر انساني روغتيا د اقليم بدلون پر اغېزو تمرکز کوي، او دا به د مالي مرستو په ترلاسه کولو کې ستونزې رامنځته کړي. نو بنا پر دې، د روغتيا په سکټور کې د اقليم بدلون سره د جوړښت مستقلو پروژو پلي کول په نيږدې راتلونکې کې ناشوني برېښي.

په پايله کې، د نوو او شته پروژو په ډيزاينولو کې، چې پر انساني روغتيا باندې تمرکز کوي، د اقليم بدلون په داوړمنه توګه شاملول به د بسپنه ورکوونکو او نورو ښکېلو خواوو هڅولو ته اړتيا ولري. په داسې حال کې چې په راتلونکې کې له سرچينو لکه GCF څخه به د دې لپاره مالي مرستې د لاسرسي وړ وي، که چېرې د روغتيايي ساتنې بهبودۍ لپاره رواني هڅې په دغو پروژو او پروګرامونو کې د اقليم بدلون سره د جوړښت په شاملولو سره پراخې کړل شي، ښايي چې ډېرې مثبتې اغېزې ولري.

## ۸.  د حل لاره

د پلان جوړولو ملاتړ او د افغانستان د اقليم بدلون سره د جوړښت لومړيتوبونو پلي کولو ته د رسيدګۍ کړنو لپاره يو شمېر اقداماتو ته به اړتيا وي.

### ۸.۱ له لومړيتوبونو سره د مالي مرسته کوونکو ميکانېزمونو سمون

په اوس وخت کې د زرغون اقليم صندوق ته په راتلونکې کې د اقليم بدلون کړنو لپاره د مالي مرستې د يوازينۍ سرچينې په توګه کتل کيږي. سره لدې، د زرغون اقليم صندوق څخه د پروژو د تأييدولو سخته پروسه په دې معنا ده چې هغې ته د اقليم بدلون سره د جوړښت کړنو لپاره د حل لارې او د مالي سرچينو يوازينۍ برابرونکې په توګه باید و نه کتل شي.

په حقيقت کې، له GCF څخه په بريالۍ توګه د مالي مرستو ترلاسه کولو احتمال به په هغه صورت کې ښه شي چې له نورو مالي سرچينو څخه د لومړنيو کارونو ملاتړ لپاره د ګډو ملموسو مالي سرچينو په توګه ګټه واخيستل شي. برسېره پردې، د GCF غوښتنليکونو چمتو کول په عام ډول د پروژې له نظري طرحې څخه د بوديجې تر جاري کېدو پورې تر دوو کالو پورې اوږده موده نيسي. دا په دې معنا ده چې د اقليم بدلون په اړه بېړنيو کړنو لپاره له GCF څخه د مالي مرستو په ترلاسه کولو کې کيدای شي ډېر ځنډ رامنځته شي. د مالي سرچينو له نورو ميکانېزمونو سره د GCF يو ځای کېدل به د کار ژر پيلولو زمينه برابره کړي.

د افغانستان لپاره د GCF د لارې نقشه چمتو کول په دې معنا ده چې د جوړښت ځينو پروګرامونو او پروژو پېژندلو په اړه په زياته اندازه بنسټيز کارونه تر سره شوي دي. په هرصورت، همدارنګه کيدای شي دغه نظريات چې د ورتياوو جوړولو نمونه ای او امتحاني پروژو په رامنځته کولو کې د GCF يوه پروپوزل تر تأييدۍ پورې د نورو مالي سرچينو لپاره د پل په توګه و کارول شي او يا د GCF نوو يا پيشنهاد شوو پروژو لپاره د تکميل کوونکو پنځونو يا شريکې مالي ونډې په توګه عمل وکړي. نو بنا پر دې، تر هغه وخته پورې چې هېواد له GCF څخه په آسانۍ سره د مالي مرستو ترلاسه کولو جوګه کيږي يوه متعادل ليد لوري ته اړتيا ده.

په ټوليز ډول، په زياته کچه مالي مرستې لکه هغه مرستې چې له GCF او MDBs څخه ترلاسه کيږي زياتره د ببخ بنسټيزو او هغو پروژو سره مطابقت لري چې د حجم او محدودې له اړخه ملي پروژې دي. د دې دليل دا دی چې دا ډول پروژې د مطلوب لګښت-ګټې، د کورنيو عايداتو کچې، او نورو اقتصادي ګټو لرلو له کبله چې مالي مرسته ورکوونکي بنسټونه يې د اقليم پانګې جاري کولو لپاره مهم ګڼي، په آسانۍ سره تأييد کيږي. هغه پروژې چې د دې کار لپاره مناسبې دي په ملي کچه د اقليم بدلون لپاره د له وړاندې خبراوي سيستم، د اقليم پر وړاندې انعطاف منونکې ببخ بنسټونه، د اوبو لګولو لوی جوړښتونه او د اوبو ذخيرې او وېش شبکو څخه عبارت دي.

د کوچنۍ او ځايي کچې کړنې او همدارنګه غير ببخ بنسټيزې کړنې د مرستو له نورو څو اړخيزو ميکانېزمونو او همدارنګه په يوه سکټور باندې په ځانګړې تمرکز سره د ځانګړو تمويلوونکو لپاره، ښې مناسبې دي. د بېلګې په توګه د EbA کړنو لپاره ډېر احتمال لري چې د GCF يا MDBS په پرتله د نورو ميکانېزمونو لکه GEF، AF او IKI له لارې مالي مرستې وشي. په ورته ډول، د پيښو د ګواښونو راکمولو او د ټولنې په کچه ځينو نورو کړنو لپاره کيدای شي چې متمرکزه بوديجه د ځانګړو مرستو له ميکانېزمونو او بشردوستانه فعاليتونو څخه، چې کيدای شي د ځايي کچې ګټې وشيې او چيرته چې معلومات لکه د لګښت او ګټې ارزونه په آسانۍ سره د لاسرسي وړ نه وي، ترلاسه شي. د کرنيزو پروژو او پروګرامونو لپاره په بېلابېلو کچو متمرکزه مالي مرسته کيدای شي چې د کرنې ودې لپاره نړيوال صندوق (IFAD) او د کرنې په اړه نورو ځانګړو بنسټونو څخه ترلاسه شي.

د GCF لپاره د لارې نقشې برسېره، د ملي پروژو او پروګرامونو يوه ټولګه بايد جوړه شي تر څو د اقليم بدلون سره د جوړښت لپاره د مالي مرستو څخه د ګټې پورته کولو سمدستي او راتلونکې فرصتونه په ډاګه کړل شي. دا کار بايد د هېواد په کچه ارزونو او سکټور پورې ځانګړو ستراتېژيو او پلانونو پر بنسټ وي په کومو کې چې MDBs لکه نړيوال بانک او د آسيا پراختيايي بانک ځانګړې تجربه لري. له دغو تجربو څخه بايد د اقليمي کړنو په اړه د يوې منسجمې ملي ستراتيژۍ را منځته کولو له لارې د مالي مرستو لپاره د برياليو غوښتنليکونو په جوړولو کې کار واخيستل شي په ځانګړې توګه د افغانستان لومړيتوبونو پلي کولو په موخه چې په NDC کې په ګوته شوي دي.

د رڼو ستراتېژيو لرل چې کومو لومړيتوبونو ته بايد لومړی رسيدګي وشي، د دغو لومړيتوبونو لپاره مالي مرستو جلبول به له مالي مرستو ورکوونکو ميکانېزمونو څخه د مرستو ترلاسه کولو په موخه د منسجمو او همغږو طريقو لامل و ګرځي چې ښايي د اقليم

له پانګې څخه د مالي مرستو په ترلاسه کولو کې زیات بریالیتوبونه لاس ته راشي. د اقلیم اقدام لپاره د هېواد په کچه یو پروګرام به د اقلیم بدلون اغېزو ته د رسیدګۍ په موخه په یوه همغږې شوې طریقه له بېلا بېلو سرچینو څخه د مالي مرستو غوره ترکیب لپاره زمینه برابره کړي، د بېلګې په توګه، د ګډو مالي مرستو ترلاسه کولو او د هغو پروژو پراخولو لپاره چې ځانګړو ستونزو ته د رسیدګۍ لپاره له یوې سرچینې څخه مالي مرستې ورته کافي نه وي.

## ۸.۲ د ملي پلي کوونکو بنسټونو لپاره د اعتبارلیکونو ترلاسه کول

د زرغون اقلیم صندوق او د اقلیم نور څو اړخیز صندوقونه، اقلیمي پانګې ته د مستقیم لاسرسي لپاره د پلي کوونکو بنسټونو اعتبارلیکونه لازمي ګڼي. سره له دې، د دغو اعتبارلیکونو ترلاسه کولو لپاره شرایط په ټولیز ډول ډېرسخت وي. نو له دې کبله، له څواړخیزو سرچینو څخه اقلیمي پانګې ته لاسرسی تر اوسه پورې تر ډېره د نړیوالو پلي کوونکو بنسټونو له لارې شوی دی. که څه هم دا کار ډاډ ورکوي چې د اقلیم بدلون پروګرامونو او پروژو لپاره د پام وړ ملاتړ شتون لري، خو د ملي پلي کوونکو بنسټونو سره کار کولو په پرتله دغه پروسې په عام ډول سره ډېرې ورو دي. نو له دې امله، افغانستان باید د پروژو پلي کولو لپاره د یوه ملي پلي کوونکي بنسټ لپاره د اعتبارلیک د ترلاسه کولو په موخه یادو میکانیزمونو په ځانګړي ډول د زرغون اقلیم صندوق ته ور وپېژني.

هغه اداري چې د اعتبار لیک ترلاسه کولو وړتیا لري کیدای شي چې خصوصي، عامه او یا نا دولتي بنسټونه وي. د اداري ډول ته له پام پرته، دا باید ثابته کړي چې یاد بنسټونه د اقلیم بدلون په کړنو کې د برخه اخیستلو لپاره د تخصصي وړتیا درلودونکې دي. په دې کې باید یادو میکانېزمونو ته د سپارلو لپاره مفصل او د پلي کېدو وړ پروګرامونه یا پروژې شاملې وي، ترجیحاً، باید دوی په تېره کې د دغسې پروګرامونو یا پروژو د پلي کولو تجربه ولري. هغوی باید د اړوندو میکانېزمونو د مالی او امانتدارۍ معیارونو او همدا رنګه په نورو مهمو موضوعاتو لکه اخلاقیاتو، د چاپېریال او ټولنیزو ساتنو او جنسیتي برابروالي لپاره څرګندې پالیسۍ ولري.

په افغانستان کې د نورو مواردو په ترڅ کې، له زرغون اقلیم صندوق سره د اعتبار لیکونو ورکولو لپاره د احتمالي ملي بنسټونو پېژندلو په موخه لومړني ګامونه اخیستل شوي دي. اوس باید نوماند بنسټونه د تأییدۍ لپاره د مالي مرسته ورکوونکو اړوندو میکانېزمونو د غوښتنو سره سم ځان ارزونې پروسې ترسره کړي. په دغو مواردو کې چیرته چې دغه ځان ارزونې وښیي چې یاد بنسټ د اعتبارورکولو لپاره غوښتنې پوره کړې دي، په دې صورت کې کولای شي چې د اعتبارورکولو پروسې اړوند ورپسې ګامونه واخلي.

سره له دې، په افغانستان کې د احتمالي اعتبار ورکړې شوو بنسټونو له خوا ترسره شوې ځان ارزونې به د وړتیاوو او پالیسو له لحاظه تشې په ګوته او مخکې له دې چې تأییدي ترلاسه شي، د یادو تشو ډکولو لپاره به هڅې ترسره کړي. یاد بنسټونه به د خپلو وړتیاوو لوړولو، اړینو معیارونو پوره کولو او د اړتیا وړ سیسټمونو را منځته کولو لپاره باید له افغان حکومت او نورو څو اړخیزو پراختیایي شریکانو سره نیږدې کار وکړي. دا موخه به د اقلیم بدلون په روانو او نوو پروګرامونو او پروژو کې د وړتیا لوړولو پروګرامونو په پام کې نیولو له لارې په ښه ډول ترلاسه شي. د بېلګې په توګه، یوې ملي ادارې ته اعتبار لیک ورکول کیدای شي چې د اقلیم بدلون سره د جوړښت د یوې کوچنۍ پروژې د لاسته راوړنې په ډول په پام کې ونیول شي په دې وړاندوینه چې له تأییدۍ وروسته به په راتلونکې کې وکولای شي له دغه ادارې څخه د دغسې پروژو لپاره د مستقیم غوښتنونکي په ډول کار واخلي.

## ۸.۳ د ملي بنسټونو وړتیاوو لوړول

په اوږد مهال کې، د ملي بنسټونو لکه اړوندو وزارتونو وړتیا لوړولو ته اړتیا ده ترڅو مالي مرستو ته مستقیم او یا د نړیوالو پلي کوونکو بنسټونو له لارې د لاسرسي په موخه په بریالي ډول د غوښتنلیکونو په چمتو کولو کې مرسته وکړي. بنسټیزه وړتیا جوړونه په ځانګړي توګه د چاپېریال ساتنې ملي ادارې په دننه کې چې د څو اړخیزو مالي مکانیزمونو لپاره د تماس مرجع ده به له دغو میکانېزمونو سره د تعامل لا ښه والي لامل وګرځي او د سپارل شوو غوښتنلیکونو بریالیتوب احتمال به هم زیات کړي.

د وزارتونو ترمنځ غوره همغږي به د اقلیمي کړنو لومړیتوبونو په هکله د اړوندو سکټورونو له بېلابېلو برخو سره ډېره مرسته وکړي. دا کار کولای شي چې اړوندو وزارتونو ته ډېر معلومات چمتو کړي ترڅو له مالي مرسته ورکوونکو سره په تعامل کې ملي لومړیتوبونه په ښه ډول وړاندې کړي او په پایله کې به د مالي میکانېزمونو سره اړیکې ښې او یادو میکانېزمونو ته د سپارل شوو غوښتنلیکونو څرنګوالی به هم ښه شي.

د تخنیکي وړتیاوو پر غښتلي کولو باندې کار به د مالي مرستو لپاره د غوښتنلیکونو کیفیت لوړ او په پایله کې د مالي مرستو په بریالي ډول منظور کېدلو احتمال به هم زیات کړي. د اقلیم بدلون په هکله کره او تفصیلي رپوټونه او توجیهات باید د لوړو کچو پالیسي جوړوونکو او پرېکړه نیوونکو لپاره برابر کړل شي، په ځانګړې توګه د اقلیم بدلون او ملي لومړیتوب لرونکو موضوعاتو ترمنځ اړیکې لکه تلپاتې پراختیا، د سولې تامین او د بېوزلۍ راکمول، باید په ګوته کړل شي. دا به پالیسي جوړوونکي قادر کړي ترڅو د اقلیم بدلون د یوې ملي اهمیت لرونکې مسئلې په توګه په پالیسو، ستراتېژیو او پلانونو کې شامل کړي، له دې موخې سره چې د اقلیم بدلون کړنې د اړوندو سکتورونو په ټولو جاري او راتلونکو پروګرامونو او پروژو کې په بریالي ډول ځای پر ځای شي.

په ورته ډول د بسپنه ورکوونکو هڅول باید په دوه اړخیزو او د رسمي مالي مرستو په نورو سرچینو کې د هېواد په دننه او همدا رنګه په نړیواله کچه ترسره شي. دا کار به بسپنه ورکوونکي د ټولنیزو- اقتصادي موخو ترلاسه کولو لپاره د اقلیم بدلون ارزښت په باوري ډول تشخیص کړي او د اقلیم بدلون روانو پروژو او پروګرامونو ته چې د بسپنه ورکوونکو له خوا په لاره اچول شوې دي د اضافي پانګې برابرولو احتمال زیات کړي.

په وزارتونو او دولتي ادارو کې د تخنیکي پرسونل لپاره د اقلیم مالي سرچینو، په ځانګړې توګه د څو اړخیزو مالي میکانېزمونو لکه نړیوالو چاپېریالي آسانتیاوو، د سازګارۍ صندوق او د زرغون اقلیم صندوق ته لاسرسي په اړه باید هدف منده روزنه برابره کړل شي. سره له دې چې دولتي کارکوونکي اوسمهال د دوديزو او بشردوستانه کړنو په هکله د مرستو بېلابېلو مالي سرچینو ته د لاسرسي تجربې لري، خو د اقلیمي کړنو لپاره د غوښتنلیکونو چمتو کول ځانګړې ژبې او تخصصي لیکنو ته اړتیا لري ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې ننګونې او حل لارې یې په څرګند ډول د اقلیم بدلون ننګونو او حل لارو په توګه په ګوته کړې دي. د دې کار دلیل دا دی چې د مالي مرستو څو اړخیز میکانېزمونه، د اقلیمي اغېزو سربېره د دې کړنو د ټولنیزو – اقتصادي اغېزو په اړه څرګند او روښانه معلومات اړین بولي.

همدارنګه روزنه باید هغه اړخونه را ونغاړي چې د مالي مرستو غوښتنلیکونو لکه د معمول او جوړښت بدیلو سناریوګانو، د اضافي مرستو ښودلو، د پایلو چوکاټونو طرح کولو، د عملیاتو او د ساتلو پلانونو، او د بسپنه ورکوونکو معیارونو او لومړیتوبونو پوره کولو لپاره مهم دي.

دولتي کارکوونکو ته له تخنیکي روزنې ورکولو برسېره، هڅوی باید د نوو غوښتنلیکونو په چمتو کولو کې برخه واخلي په دې موخه چې د "عملي کار په ترسره کولو سره د زده کړې" طریقې له لارې خپلو وړتیاوو ته وده ورکړي تر څو په راتلونکې کې وکولای شي چې د غوښتنلیکونو چمتو کول، په ځانګړې توګه کله چې یوه ملي پلې کوونکې اداره اعتبار لیک ترلاسه کړي، رهبري کړي.



UN environment programme

gef